چې ثنا لیکم، د محمد (ص) پکې خبره راشي
ګرځم په کاڼو کې په لاس مې ملغلره راشي
زما پر زړه باندې ستا نوم لکه ورېښمه ولګي
زما پر ژبه ستا درود لکه شکره راشي

[درویش دراني]

# اَلمُزَمِّل

## ﴿حمدونه او نعتونه﴾

**ترتیب او ټولونه:**

**محمد نعیم "افغان"**

د چاپ ټول حقوق په خپرندویه ټولنه اړه لري!

## د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم: ..................... المزمل (حمدونه او نعتونه)

لیکوال: ................................. بېلابېل شاعران

ترتیب او ټولونه: ....................... محمد نعیم افغان

خپرندوی: ........... د سپیني ادبي کلتوري ټولنه- هرات

کمپوز: ................................ تېمورشاه یوسفزی

بیا کتنه: .................... عادل اڅکزی او وصیل پېروز

د چاپ کال: ............................ ۱۳۸۹ ش- ۲۰۱۱ ع

د چاپ شمېر: ............................ (۱۰۰۰) زر ټوکه

د خپرونو لړ: ....................................... ﴿۱﴾

بیه: ........................................ (۱۲۰)افغانۍ

چاپ چاري، صفحه آرايي، اهتمام او د ټايټل طرحه صحاف نشراتي مؤسسه



اړیکي

**Naeem_afghan۲۰۰۲@yahoo.com**

**morchal@msn.com**

ویب پاڼه

www.hariwa.com

ګرځنده شمېرې

**۰۰۹۳-۷۰۳۰۴۷۲۰۳**

**۰۰۹۲-۳۰۰۳۸۴۷۵۱۵**

بسم الله الرحمن الرحیم

**ډالۍ:**

له رسول اللهﷺ سره هر رشتيني مينه درلودونکي
مسلمان ته!

# سرليکونه


| مخ | سرليک | شمېره |
|---|---|---|
| ۱۱ | ثو مقدماتي خبري.................................. | ❖ |
| | ﴿الف﴾ | |
| ۱۷ | اجمل "اند"....................................... | ۱. |
| ۲۱ | اجمل "جماليار" ................................ | ۲. |
| ۲۲ | احمد سعيد "وصال" ............................ | ۳. |
| ۲٦ | احمد ګل "ريان" ................................ | ۴. |
| ۲۷ | احمد "فاني"....................................... | ۵. |
| ۳۰ | اخترمحمد "خادم" ............................... | ٦. |
| ۳۴ | استاد حبيب الله "رفيع" ........................ | ۷. |
| ۳٦ | امان الله" امان" ................................. | ۸. |
| ۳۷ | "اندړ" ........................................... | ۹. |
| | ﴿ب﴾ | |
| ۳۹ | بشرمل "ناصر" ................................. | ۱۰. |
| ۴۰ | بهايي جان آغا ................................... | ۱۱. |

﴿پ﴾

۱۲. پیرمحمد "کاروان" ................................ ۴۴

﴿ح﴾

۱۳. حاجي غلام نبي "سعید" ......................... ۵۲

۱۴. حاجي محمد امین .............................. ۵۵

۱۵. حاجي محمد "اواب" ............................. ۵٦

۱٦. حافظ رحمت "نیازی" ........................... ۵۷

۱۷. حافظ میرک "افکاري" .......................... ۵۹

۱۸. حبیب الرحمٰن "تاثیر" ........................... ٦۱

۱۹. حبیب الله "قلم مل" ............................ ٦۲

۲۰. حضرت علي "اڅکزی" ........................... ٦۴

۲۱. حیات الله "لاروی" ............................. ٦۵

۲۲. حیات الله "څرک" ............................. ٦٦

﴿خ﴾

۲۳. خالد "هادي" ................................. ٦۸

﴿د﴾

۲۴. درویش "خوندی" ............................... ۷۰

۲۵. درویش "درانی" ............................... ۷٦

۲٦. دلاور "پردېس" ............................... ۷۹

۲۷. دلاورخان "دلاور" .............................. ۸۰

﴿ر﴾

۲۸. رحیمه "پښتونجار" ............................. ۸۳

۲۹. رفیع الله "روښن" .............................. ۸۴

۳۰. روح الامین "امیني" ............................ ۸۵

﴿س﴾


٣١. سراج الحق "سراج" ............................ ٨٦
٣٢. سرفراز ............................................ ٨٧
٣٣. سليمان شاه "صوفي زاده" ......................... ٨٩
٣٤. سميره "کوچۍ" ................................... ٩١
٣٥. سميع الله "ساپی" ................................ ٩۴
٣٦. سيداحسان الله" الهام" ............................ ٩٦
٣٧. سيدمحمد "محمودي" .............................. ١٠٠
٣٨. سيدمسعود آغا "هاشمي" .......................... ١٠٢
٣٩. سيدنادرشاه آغا "شهيدي" .......................... ١٠٣


﴿ش﴾


۴٠. شهيدعبدالبصير "عبرت" ........................... ١٠٥
۴١. "شهيم" کاکړ او رحمت "زلمی" ..................... ١٠٦
۴٢. شفيق العالم "معذوريار" ............................ ١١٠
۴٣. شيرين آغا "جهانګير" ............................. ١١٢


﴿ص﴾


۴۴. صاحبزاده خپلواک "وطنيار" ......................... ١١٣


﴿ط﴾


۴٥. طالب "منګل" ...................................... ١١٥


﴿ع﴾


۴٦. عادل "اڅکزی" ..................................... ١١٧
۴٧. عبدالاحد "حماد" ................................... ١٢١
۴٨. عبدالباري "جهاني" ................................. ١٢٥

۴۹. عبدالباسط "وارث زوی" ........................ ۱۳۴

۵۰. عبدالرازق "حقیار" ............................. ۱۳۵

۵۱. عبدالرحیم "مسلم دوست" ........................ ۱۳۶

۵۲. عبدالرشید "مخلص" ............................ ۱۴۳

۵۳. عبدالغفار "مظلوم جان" ........................... ۱۴۵

۵۴. عبدالغفور "لېوال" .............................. ۱۴۸

۵۵. عبدالقادر "مفتون" .............................. ۱۵۱

۵۶. عبدالقیوم "مینه وال" ............................ ۱۵۴

۵۷. عبدالله "ستوری" ................................ ۱۵۶

۵۸. عبدالمالک "عاطف" ............................ ۱۶۳

۵۹. عبدالنافع "ثنا" .................................. ۱۶۷

۶۰. عبدالهادي "عمري" ............................. ۱۶۸

۶۱. عبدالوکیل "متین" .............................. ۱۷۶

۶۲. عزت الله "اکبري" .............................. ۱۷۹

۶۳. عنایت الله "خاکیار" ............................ ۱۸۰

﴿ف﴾

۶۴. فضل هادي "فضلیار" ............................ ۱۸۱

﴿ق﴾

۶۵. قاري جمال الدین "مسافر" ....................... ۱۸۳

۶۶. قاري عبدالستار "سعید" .......................... ۱۸۶

۶۷. قاري فضل الدین "سراجي" ....................... ۱۹۴

۶۸. قاسم "ابدال" .................................... ۱۹۶

۶۹. قدرت الله "لېوال" ................................ ۱۹۷

﴿گ﴾

۷۰. گل آغا "احمدي" وردګ ........................ ۱۹۹

﴿ل﴾

۷۱. لطف الله "مشعل"................................ ۲۰۳

﴿م﴾

۷۲. محمد آصف "فدايي" ............................ ۲۰۵

۷۳. محمد داؤد "فيصل" ............................ ۲۰۷

۷۴. محمد شفيق "حقپال"............................ ۲۰۸

۷۵. محمد عزيز "تحريک" ........................... ۲۱۰

۷۶. محمدعيسیٰ "غريب"............................ ۲۱٦

۷۷. محمداسماعيل "شريعتيار" ..................... ۲۲۲

۷۸. محمدالدين "همدرد" ............................ ۲۲۴

۷۹. محمدالله "کمال" ................................ ۲۲۵

۸۰. محمد اياز "ملنګيار" ............................ ۲۲۹

۸۱. محمدتميم "عزيزي" ............................ ۲۳۱

۸۲. محمدحسن "حقيار"............................. ۲۳۳

۸۳. محمدکريم "امين" ............................... ۲۳۷

۸۴. محمدنايب "احمدي" ............................ ۲۳۸

۸۵. محمدنبي "اُميد"................................. ۲۳۹

۸٦. محمدنعيم "افغان" .............................. ۲۴۱

۸۷. ملاعبدالصمد "بېوس" .......................... ۲۴۲

۸۸. مولوي احمدشاه "حقوقي"........................ ۲۴۴

۸۹. مولوي خالص "نبي خېل" ........................ ۲۵۰

۹۰. میرویس "ملگری" ................................ ۲۵۸

۹۱. مینه "انتظار" ..................................... ۲۶۱

﴿ن﴾

۹۲. نذیراحمد "سهار" ................................. ۲۶۲

۹۳. نقیب الله "دلسوز، حقاني" ........................ ۲۶۳

۹۴. نقیب الله "حقمل" ................................ ۲۶۵

۹۵. ننګیالی "بڅرکی" ................................ ۲۶۸

۹۶. نوراجان "بهیر" .................................. ۲۷۰

۹۷. نوراحمد "فطرت" ................................ ۲۷۳

۹۸. نورالباري "افغانمل" .............................. ۲۷۸

﴿و﴾

۹۹. واصل "حسنیار" ................................. ۲۷۹


۞ ۞ ۞

# څو مقدماتي خبري

وړاندي تر دې چي د کتاب د ټولولو پر جريان، د دې کار د کولو پر انګېزه او نورو تفصيلاتو خبري وکړو ښه به داوي چي لومړی حمد او نعت وپېژنو.

**حمد:** يوه عربي کلمه ده چي لفظي ترجمه يې ده ثنا، صفت او ستاينه، په اصطلاح کي زموږ د سيمه ييز شعري دود له مخي هغه شعر ته حمد ويل کېږي چي د الله ﷻ د ذات، صفاتو او بېلابېلو فعلي ځانګړتياوو په ستاينه کي ويل سوی وي.

**نعت:** هم يو عربي لفظ دی چي د لغت له مخي د ستايني، صفت او مدحي په معنا دی او زموږ په شعري اصطلاح کي هغو اشعارو ته ويل کېږي چي د رسول الله ﷺ مدحه او صفت پکي سوی وي.

د حمد د کره تاريخ په اړه سړی څه نه سي ويلای خو دومره څرګنده ده چي د حمد ويلو او ليکلو تاريخ خورا لرغونی دی چي د شعر د نورو ډولونو په څېر به يې د زمانې په پراخه غېږ کي له هر عصر سره سمه وده کړې وي، بدلون به پکښي راغلی وي، نوښتونه به پکښي سوي وي او دا بهير لا هم دوام لري.

پاته سو نعت: نو د دې شعري ډول تاريخ هم د اسلام د پيل زمانې ته رسېږي که نبوي احاديث، سيرت او اسلامي تاريخ مطالعه کړو نو راته څرګنده به سي چي د رسول الله ﷺ په ستاينه کي د شعر ويلو دود د اسلام له بېخي ابتداء سره تړاو لري د بيلګي په ډول کله چي رسول الله ﷺ

له مکې څخه مدينې ته د هجرت په تکل ووت هلته په رسېدو د مدينې ورو نجونو او ماشومانو رسول الله ﷺ د دې ورکي ښارګوټي په کوڅو کي په دې شعرونو بدرګه کړ:

طَلَعَ الْبَدْرُ عَلَيْنَا　　مِنْ ثَنِيَّاتِ الْوِدَاعِ
وَجَبَ الشُّكْرُ عَلَيْنَا　　مَا دَعَا لِلّٰهِ دَاعِ
اَيُّهَا الْمَبْعُوْثُ فِيْنَا　　جِئْتَ بِالْاَمْرِ الْمُطَاعِ

**ژباړه**: د جنوب له غرونو (ثنيات الوداع) څخه پر موږ د څورلسم سپوږمۍ را وختله، پر موږ تر هغو د الله ﷻ شکر واجب دی څو بلونکی د الله ﷻ لور ته بلنه کوي، ای موږ ته را لېږل سوې! ستا د حکم اطاعت فرض دی.

له کومه وخته چي ما د شعر، شاعرۍ او شاعر له نومونو سره آشنايي پيدا کړې او د اوسنۍ نړۍ له پرمختلليو مطبوعاتي وسائلو سره بلد سوی يم نو زما څه ناڅه مطالعه او بوختيا په همدې شعر کي ده کله يو ګوډ مات شعر ليکم او کله مي د بېلابېلو شاعرانو مجموعې په لاس کي وي او په کتلو يې بوخت يم. له ما سره د ګڼو شاعرانو ټولګي سته چي يا مي بشپړي او يا ډېري مطالعه کړي دي . پردې مهال چي د پښتو شاعرۍ په بڼ کي ما د کوم څه شي تشه احساس کړه هغه د حمديه او نعتيه ګلبوټو د خوږو وږمو زړه وړونکې خوشبويي وه له همدې ځايه دا شعور راسره پيدا سو چي بايد په دې اړه هم ګامونه واخيستل سي، پښتو شاعري چي اوس مهال د شعري اقسامو په بېلابېلو څانګو کي څومره پرمختګ کړی دا د خوښۍ ځای دی خو د حمد او نعت ذکر يې په هر لحاظ خورا وروسته پاته دی.

که د پښتو شاعرانو مجموعې وګورئ نو په ډېرو کي خو به حمد او نعت

يا نه وي او که وي هم نو د يو نېک پال يا تبرک په توګه به يې په سرکي يو حمد او يو نعت راوړی وي نه پوهېږم چې د شعر له دې قسم سره خلک ولې مينه نه لري؟ له حمد او نعت سره د پښتنو شاعرانو دا يو اړخيز سلوک ښيي چې د شعر دې دوو څانګو ته خپل حق نه دی ورکول سوی، داسي ښکاري چې زموږ شاعران د شعر په دې ډولونو کي هغه وړتيا نهويني چې د يو شاعر د مشاعرو احساس، د عواطفو تلوسه، د خيال هنري انځورونه او شعري ښکلا تحمل کړي له همدې کبله يې ارزښت او اهميت هم کم دی بلکه د دوی له تعامله سړی داسي احساسوي چې ګواکي دا دوه اقسام له سره د شعر له فن سره اړيکي نه لري.

بل لور ته که د عربي، فارسي او اردو شاعري مطالعه کړو نو هلته د نورو پر مختګونو او نوښتونو سره جوخت حمد او نعت هم خورا پرمختګ کړی، د دې ژبو شاعرانو هغو ته د شعر د څانګو په توګه کتلي په هماغه ډول يې پاللي او په دې لار کي يې هغومره خواري کښلې څومره چې يې په نورو څانګو کي کښلې ده.

همدې حالت، خپلي شخصي تلوسې او د ملګرو تشويق باعث سو چې د حمد او نعت ديوې ټولګي ترتيب او ټولولو ته ملاوتړم او هوډ مي وکړ چې د لوی الله ﷻ په مرسته به د يو ښه پيل په توګه لومړی په خپله ګام اخلم هيله مي درلوده چې د خپلو مسلمانو پښتنو شاعرانو په مټ به ډېر ژر وتوانېږم چې پر حمدونو او نعتونو مشتمله يوه منتخبه ټولګه په لږ وخت کي چمتو کړم خو خبر نه وم چې دا لاره خورا لوی ګړنګونه، کړلېچونه او پېچومي لري.

کله چې د ارادې له نړۍ د عمل ډګر ته راغلم نو لومړی مي په ګڼو

انټرنيټ پاڼو کي د حمدونو او نعتيه شعرونو غوښتنه وکړه، له ملګرو مي وغوښتل چي د اسلامي او ملي خدمت له مخې په دې فرهنګي جهاد کي راسره ونډه واخلي خو دې مورچل سرتېري نه درلودل او تر ډېره وخته له ځو کسانو پرته هيچا د قرباني ډګر ته راونه دانګل له ګڼو ملګرو سره مي په مختلفو وسيلو اړيکي ونيوې د مرستي غوښتنه مي ترې وکړه او ډېرو يې ژمني هم راسره وکړې خو د وخت په تېرېدو به يې خبره نن سبا ته ټالوله بالآخره به يې په يوه پلمه ځان راځخه خلاص کړ آن داسي هم سوي چي په ساعتو ساعتونو مي له يو شاعر سره د ټليفون پر ليکه خبري کړي او له هغه مي صرف د يو ، دوه شعرونو غوښتنه کړې خو هغه بيا هم راسره همکاري کړې نه ده . د مالي زيان تر څنګ مي ژور رواني خپګان هم احساس کړی کله کله به مي هوډ متزلزل سو او له ځان سره به مي ويل ياره له دې کاره نور پر شا سه په دې ټولنه کي په هيڅ شي کي له هيچا د همکارۍ تمه نه سي کېدای مګر له دې ټولو ناخوالو سره سره مي بيا هم په نه زړه پيل کړی کار جاري وساته چي د شاوخوا شپږو مياشتو په ترڅ کي وتوانېدم څو له مختلفو ملګرو څخه شعرونه راټول کړم او ستاسو لاس ته د دې (المزمل) ټولګې په رسولو برياله سوم.

له ستونزو سره سره داسي ملګري هم ول چي د ناخوالو په دې بهير کي يې په ورين تندي راسره ملګرتيا کړې، زما هره غوښتنه يې د زړه له تله منلې او زما تاند ارمان يې د ناهيليو په سمندرکي لاهو کېدو ته خوشي نه کړ د دې قربانۍ اتلان ډېر دي خو د ښاغلي عبدالله ستوري او عبدالهادي عمري تر څنګ د هغو ټولو ملګرو څخه د زړه له تله مننه کوم چي په دې کار کي يې په خلاص مټ راسره مرسته وکړه زه يې و هڅولم او زما لوېدلې

حوصله يې په خپله مخلصه همکارۍ نوره هم لوړه کړه کور يې ودان، قلم يې تاند او ژوند يې له بريو اوبرکتونو ډک.

موږ له سره داسي پتېلې وه چي د حمدونو او نعتونو ټولول به يو بهير وي چي اوسنۍ (المزمل) ټولگه يې صرف يوه لومړنۍ ازمويښتي برخه ده که الله ﷻ راسره مل وو او موږ معنوي او مادي توان درلود اِن شاءالله په راتلونکي کي به هم دې کار ته دوام ورکوو او کوشش به کوو چي پيل کړی کار مو لا فني، علمي او پياوړی سي. څرنگه چي اوسنۍ ټولگه صرف ازمويښتي بڼه لري، له همدې امله به ممکن تېروتني او کمزورۍ ډېري وي چي د بخښني ترڅنگ له درنو لوستونکو څخه هيله لرو چي د مرستي په توگه يې موږ ته په گوته کړي څو يې د امکان په صورت کي د مخنيوي هڅه وکړو. او له هغو شاعرانو څخه بخښنه غواړو چي موږ يې د حمديه کلامونو په را اخيستلو کي پاته راغلي يو او يا يې موږ ته کلامونه رالېږلي وه خو د نشر څخه پاته سوي دي . همدا راز مو له درنو پوهانو هيله داده چي په راتلونکي کي له موږ سره خپل نظرونه شريک کړي، وړانديزونه را ته وکړي او معقول و سالم نقد وکړي.

**محمدنعيم "افغان"**

**د سپيني ادې ادبي او کلتوري ټولنه**

هرات – افغانستان

۱۵ / مرغومی / ۱۳۸۹لمريز کال

اجمل "اند"

# د نور جلوه

چې د ظلم او وحشت تياره اوږده شوه
د يو نور جلوه مکې نه راخوره شوه

چې انسان د هوسونو تيارو ډوب کړ
نو روښانه د رحمت، يوه ډيوه شوه

تا د مينې پيغام راوړو بشريت ته
او د کرکې پر ماڼيو زلزله شوه

برترې د رنګ او نسل شوله ورکه
چې د تور بلال رض د خوږ غږ انګازه شوه

چې د مينې پيغمبر ﷺ مې په کې ځای کړ
د زړګي ښار مې يثرب و مدينه شوه

۞ ۞ ۞

اجمل "اند"

## پېغمبره ﷺ

ژوند مې ستا ترنامه زار دی پېغمبره! ﷺ
خو يو درد مې پر زړه بار دی پېغمبره! ﷺ

چې نه ستا نه د مولا ﷻ رضا پکې ده
قام روان پر داسې لار دی پېغمبره! ﷺ

سيپارې د ماشومانو له لاس اخلي
يو بدرنګ دلته سردار دی پېغمبره! ﷺ

منارې د جوماتونو را نړېږي
د هر چا په زړه کې ډار دی پېغمبره! ﷺ

څوک يې ستا، څوک يې د کفر په نوم وژني
د قام ژوند مې خوار او زار دی پېغمبره! ﷺ

هر پر هر مې د خپل ورور د خنجر نښه
هر ګوزار مې خپل ګوزار دی پېغمبره! ﷺ

د رڼا لارې له ټولو ځينو ورکې
له تيارو سره مو کار دی پېغمبره! ﷺ

خپل لاسونه مې په خپلو وينو سره دي
عجيبه زما روزګار دی پېغمبره! ﷺ

د پرديو د لښکرو کوربانه دي
که مې کلی که مې ښار دی پېغمبره! ﷺ

د جزا په ورځ مې ته شفاعت وکړې
«**انډ**» خو ډېر زيات ګناهکار دی پېغمبره! ﷺ

۞ ۞ ۞

اجمل "اند"

# مناجات

خدایه! ﷻ ژوند، د شنې چینې په شان راته را وبښه
زړه، دا ستا په عشق باندې ودان راته را وبښه

ټولې وسوسې زما له ذهن څخه پاکې کړه
ای خاونده! ﷻ ډاډ او اطمینان راته را وبښه

دومره ډېرې وېرې مې د زړه له کوټې وباسه
دې سینه کې نور د ټینګ ایمان راته را وبښه

داسې یو امید چې مې دې سترې ژوند ته رنګ ورکړي
خدایه! ﷻ یو سپېڅلی شان ارمان راته را وبښه

ستا د رحمتونو په دربار کې دا دعا کوم
ډېر یمه ناتوانه خدایه! ﷻ توان راته را وبښه

دا د غربت شپې مې ای خالقه! ﷻ ته رالنډې کړه
ژوند پر یو ودان افغانستان راته را وبښه

۞ ۞ ۞

اجمل "جماليار"

# نعت شریف

زړه کې مې تا ته د رتللو تلوسه نڅېږي
د خيال څپه مې ستا پر دنګه منا ره نڅېږي

کاروان د ژوند مي د ګناه په کږلېچو نو سر دی
د شفاعت مي تل پر شونډو زمزمه نڅېږي

لکه شبنم اوري مي تل د زړه د ګل پر پاڼو
د ياد لمن کې مي ګُنبده زرغونه نڅېږي

توبه به دروړم چي درځم ستا د خاطر لپه کي
مديني! سوچ کي مي د استا هره کوڅه نڅېږي

دګناه بحر کي اوس نو ر رانه ساحل ورک شوی
حبيبه(ص)! ستا د نظر کوم ځای جزيره نڅېږي

مديني! خير که «**_جماليار_**» درځني ليري اوسم
مينه دي زما د تن پر هره کناره نڅېږي

۞ ۞ ۞

احمد سعید "وصال"

# حمدشریف

الله لاالـــــــــــه الاالله لــــــــــوی دی الله
مالِک المُلک مالِک الروح، مالِک الکُل دی مولا

هم دی احد، هم دی صمد، هم دی الحی او واحد
هم دی عالم، هم دی عادل، هم دی حاکم د هر ساه

ســما ســما کــرم ســامع دی، د هــردرد او هــرآه
کــور د آدم کــور د حــوا لــره دئ کــور د عطــا

هــره مــاده او هــره ســاه و لحــد و لــره ده
مګــر دی حــی دئ، دی لــو مړی دی، معمرالهُــدا

لــوړ دی لــه ســده، لــوړ لــه درکــه د آدم د اولاد
لوړ دی له درکه، لوړ له سده، د مَلَک او هر ساه

اووه سماوو اوو مځکو او ګرو د سما
سرواک دئ دی د هر مهال او هر موسم د هوا

دا ګرم اور، دا سړه واوره، لوړ هلال او دا لمر
لی د ګرو دا کلک مدار هم اراده دلِله

کله سِوا له لوی سرواکه اداره د ګرو
کله سِواله هسک سرواکه داد عمر معما

سِواله هسکه کله لاره کله سوده د روح
اِسم الهُدا، اِسم الله سوده د دل او اورا

«*وصاله!*» سرځوره، کوګل او هره ساه ځوره که
طمع د رحم وره لمحه لمحه د عمر صدا

۞ ۞ ۞

احمد سعید "وصال"

# سلام سلام

سلام سلام دی، محمد رسول الله سلام دی
مرسل د حی، لمر د سهارا و د ځلا سلام دی

لوی معلم دی د ګمراوو د سالارو دلدار
کور د اصلاح دی د هر دور او هر عصر سردار
سما د حلم او د مِهر کوګل ډک له اِسرار

رحم او کرم د لوی مولا، صدا صدا سلام دی
مرسل د حی، لمر د سهار او د ځلا سلام دی

کلامُ الله عطا عطا و محمد (ص) لره دی
لولاک لولاک سرود سرا و محمد (ص) لره دی
له سده لوړ حال د اسرٰی و محمد (ص) لره دی

د سـرلوړی ځـای دآدم او د حـوا سـلام دی
مرسل د حی، لمر د سهار او د ځلا سلام دی

عالمـه وګـورئ احـوال د محمـد مکـرم!
اووم سـماء هـم ځـوړه لـوړ ګـام د سـردارِ عالم
سـلام سـلام و د ملکـو او سـلام د آدم

لـه سد او درکـه لـوړ واصـل، د الِاللّٰه سـلام دی
مرسل د حی، لمر د سهار او د ځلا سلام دی

د مهـال درد او کـړاوو لـره دارو او درمـل
سرسام، هـوس و سـرو ګـرو لـره د واورو سـاحل
و ورکـو ورکـو کوګلـو لـره ده لار د محـل

«***وصاله !***» درود و کړه محمد (ص) لره اعلی سلام دی
مرسل د حی، لمر د سهار او د ځلا سلام دی

۞ ۞ ۞

احمدګل "ریان"

# نعت شریف

پـــه ټولو مرســـلانو کي دلبر څـــه ښـــه ښـــکارېږي
عاشق زړه څه ښه ښکاري هغه در څه ښه ښکارېږي

کـــه لاړم مـــدینې تـــه نـــا څـــاپي مـــرګ راتـــه راغـــی
پـــه پـــښو کي د سردار بـــه زماسر څه ښه ښکارېږي

یوه شپه راته خوبونو کي حضور که تشریف راوړي
نـــو بیـــا بـــه زمـــا ګنهکار ځګر څـــه ښـــه ښـــکارېږي

څو شپې چې په روضه کي د رحمت باران ته ناست یم
ټول ژوند کي به مي دا ښکلی سفر څه ښه ښکارېږي

ملنګ چې د روضې شي درود سلام یې وظیفه وي
«ریان» تـه به دي لـر څه ښه او بر څه ښه ښکارېږي

۞ ۞ ۞

احمد"فاني"

# د ټول جهان رڼا

چې د نړۍ و روښنايي ته ضرورت سو پيدا
هر پيغمبر به لکه ستوری په نوبت سو پيدا

«احمد فاني» ستوري د ټول جهان رڼا ته نه وه
د ټول جهان رڼا ته لمر غوندي حضرت ﷺ سو پيدا

۞ ۞ ۞

احمد"فاني"

# نعتیه کلام

چي ښه او بد مي پکښي وينمه هنداره لرم
و مخ ته زه د محمد ﷺ دا سپينه لاره لرم

په دې تياره کي ستا خبري دي د ستورو په شان
په دې تياره کي دا رڼاوي تر سهاره لرم

دا د شيطان د وجود برخه ده نفرت تري کوم
په دې خاطر وېره له اور او له انګاره لرم

ستا په نامه له دې بلا وو څخه ځان خلاصوم
په کومه ورځ چي زه غمونه بې شماره لرم

چي محمد ﷺ سره پېيلي د تسپو په ډول
«احمد فاني» د زړه دانه له دغه هاره لرم

۞ ۞ ۞

احمد"فاني"

# مناجات

ژونـــد پـــه محبـــت کـــي ربـــهٔ وشـــمېره
هرڅـــه پـــه جنـــت کـــي ربـــهٔ وشـــمېره

دوی خـــو يـــې ګنـــاه بـــولي د مينـــي ژونـــد
تـــې پـــه عبـــادت کـــي ربـــهٔ وشـــمېره

بـــدو تـــه هـــم نـــه ګـــورو پـــه ســـپک نظـــر
دا هـــم پـــه طاعـــت کـــي ربـــهٔ وشـــمېره

نـــوم يـــو د آدم اولاد ګنـــاه کـــوو
تـــول پـــه معـــذرت کـــي ربـــهٔ وشـــمېره

زړه د ســـوځېدو لـــري«***احمـــدفاني***»
تـــې پـــه شـــفاعت کـــي ربـــهٔ وشـــمېره

اختر محمد "خادم"

# نعت شریف

عجب د ماتم ورځ ده چې جانان مې له مکې ځي
تول غرونه پسې ژاړي قدردان له خپل کوڅې ځي

جانان مې ځورولی د قریشو سردارانو
ظلمونه ستمونه وه پرده د مشرکانو
له ظلم او ستم نه مې سلطان له قریې ځي

و مرګ ته د حبیب ﷺ یې وه جوړ کړي د پرېلانونه
بدبختو بت پرستو سره کړي وه لوظونه
په امر د الله ﷻ ماه تابان د رومې د شپې ځي

راوړی جبرایل(ع) د رب ج له لوري دا پېغامه
چې ووځه له مکې نه اې نبي(ص) آخر زمانه

لــه ډېــره فراقتــه يــې خمــاري ســترګي ســرې ځــي
خبــر يــې پــه کيــسه کــړ اول يار حــضرت صــديقه رضه
چــي وځــو لــه مکــې نــه ځــان تيــار کــه اې رفيقــه
له خولې نه د حبيب ﷺ مي د فراق فراق نارې ځي

لـــه دې غمـــه ژړېـــږي ربـــه ځمکـــه اســـمانونه
احــساس د بېلتانــه کــړي د حــرم غرونــه دښــتونه
«**خادمــه**» دی مــاتم رســول الله ﷺ تــر مــدينې ځــي

۞ ۞ ۞

اختر محمد "خادم"

# نعت شريف

په انبیاوو کي سردار دی د رب ج محبوب دی نازولی نبي (ص)
و تورو شپو ته سپین سهار دی په دواړو کونو کي ښاغلی نبي (ص)

دغه سردار د مرسلانو نازنین پیغمبر (ص)
شفیع د خپلو امتیانو بهترین پیغمبر (ص)
ټوله جهان یې کړی زېبا ځومره حسین پیغمبر (ص)
کمال ورکړی کردګار ج دی طٰهٰ یٰسین سره ستایلي نبي (ص)

د ده په نور سره جهان کي تورتمونه ورک سول
د بربریت او قومیت په نوم جنګونه ورک سول
د وحدت لمر راغی دنیا ته نفاقونه ورک سول
شکېدلی نور د کفر تار دی د رب ج له لوري نه راغلی نبي (ص)

ذره ذره يې کړل بتان د لات، منات او عزا
د هدايت پيغام يې راوړی ګران نبي تر دنيا
نور به سجدې کېږي په نوم د لايزال لا فنا
وحشت خوړلی سخت ګزار دی د کبر جام دی نړولی نبي (ص)

راوړی موږ ته يې قرآن د پاک الله ﷻ له لوري
راغلی رحمت پر "انس" و "جن" د لوی مولا له لوري
وحي راتلې ور ته مدام پاس د سما له لوري
«**خادم**» ته ګران د زړه قرار دی ټولو نبيانو کې منلی نبي (ص)

۞ ۞ ۞

استاد حبيب الله "رفيع"

# نعت شريف

نور د شپې عمر و پای ته رسېدلی
د تيارې په زړه خنجر د رڼا خښ ؤ
هغه لمر په راختو ؤ په جهان کې
چې د ټول کون و مکان د مولا خوښ ؤ

د باطل د ژوند دانه په ختمېدو وه
د حق نور به ځلېده په هره خوا کې
د ظلمونو د ظلمت په خاتمه کې
وه دنيا، و د نظام زيری په دنيا کې

جهالت به محمول لوري ته و په تېښته
علم ځلنده رڼا را خورولـه
د تقدير فيصله شوې وه محکمه
دا نښان د ژوند صحنه يې رونولـه

چې انسان، انسانیت پرې سلامت شي
د سلام او د اسلام د دین آغاز وه
چې شکونه او وهمونه ټول مغلوب کړي
آنرې کې د یو پوخ یقین آغاز وه

چې وراوري برابري انسان ته ورکړي
د یوه داسې پاک آیین مقدمه وه
د ایمان داسې وسله په راوتو وه
چې په ټولو قوتو یې غلبه وه

محمد رسول الله ځکه پیدا شو
چې اوږه ورکړي دې نوي قیادت ته
دی بشیر شو، دی نذیر شو ټول بشر ته
د بشر مخه یې وکړه هدایت ته

درودونه دې پرده د ده پر آل وي
سلامونه استوم د ده امت ته
ژوند یې موږ ته عقیده او هم جهاد کړ
مسلمان ځکه خوښېږي شهادت ته

۞ ۞ ۞

اما ن الله" اما ن"

# حمد شريف

اې خـــالـــق د ګـــل جهانـــه
تـــه عـــالي يـــې علـــي شـــانه

ستـــا کـــرم تـــه تـــول محتـــا ج يـــو
تـــه رحـــيم يـــې پـــاک ســـبحانه

هـــر څـــه ســـتا پـــه امـــر کيـــږي
کـــه ښـــکاره دي کـــه پنهانـــه

د بحرونـــو مالـــک تـــه يـــې
چلـــوې تـــه بـــاد بـــې شـــانه

تـــه عـــالم يـــې تـــل پـــه غيبـــو
اې زمـــونږ غنـــي ســـلطانه

تـــه ســـميع يـــې تـــه بـــصير يـــې
هـــم جميـــل يـــې مهربانـــه

لَـــمْ يَلِـــدْ وَلَـــمْ يُوْلَـــدْ يـــې
پيـــدا نـــه دي څـــوک لـــه تـــا نـــه

۞ ۞ ۞

"اندړ"

# نعت شریف

نسیمه! د سحر روضې ته د سرور (ص)
چې ځې سلام مې وایه پر نبي خیرالبشر (ص)

ورځې چې مدینې ته د ګران حبیب (ص) روضې ته
بیان مې خدای د پاره کړه د خوږ زړګي حالونه
کوم درته سوالونه
په ډېر زیات احترام
بیان کړه دا کلام
درغواړه مې خپل ځان ته کړم هجران د کور کر
په ډېر زاری منت
کړم سوال د شفاعت
اخته په ګناهونو یم له ژونده نور بیزاریم

د مـــرګ پــه انتظـــاريم
اختـــه پـــه ګنـــاهو يـــم
پـــه رنګارنـــګ غمـــو يـــم
اې خـــتم المرســـلينه^(ص)^ پـــه مـــا وکـــړه لـــږ نظـــر
بـــې حـــده ګنهکـــاريـــم
د عفـــــوي طلبګـــــاريم
د صـــبر انتهاده نـــور مـــي ختمـــه حوصـــله ده
بـــس دامـــي فيـــصله ده
مـولا تـه کـوم سـوال چي خلاص شـوم لـه جنجـال
واصـل چـي د روضـې شـم د نبـي^(ص)^ نورالبـصر
د شنې روضې و خوا ته کړه سوال غني مولا ته
د عفـــوي طلبګـــاريـــم زمـــا ډيـــر دي ګناهونـــه
بيـــان مـــي کـــړه حالونـــه
درود ســـــلام آقــــا تــــه
نبـــي^(ص)^ خيرالـــورىٰ تـــه
«**انـدړ**» دي ديـدن غـواړم د ښايـسته ښـکلي بـشر

۞ ۞ ۞

بشرمل "ناصر"

# نعت شريف

پـه کـاڼو بوټـو او ګـلاب کې د جانـا ن ښـکلا وي
دې مقدس ښکلي محراب کې د جانان ښـکلا وي

د اسـما ن سـتوري يې ديدارتـه بدرګـه ولاړ وو
وخته! آفتاب او په مهتـاب کې د جانان ښـکلا وي

يـوه پيغمبر (ع) هم دوعـا کړې وه لـه ښـکلي ربـه ج
چې پـه عُقبا مې پـه حساب کې د جانان ښـکلا وي

د کاينـات حسينه غېږه کې يې رنګ ښـکارېږي
لعل او ګوهر او پـه دريـاب کې د جانان ښـکلا وي

لـه عقيـدې يې «***بشرمله***» پـه رښـتيا ښـکلوم
زما ايماني ښـکلي کتـاب کې د جانان ښـکلا وي

۞ ۞ ۞

بهايي جان آغا

# نعت شريف

محمــد ﷺ لــه دنيــا درومــي جهــان ژاړي
ځمکــه ژاړي، غرونــه ژاړي آســمان ژاړي

ژړوي مرغــان د ونــو پــه ښــاخو کــي
خانــدان د نبــوت پــه ارمــان ژاړي

د حـضرت علـي رض لـه حالـه خبـر مـه شـې
صديق رض ژاړي، عمر رض ژاړي، عثمان رض ژاړي

عايـشه رض چـي معـشوقه د پـاک رسـول ﷺ ده
صــبر نــه لــري پــه آه و فغــان ژاړي

تنهـا نــه دی داســتم پــر اهــل بیتــو
کلــی کــور د مــديني پــه ســوزان ژاړي

خــوراک نــه کــوي اوښــان لــه هــسې غمــه
مــخ وهــي پــه دواړو لاســو بــدوان ژاړي

جبرائيــل(ع) وخــوت لــه درده و اســمان تــه
عزرائيــل(ع) چــي هــم راوړی فرمــان ژاړي

داهمـــه واړه مـــاتم د هاشـــمي(ص) دی
چـــي تـــر اوســـه د چمـــن بلـــبلان ژاړي

دا فـــراق دی و هرچـــا تـــه رســـېدلی
عـــرب ژاړي، عجـــم ژاړي افغـــان ژاړي

ولـــي نـــه کـــوې ژړا «*بـهـــايي جانـــه!*»
مـــديني تـــر خـــاورو لانـــدي يـــاران ژاړي

۞ ۞ ۞

بهايي جان آغا

# نعت شريف

سـنګرېزې د حـرم وايـي محمـد رسـول الله دی
پـه کعبـه کـې صـنم وايـي محمـد رسـول الله دی

عصا وايي ستا په لاس چې خدای ﷻ يو دی ته رسول يې
پورتـه عـرش اعظـم وايـي محمـد رسـول الله دی

ناقه وايي تر تالاندي حضرت سپور دی پر ما باندي
دواړه لـوح قلـم وايـي محمـد رسـول الله دی

کلمـه پـه زوره وايـي د رضـوان د ثمـر پـاڼي
دلتـه مـار و لـړم وايـي محمـد رسـول الله دی

پېريـان وايـي، انـسان وايـي تـه بېـشکه پيغمبـر يـې
عـرب وايـي، عجـم وايـي، محمـد رسـول الله دی

په حرم کي ستنه ژاړي، ستا وصال له خدایه غواړي
کال د فتح زمزم وایي محمد رسول الله دی

سپوږمۍ راغله سرګردانه، ستا ګرځوان ته له آسمانه
ستا په وړاندي هردم وایي محمد رسول الله دی

ستا اولاد «***بهایي جان***» دی، غزل وایي بلبل خوان دی
سپیرو سترګو پرنم وایي محمد رسول الله دی

۞ ۞ ۞

پیر محمد "کاروان"

# حمدیه ترانه

پـــــه آوازیـــــې لاروي ســــــتوري روان دي
د ســــهار مرغـــان پـــه ذکـــر د رحمـــان دي

زړونـــــه زړونـــــه ګلا بونـــــه دي غـــــوړېږي
از انګـــــــــــې را ورېـــــــــدلې د اذان دي

بـــس پـــه غـــاړه یـــې د رب ج د مینـــې لاس دی
نـــه پـــه کـــاریـــې مرغلـــرې نـــه مرجـــان دي

پـــه دیـــدن د ښـــکلي هېڅـــوک نـــه مړېـــږي
د کانونـــــه د آینـــــو ورتـــــه حیـــــران دي

دغــه ونــې چــې ثنــا وايــي، پــه دوی کــې
پـــــه لکونـــــو رحيلونـــــه د قـــــرآن دي

ســـتا لمنـــه ده د مـــور لـــه مينـــې ډکــه
مـــا ليـــدلي موســـيدلي يتيمـــان دي

د «**کـاروان**» د غــزل تــوري بــه ګــل ګــل شــي
لمبـــولي يـــې د اوښـــکو پـــه بـــاران دي

۞ ۞ ۞

پیر محمد "کاروان"

# حمدیه

د ســتورو تنهــۍ تــویېږ د ســحرڅیري ګرېــوان
خــوره پــه غرور غــوکې ازانګــه ده د اذان

قــاري! پــه لــوغړن تــرنم وایــه الــرحمٰن ج
چــې زړونــه لمبــوزن شــي پــه څپــوکې د ایمــان

آخــر بــه پــه لاس درشــي رڼــه تــوره لکــه لمــر
د ســتورو پــه نېــزو وهــه تیــارې د کفرســتان

لــه صــدقه یــوه او ښــکه بــې بهــا ده بــې بهــا
تــر دُر تــر مرغلــرو تــر یــاقوتو تــر مرجــان

بیمــاریمــه بیمــاریمــه بیمــار د بېلتانــه
کــړه جــوړه ذایقــه مــې پــه النخــل و الرمــان

الٰهــي ج را اهــدا کــړې د بلبــل بلالــي غــږ
مــا هم یــو لاروی کــړې د حمــدونو د «کــاروان»

۞ ۞ ۞

پیر محمد ''کاروان''

# د اسلام د پیغمبر محمد ﷺ
# د نېکمرغه مېلاد ډالۍ

ترعرشـه تلـه پـر شـونډو يـې دعـا نـه ځايېـده
پــه زړه د آمِنــې کــې نــن مــسکا نــه ځايېــده

مـيلاد يـې مبـارک شـه محمـد ﷺ هغـه نامـه
پـه درسـته دُنيـاګۍ کـې يـې معنٰـی نـه ځايېـده

د ستورو يـې ديـدن تـه سترګې سپينې تـبنتېدې
سـپوږمۍ هـم پـه جـامو کـې د رڼـا نـه ځايېـده

لــه ترهــې رېږدېـدل لات و منــات و کــه عــزٰی
پــه زړونــو د بتــانو کــې درزا نــه ځايېــده

ګلونــه لــه درانــه خــوب نــه بلبلــو ویــښول
وزرونــو د بلبلــو کــې نڅــا نــه ځایېــده

لــه بــار د برکتــه یــې اوړې خــوړې درنــې
پــه څــانګو د خُرمــاوو کــې خرمــا نــه ځایېــده

د نــشت خواتــه پــه منــډه وه روانــه ورک کېــده
پــه غــره کــې هــم د جهــل اژدهــا نــه ځایېــده

ماشــومې جینکــۍ دې او نــانځکې ودوې
شرنګ شرنګ وو په بنګړو کې یې شرنګا نه ځایېده

ډالۍ مې درته او ښکې کړې د ټول افغانستان
پــه سترګو د «***کــاروان***» کــې نــور ژړا نــه ځایېــده

۞ ۞ ۞

پیر محمد "کاروان"

# په حرم شریف کې
# د ابابیلو دلیدو پر مهال

مستې مې نغمې چې د توحید په زیر و بم کې وای
کاشکې ابابیل وای چې مې ځاله په حرم کې وای

تل دې وای د رب ج د مینانو د رمل طواف
ما ور ته زړه ابنبی په قدم قدم کې وای

ډ کې مې ځولۍ ځولۍ په ټولو مې شیندلې وای
ستا مینه خوره مې په عرب او په عجم کې وای

زړه کې مات اغزی به مې په څانګه ؤ د ګل بدل
ورو به ژړېدلی په لمن د "ملتزم" کې وای

سترې مې ژوندون د هاجرې رض ترا وو منډو دی
پښې د اسمٰعیل ع ارمان مې تاندې په زمزم کې وای

لاس به د بلبل د ترانو رارسېدلی ؤ
ستا «کاروان» به ناست په منځ د ګل او د شبنم کې وای

۞ ۞ ۞

پیر محمد "کاروان"

# د پیغمبر ﷺ د روضې مبارکې د دیدن په یاد

بختــــور تـــر بختـــور و مــــه ځـــو ورځـــې
کلیـــوال د پیغمبـــر (ص) و مــــه ځـــو ورځـــې

زمــــا زړه یـــو بـــې اغزیـــه ســـور ګـــلاب ؤ
زه نــــه زخــــم نــــه خنجــــر و مــــه ځـــو ورځـــې

لــــه کـــوثر او لـــه زمـــزم ســـره پخـــلا وم
بـــس لـــه تنـــدې مـــرور و مـــه ځـــو ورځـــې

پــــه اذان د مـــــدینې مـــــې زړه روښـــــان ؤ
زه لـــه ســتوریو نـــه هـــم بـــر و مـــه ځـــو ورځـــې

د دُنیـــا لـــه پاچهـــانو بـــې پـــروا وم
یـــو فقیـــر او قلنـــدر ومـــه ځـــو ورځـــې

د خپـــل ژونـــد پـــه وچـــه للمـــه کـــې روان وم
پـــه څپـــو وم ســـمندر ومـــه ځـــو ورځـــې

مـا د ښـمن پـه غـشو نـه، پـه ګـلاب ویـشتو
د خـــوږې مینـــې ســـنګر ومـــه ځـــو ورځـــې

لـــه تیـــارو نـــه پـــه «***کـــاروان***» کـــې وم راوتـــی
لاروی د ښـــکلي لمـــر ومـــه ځـــو ورځـــې

۞ ۞ ۞

حاجي غلام نبي "سعيد"

# حمدشریف

کــه آغــاز دی کــه انجــام ســتاپه نامــه
زمانـــه لـــري دوام ســـتاپه نامـــه

نـــه وم نـــه یـــم مـــستحق د نعمتونـــو
را رســـېږي هـــر انعـــام ســـتاپه نامـــه

پـــردې هـــسې نـــاارام دوراو ګـــردون
زړګـــی ومـــومي ارام ســـتاپه نامـــه

پرځـــولي یـــې د وخـــت پهلوانـــان
چـــا چـــي کـــړی دی قیـــام ســـتاپه نامـــه

پـــه هـــر سعیَ د شـــاعرۍ کـــي یـــم «سعيد»
چـــي غـــزل وایـــم مـــدام ســـتاپه نامـــه

۞ ۞ ۞

حاجي غلام نبي "سعيد"

# حمدشريف

کـــه نظـــر پـــردې دنيـــا کوم تـــا ويـــنم
زه چـــې مينـــه د ښـــکلا کـــوم تـــا ويـــنم

د حيـــرت پـــه ســـترګو ګـــورم عالمونـــه
ننـــداره لـــه هـــري خـــوا کـــوم تـــا ويـــنم

د فـــراق د ســـرو لمبـــو، لـــه تونـــده اوره
کـــه بـــې تـــاب يـــم کـــه ژړا کـــوم تـــا ويـــنم

پـــه تيـــارو کـــې د رڼاپـــه تمـــه تمـــه
ســـتا يادونـــه چـــې تنهـــا کـــوم تـــا ويـــنم

نهـــا منـــه يـــې د زړګـــي پـــه محلـــو کـــې
کـــه روا کـــه نـــاروا کـــوم تـــا ويـــنم

د اُميـــد پـــه قـــدمونو در روان يـــم
د اســـرې پـــه لاس دعـــا کـــوم تـــا ويـــنم

۞ ۞ ۞

حاجي غلام نبي "سعيد"

# نعت شریف

ستا لـه راتګـه سره ولاړی تـور خـزان رسـوله(ص)!
سپېرو صحراؤ کي را شنه سوله ګلان رسوله(ص)!

د نـور پـه وړانګـو دي تيـاري د کفـر وركي سـولې
جلـوه د حُسن دي روښـانه کـړ جهـان رسـوله(ص)!

معـصومو نجونـو تـه دي حق د ژوند انـه وبخـښی
د شرک لـه بنده تـا آزاد کـړل انسانان رسـوله(ص)!

پـــه قرآنـــي شـــفا راوکـــړه د دردونـــو عـــلاج
د بې دينی رنځ کي پراتـه يـو رنځوران رسوله(ص)!

نـه هغـه بـرم، نـه عـزت، نـه خپلـوا کي را پاتـه
د هر غليم پـه مقابل کي سوو ناتوان رسوله(ص)!

زمـوږ پـه حق کـي د الله ج پـاک نـه غوښتنه وکـړه
غـواړو د تېري زمـانې شـوکت او شـان رسـوله(ص)!

۞ ۞ ۞

حاجي محمد امين

# نعت شريف

کــه لــه مــا وشــي پرســان محمــدي يمــه
زه همـــدا لـــرم بيـــان محمـــدي يمـــه

چـي پـه لـوی سـفر لـه دې سـرايه روان شـمه
کـــړم صـــدا بـــه پـــه دا شـــان محمـــدي يمـــه

د محـــشر پـــه ســـخته ورځ چـــي عـــالم ژاړي
زه بـــه ګرځمـــه شـــادان محمـــدي يمـــه

وبـــه وايمـــه ملـــک تـــه خبـــردار شـــه
لاس نـــه راوړې پـــه امـــان محمـــدي يمـــه

ای رضـــوانه! د جنـــت جـــامې زر راوړه
خبـر نـه يـې چـي نعـت خـوان محمـدي يمـه

زه «***محمـــد امـــين***» پـــروا د بلبـــل نـــه کړمـــه
چـــي مـــداح شـــيرين زبـــان محمـــدي يمـــه

۞ ۞ ۞

حاجي محمد "اواب"

# نعت شريف

د اخلاقو پسرلي دي لکه ګل خويونه راوړل
تا و بڼ د دې نړۍ ته څه سمبل خويونه راوړل

پرې زريني وړانګې اوري ستا هرکار د رڼا څلى
تا په تورو تاريکو کي ځلاو بل خويونه راوړل

تا په زړه کي د ظلمونو سپينکى توغ د عدل جک کړ
دا دي څومره ښه سپېڅلي او اتل خويونه راوړل

تا لمبې د نِفاق مړې کړې د اخوت په باران باندي
تا عجيب او په زړه پوري زړه تسل خويونه راوړل

شاهنشا يې ته د امن اى د درست جهان رحمته
تا د علم، حِلم، عطوِ څه مشل خويونه راوړل

ته د سترو کمالاتو خزانه يې پاک رسوله(ص)!
ما عاجز «**اواب**» دي دلته ډېر اقل خويونه راوړل

۞ ۞ ۞

حافظ رحمت "نیازی"

# نعت شریف

هم یې مخ لکه هینداره، هم زړګی لکه هینداره
ما ته ښکاري سرترپایه دا سړی لکه هینداره

موږ په ورځ د سر په سترګو کله لمر هم مشتبه کړو
دی په شپه د زړهٔ په سترګو وینې شی لکه هینداره

دهٔ له ډېرې عاجزۍ جوړ او کور لکه جونګړه
موږ له ډېرې مغرورۍ جوړوو سرای لکه هینداره

په معنا کښې متصف دئ په همه وو صفتونو
په صورت کښې محمد (ص) لکه غمی لکه هینداره

له یوسفه تر یوسفه زهٔ «**حافظ**» په دلیل وایم
نهٔ شته څوک لکه هینداره ؤ یو دی لکه هینداره

۞ ۞ ۞

حافظ رحمت "نیازی"

# نعت شریف

محمده ﷺ! منتظریم، له سهاره تر ماښامه
بدل شوی په تصویریم، له سهاره تر ماښامه

ستا په روئ باندې ولاړ دئ، ما ته ستا لويي را ښيي
کايينات دئ ورته ځيريم، له سهاره تر ماښامه

په جنت کښې درجې دي، زۀ به چېرې تۀ به چېرې
بس په دې فکر کښې ګيريم، له سهاره تر ماښامه

له جهانه سره اوسم، خو دا ستا په نسبت باندې
له جهانه بې نظيريم، له سهاره تر ماښامه

عجيبه په اضطراب کښې، اطمينان ته «حافظ» رسم
چې په تا پسې زهيريم، له سهاره تر ماښامه

۞ ۞ ۞

حافظ میرک "افکاري"

# نعت شریف

وغوښتئ معراج لـه پاک سبحان ج رسـول الله
ایـــښی دئ قـــدم پـــر لامکـــان رســـول الله

د "اســـرا" زیـــری پـــر وکـــړو جبرائیـــل (ع)
والـصلوٰة والـسلام تیـارکړه ځـان رسـول الله

پـــه تـــسبیح او پـــه ســـلام وې ملائیکـــې
چـې سـتا د راتلـو بـږغ شـو پـر آسمان رسـول الله

پـه "سدرالمنتهٰی" کې جبرائیـل (ع) وکړو تمکین
ویـل نـه شـم تیرېـدای تـردې مکـان رسـول الله

لامکـــان تـــه نیمـــه شـــپه لـــه مکـــې ولاړئ
وبالـــه مـــولا ج پـــه خپـــل احـــسان رســـول الله

وويـــل الله ﷻ چـــي اې حبيبـــه(ص)! كـــوه ســـوال
د امـــت لپـــاره وغوښـــتئ غفـــران رســـول الله

پټـــې كيـــسې د نـــازخبرې ســـره وكـــړې
لـــه رازه واپـــس راغـــئ پـــر اجنـــان رســـول الله

غـــوارم شـــفاعت پـــه هغـــه ورځ كـــي د حـــساب
«**ميـــرك**» بـــه وار خطـــا وي پـــر ميـــزان رســـول الله

۞ ۞ ۞

حبيب الرحمٰن "تاثير"

# نعت شريف

چي ځان ته يې معراج ته ؤ بللی محمد ﷺ
ؤ څو مره په الله جَلَّ جَلَالُهُ بيا نازولی محمد ﷺ

چي مځکي اسمانونه خدای ج د دهٔ په روی پيدا کړو
نو ځکه دی عرب، عجم منلی محمد ﷺ

آرزو مي ده باداره تلوسه مي ده په زړهٔ کي
په خوب چي وای يو ځلي ما ليدلی محمد ﷺ

هزار ځله مي خدايه ج! زندګي ترېنه واري کړې
هغه چي تا په خپل قرآن ستايلی محمد ﷺ

اويا زره کلونه تر آدم (ع) مخکي «*تاثيره!*»
يو ستوری په اسمان ؤ ځليدلی محمد ﷺ

۞ ۞ ۞

حبيب الله "قلم مل"

# نعت شريف

ډېر مي ستا ښکلا ته، انتخاب د تورو خام دی
ستا ښايست بادار دی، زما کلام لکه غلام دی

نن چي دي په ښکلو لفظو ياد کوم د ښکلي نوم
دا هنر په ما کي که کمال مي د الهام دی؟

تل به دي د حق په سترګو خپل او پردي پېژندل
نه دي ويل دا چي دا پردی، دا مي د قام دی

ټول اوصاف يې لوستي په تورات او په انجيل کي وه
ځکه دي قايل پر نبوت زوی د "سلام" دی

۞ ۞ ۞

حبیب الله ”قلم مل“

# نعت شریف

پـــه تخیـــل کـــي مـــي ده ښــکلې آینــه ســـاتلې
دې آینـــې راتـــه جانانـــه ســـتا څېـــره ســـاتلې

نـه مـي هېرېږي کـه سـي تېـر پېړۍ پېړۍ کلونـه
مـا پـه خپـل ذهـن کـي دیـار د کـور کوڅـه سـاتلې

ډېـرو سـاتلي دي پـه زړو کـي رنګارنـګ کلمـې
خـو مـا محبوبـه! سـتا د نـوم ښـه کلمـه سـاتلې

دزړه پـه جـام کـي خـو د مینـي د ښـکلا اوبـه وي
تـا پکـښي ولـي د چینـې اوبـه لمبـه سـاتلې؟

چي کوم رهزنيې «***قلم مله***» نه کړي چور او تالان
د زړه پـــه ښـــار کـــي مـــي د هیلـــو قافلـــه ســـاتلې

۞ ۞ ۞

حضرت علي "اشکزی"

## نعت شریف

طاقت چي کله ستاد محبت پکښې پیدا سو
د میني سمندر سو او دولت پکښې پیدا سو

چي تا هغه غمی د خپل رحمت په اوبو پرېولی
نو ځکه دومره لوړ قدر و قیمت پکښې پیدا سو

وحشیانو د جهان پر مخ د میني تاریخ جوړ کړی
سمبول چي د وفا او شرافت پکښې پیدا سو

چي کله مي په خوله د یار د میني اقرار وکړی
د زهرو کندولی و، خو لذت پکښې پیدا سو

پر هغه ښار دي وسي د انوارو بارانونه
محسن چي د تمام انسانیت پکښې پیدا سو

دې کلي ته یې راوړله ګنجونه د سیرت
«حضرته!» چي د پاک نبي (ص) صورت پکښې پیدا سو

۞ ۞ ۞

حیات الله ''لاروی''

# نعت شریف

دا جهان خو څه کړې پر هغه به لا قبضه وکړو
واورئ! که ریشتیا د محمد رسول (ص) په خوله وکړو

زما د یار له رویه ښائسته یې چې غره نه سې
راسه اې جنته! پر باداربه فیصله وکړو

ښکل کړم د شبنم په څېر ګلونه دي لاسونه ستا
دغه هم ثواب ګڼم چې داسې اراده وکړو

در به سو جانانه په امید د شفاعت باندي
خدای ج خبر چې دلته به شپه وکړو او که نه وکړو

غوارم «لاروی» درسه د خوب تعبیر په خوب نن شپه
وایه مبارکه په دا اوس وخت کي موږ څه وکړو

۞ ۞ ۞

حیات الله ''څرک''

# نعت شریف

چــې یــې لیدلــه ستاچــشمان مــصطفٰی ﷺ
ډیــر بختــور وه ســتایاران مــصطفٰی ﷺ

هغــه چــې ستاســره یــې مینــه نــه وي
زه ورتــه نــه وایــم انــسان مــصطفٰی ﷺ

هغــه چــې ستاســپېڅلی نــوم یــادوي
تــر داســې ژبــې ســم قربــان مــصطفٰی ﷺ

چــې تــا لــرم پــه آخــرت کــې غمخــور
نــه یمــه زه ډېرســـرګردان مــصطفٰی ﷺ

یـــم بختـــور چـــي امتـــي دي یمـــه
ټولـــو نبیـــانو کـــي ســـلطان مـــصطفیٰ ﷺ

هغـــه ورځ ډېـــر ځـــان ګنهکـــاره بـــولم
چـي یـاد دي نـه کـړم پـه جانـان مـصطفیٰ ﷺ

دا ســـتا ښایـــست او ښـــکلا زیاتـــه تـــر لمـــر
ټولـه جهـان یـې کـړ روښـان مـصطفیٰ ﷺ

ســـتا پـــر ســـپېڅلي نـــوم درودونـــه وایـــم
چـــي ملایـــان کـــوي آذان مـــصطفیٰ ﷺ

تـــر تـــا مـــي ســـر تـــر تـــا مـــي مـــال صـــدقه
پـر مـا تـر مـور او پـلار ګـران مـصطفیٰ ﷺ

زه بـــه دي کـــوم صـــفت غـــزل کـــي لـــیکم
چـي سـتا صـفت کـړی سـبحان ﷻ مـصطفیٰ ﷺ

۞ ۞ ۞

خالد "هادي"

# نعت شريف

يـم شـيدا، زه پرتـا، يـا نبـي مـصطفیٰ (ص)
مُقتـدا، مجتبـیٰ، يـې محبـوب د الله ج

عربـي، قريـشي دي القـاب سـتا ثرگند
هـم ياسـين، هـم طٰـهٰ دی، هـم نور الهـدا

يـې اشـرف د مخلـوق، هـم يـې شـاه حـرم
تـه يـې بحر العطـا، يـا زمـوږ پيـشوا

تـه خـاتم د نبيـانو د رب ج يـې ارسـل
تـه يـې بدر الـدجیٰ، هـم يـې صـدر العلیٰ

ستا افضل د اُمت دی صدیق اکبر رضی الله عنه
چې ایمان یې پر تا دی راوړی اولا

ورپسې دی عمر رضی الله عنه هم دریم دی عثمان رضی الله عنه
څلورم مرتضٰی رضی الله عنه له یارانو څه ستا

«حیدري» امتي ستا د دریم غلام
لږ نظر کړه پر ما د کونینو پاچا

۞ ۞ ۞

درويش "خوندی"

# درود او سلام

درود او سلام په اخلاص وايم پر جانان مدني
سر او مال دواړه مي قربان سه تر سلطان مدني

سلام سلام دی پر اصحابو، اهل بيتو باندي
ستا پر څنګ زېب کوي څلور ښکلي ياران مدني

پروردګار ربوبيت کړ ستا له رويه اظهار
بيا يې پيدا کړه کاينات مځکه آسمان مدني

پر رسالت يې د مکې بتان قايل سوه ټوله
چي اشاره ورلره وکړه هغه آن مدني

د ابوجهـــل د ازلـــه بـــد بختي وه نـــصيب
پــر معجــزه دي ســراقه[1] راوړی ايمــان مــدني

په کوم الفاظو دي توصيف وکم عاجزيم ورته
خدای دي په خپله صفت کړی په قرآن مدني

ستا و درګاه لره ولاړ دی ګنهکاره «*درويش*»
شفاعت غواړم په محشر او په ميزان مدني

۞ ۞ ۞

(۱) سراقه (د ميم په پېښ) بن مالک او ابو جهل د قريشو سرداران وو، ابوجهل له ايمان څخه انکار وکړ خو سراقه ايمان راوړ .

درويش "خوندی"

# غوښتنه

قادره خدايه! په هر آن کي ستا رضا غواړمه
لکه حضرت خليل په تا سره پنا غواړمه

د دې جهان په تاريکو مي پروا نسته ربه
په تور لحد کي زه د لمر غوندي رڼا غواړمه

د لوی دښمنه نجات راکه زه بنده مانده يم
نه تصرف پر ځای د نفس و د هوا غواړمه

د شفقت او رحمه ډک زړه مي سينه کي جوړ که
نه داسي تور زړه لکه کاڼی د صحرا غواړمه

تــوزنې هيلــه مــې و هيڅــا لــره نــه ده كــړې
ستا لـه دربـاره حـلال رزق سـهار بېګـا غواړمـه

د فقيرۍ ژوند مې دی خوښ د اورنګزېب تر شاهۍ
نــه بــاداري پــر غريبــانو د دنيــا غواړمــه

ستا د حبيـب (ص) د نـازنين امـت لپـاره «***درویش***»
جـام د كـوثر، فـردوس جنت پـه حشرګاه غواړمـه

۞ ۞ ۞

درویش "خوندی"

# نعت شریف

نیسمه گذر وکه پر بوستان د مدینې
زما سلام پر وایه پر جانان د مدینې

څلور ښکلي یاران یې د جنت د باغ ګلان
بیشکه نازولي دي په درکې د سبحان
ځلیږي لکه ستوري اصحابان د مدینې

اول یار د سید المرسلین(ص) حضرت صدیق(رض)
تر هر چا یې د مخه د اسلام وکې تصدیق
دوهم حضرت عمر(رض) صاحب سلطان د مدینې

دریم یار یې جامع د قرآن دی عثمان غني(رض)
د حق د لوري سوې ده پرده مهرباني
زما کله هېرېږي شهیدان د مدینې

حضرت علي رض حیدر څلورم یار د مصطفیٰ (ص)

غزا لره په ډېر شوق تلی غازي اسدالله

همېش دي وي تازه واړه غازیان د مدینې

درود سلام پر وایم په اخلاص او صداقت

مولا ج حوض کوثر کی ور عطا د خپل رحمت

«**درویش**» یم ننګ و نام مي سه قربان د مدینې

۞ ۞ ۞

درویش "درانی"

# حمد شریف

د محمد (ص) پر قدم ما ایښود قدم راغلمه
خدایه ج! وم تا ته را روان او دا یم سم راغلمه

له خوشحالیو سره زۀ له تا ډېر لري لاړم
خو بیا چي بېرته را په مخه کړمه، غم راغلمه

په خپل همت ما د ښو هیڅ یو کار هم نۀ دی کړی
چي تا ته راغلم نو دا هم ستا په کرم راغلمه

کله به خپل زړۀ ته په تا پسي در ننوتم
کله به زۀ در پسې خوا ته د حرم راغلمه

ستا د رحمت له برکته په پوره حساب شوم
کنې هر وار به زۀ «درویش» په تالۀ کم راغلمه

۞ ۞ ۞

درويش ”درانی“

# نعت شريف

تالمنـــــه د خـــزان ګـــلاب ګـــلاب کـــړه
مـــوږ لاســـونه د بهـــار کـــړل زخـــم زخـــم

تـــا د ښـــمن هـــم پـــه امـــان رســـاوه کـــور تـــه
مـــوږ ملګـــري خپـــل، پـــر لار کـــړل زخـــم زخـــم

پـــر تـــا بانـــدي د غلـــيم اولاد هـــم ګـــران وو
مـــوږ بچـــي د مـــور او پـــلار کـــړل زخـــم زخـــم

مګـــر بيـــا مـــو هـــم پـــر خولـــه د غـــه دعـــوه ده
چـــي مـــوږ ســـتا پـــر لار روان يـــو محمـــده! ﷺ

۞ ۞ ۞

درویش "درانی"

# نعت شریف

د مدینې و خوا ته ځي او تر مطلبه رسي
پر دغه لار باندي مؤمن تر خپله ربه ج رسي

هر یو تا وان چي رار سېږي وي له خپله لاسه
خو ما ته ګټه همېشه ستا له سوبه رسي

تر هغو پښو لاندي مي زړه لکه تنکا که مات شه
چي ستا د مینې په سفر کي تر عربه رسي

په سپینو ستورو یې بدل شي د زړه تور داغونه
کله چي ستا روښانه نوم د چا تر لبه رسي

د اوېره نشته چي لمن به شي خالي د «**درویش**»
ستا پېرزوینه داسي ده چي همېشه به رسي

۞ ۞ ۞

دلاور "پردېس"

# حمد شريف

ساتلي يې په غرونو کې مرغان په خپل قدرت
خالق ج دی ودان کړی ټول جهان په خپل قدرت

لويي ورسره ښه ده رحمېدلی پر هر چا دی
راپورته چې يې لمر کړ پر آسمان په خپل قدرت

د خوار بنده پر ژبه لا راغلی شکر نه دی
ژوند ډېر ورته اسان کړ پاک سبحان ج په خپل قدرت

له چا څخه دُنيا واخلي، څوک واخلي له دُنيا نه
څوک ورولي مزار ته د جانان په خپل قدرت

دا ژوند هم موږ په خپله خوښه نه تېروو دلته
پر مځکه باندې هم نه يو روان په خپل قدرت

را اوروي د شنه آسمان له خوا نه کله کله
پر موږ د رحمتونو ډک باران په خپل قدرت

اُمېد لرم «***پردېس***» چې د منزل خوا ته روان وي
کړي خدای ج به ځکندن ورته اسان په خپل قدرت

۞ ۞ ۞

دلاورخان "دلاور"

# په خير راغلې

د زخمـــي زړونـــو درمانـــه! پخيـــر راغلـــې
د عـــرب عجـــم ســـلطانه! پخيـــر راغلـــې

لـــوی واړه د مـــدينې پـــه انتظـــاريـــو
د مکـــې ام القرانـــه! پخيـــر راغلـــې

پـــه بڼـــو مـــو درتـــه لار ده جـــارو کـــړې
ږده قـــدم پـــرې خرامانـــه! پخيـــر راغلـــې

دا جلـــوې دې د رخـــسار دي کـــه صـــبا شـــو؟
ای زيبـــا ! جبـــين روښـــانه! پخيـــر راغلـــې

لــــه مـــودو وو د وصـــال پــــه تمــــه تمـــه
ای زمـــونږ نور چـــشمانه! پخيـــر راغلـــې

د خپـــل خـــوږ او د نـــازيين امـــت لپـــاره
څـــه دي راوړه، لـــه ســـبحانه پخيـــر راغلـــې

د وصـــال قاصـــد نـــسيم دي زيـــری راووړ
د ګلونـــو ډک کاروانـــه! پخيـــر راغلـــې

انـــصار ټـــول پـــه دې ګويـــا وو «*دلاوره!*»
زمـــونږ دل او دلبرجانـــه! پخيـــر راغلـــې

۞ ۞ ۞

دلاورخان "دلاور"

## نعت شريف

چي انس او جن پرې افتخار کا بشر چا راکړی
همه خوبان چي يې وقار کا دلبر چا را کړی

چي په راتلو يې خوشالۍ يو بل ته غاړي وتې
چي مي پرې روح زړه کرار مومي اختر چا راکړی

چي د الفت په زرين تال يې بشر وزنګاوه
د اخوت پيغام يې غبرګي سحر چا راکړی

چي د ظلمت په فلک پورته لکه لمر شو عيان
چي اين او آن شو پرې روښانه قمر چا راکړی

چي د خالق د کايناتو د تخليق شو سبب
د ستر کاروان سپه سالار او رهبر چا راکړی

زه د احساس سترګي لرم څه نابينا خو نه يم
ما ته نايابه بېش قيمته ګوهر چا راکړی

د هر باطل چي په ميدان مقابله کوي تل
ما «**احمدزي**» لره قلم «**دلاور**» چا راکړی

۞ ۞ ۞

رحيمه "پښتونجار"

# نعت شريف

ولوله کتاب زه ستا د دين يمه
ښکل مي کړه خطاب ستا د آئين يمه

زړه کي د قرآن د ميني زور يمه
داسي د رحمت زغره ياسين يمه

ښيم په دنيا دي د عقبا تصوير
تينګ لوظ د رب العالمين يمه

ننګ يم د اسلام د زړه ګوهر يمه
لوی حديث د رب ج د پاک امين يمه

نښه د الله ج د لوړ فرمان يمه
زه اِنِّي لَمِنَ الْمُرْسَلِيْنَ يمه

رب کړه عنايت د فاتحي څولۍ
ثم د هر مؤمن په زړه آمين يمه

رفیع الله ''روشن''

# دُعا

ستا په مینه کې توفیق د ثنا راکړې
الهي راته همت د وفا راکړې

ستا په مینه چې پرې ځان ستي کړم
د پتنګ غوندې په شمعې سزا راکړې

پاکه ربه ج ستا په عشق کې چې بیمار وي
رنځورانو ته مجال د دعا راکړې

چې د ښمن باندې یرغل وکړو او مات شي
دې بري ته د ایمان ښه سلا راکړې

چې هر کار ته اتفاق باندې راټول شو
په هر کار کې له نفاقه پناه راکړې

ستا دربار کې به هېڅ کم نه شي خالقه
چې وطن ته مو د سولې فضا راکړې

سترګې تل وي د «روشن» له اوښکو ډکې
دغو اوښکو ته سکون انتها راکړې

۞ ۞ ۞

روح الامين "اميني"

# نعت شريف

مخ دي د ګلاب ښکلی مي جانان دی
تول خوبرويانو کي ښکلی په ما ګران دی

ستا حسين، جبين رخسار څومره جلوه دار دی
ستا له رويه شو پيدا زمين او آسمان دی

توري تيارې ورکې شوې ستا له دې راتلو سره
دوست ئې د الله، الله څومره قدردان دی

دوست د عالمين ئې ته ختم الانبين ئې ته
تا باندي نازل، نازل دا ښکلی قرآن دی

تول صفت صفت ئې وجه د رحمت ئې ته
ارض و سماوات همه ستا په روی عيان دي

زه «***امين***» څه غم لرم چي محترم لرم
دی په ګناهکار امت څومره مهربان دی

۞ ۞ ۞

سراج الحق "سراج"

## نعت شريف

ښکته پورته په اسمان عظمت د چا دی
رَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ رفعت د چا دی

په اسرٰی چې اسمانونو ته شو پورته
دومره لوی او افاقي شهرت د چا دی

چې يې ونې د ځنګل قدم بوسه کا
په ادب ادب راځي عزت د چا دی

په طايف کې چې پرې کاڼي راورېږي
خپلې وينې تويوي دعوت د چا دی

چې بابا ادم خپل ربؑ ته وسيله کا
رب ازاد که دغه مخ مروت د چا دی

په خليل الله چې اور ګل ګلزار شو
په تندي کې يې د نور برکت د چا دی

زه «**سراج الحق سراج**» هغه څوک ستايم
چې بعد از خدا بزرګ صفت د چا دی

۞ ۞ ۞

سرفراز

# نعت شريف

زريــــن تـــاج ښـــکلی جبـــين د محمـــد ﷺ دی
سـينګار جـوړ پـه طٰـهٰ ياسـين د محمـد ﷺ دی

جبرائيـــل<sup>(ع)</sup> فرمـــان راوړی پـــر حبيـــب<sup>(ص)</sup> دی
د امـــت پـــه غـــم غمګـــين د زړو طبيـــب دی
هـــم رکـــاب روح الامـــين د محمـــد ﷺ دی

د معـــراج پـــه شـــپه چـــي تلـــی ولامکـــان تـــه
تجلـــي د نـــور يـــې پورتـــه ســـوې اســـمان تـــه
هـــر بيـــان ښـــه نـــازنين د محمـــد ﷺ دی

د زيبـــا جمـــال پـــه نـــور نـــوراني ځوانـــه
تـــه شـــفيع د خپـــل امـــت يـــې پـــر مېزانـــه
ښـــه ســـپېڅلی ښـــکلی ديـــن د محمـــد ﷺ دی

مــصطفٰی دی ســتر پیــشوا دی پــر دارینــو
مقتـــدا دی پـــېش امـــام د ثقلینـــو
خپـــل امـــت پـــر زړه یقـــین د محمـــد ﷺ دی

پـــه نـــازېږي ټـــول عـــرب و عجـــم دواړه
«ســــرفرازه» درود وایـــه پـــر بـــاداره
ښـــکلی حُـــسن ګلـــورین د محمـــد ﷺ دی

۞ ۞ ۞

سلیمان شاه "صوفي زاده"

# نعت شریف

محمــــد ﷺ هاشـــمي فـــضل د ســـبحان دی
هــــدا یـــت لـــره د نـــسل د انــــسان دی

برکــت او رحمــت خپــور دی پــه دنیــا کــښې
د کـــوم وخـــت نـــه چـــي راوړی یـــې قـــرآن دی

بـــشریت تـــه یـــې اخـــلاص او صـــفا راوړه
ښـــه مـــصدر د صـــداقت او د ایمـــان دی

تـور او سـپین، عـرب، عجـم لـره پیـشوا شـو
خــالق ښــه کــس غــوره کــړی قــدردان دی

پــه نــړۍ د ســلطنت ســاری یــې نــشته
ځکـــه دی د ســـلطانانو هـــم ســـلطان دی

پـس لـه دې هـم پـه زرګونـو ، مليونونـو
تـر قيامتـه د دې شـمعې پتنګـان دی

د حيـرت خبـره دا چـې پـه محـشر کـښې
هـم روان د ده تـر شـا پيغمبـران دی

د ښايـست مثـال يـې نـشته پـه جهـان کـښې
ښـکلی سـتوری يـې کونينـو کـښې تابـان دی

داسـې ډوب يـې پـه جمـال «***صـوفي زاده***» چـې :
لـوی واړه هـريـو انـسان ورتـه حيـران دی

۞ ۞ ۞

سميره "كوچى"

# جانان ته

څـــومره دي خـــوږ دى ښـــكلى نـــوم جانانـــه
څـــومره پـــه زړونـــو بانـــدي ښـــه لګيـــږي
زمـــــوږ د زړه د بـــــاغ پـــــر هـــــر ګلبـــــوټي
لكـــــه ســـــپرلى لكـــــه اوبـــــه لګيـــــږي

مـــوږ تـــشي سـترګي يـــو نظـــر مـــو نـــشته
مـــوږ تـــه چـــي كلـــه دا احـــساس راكـــوي
چـــي پـــه رڼـــو ســـترګو جهـــان وګـــورو
دا ســـتا لـــه نـــوره انعكـــاس راكـــوي

مـــوږ چـــي لـــه ژونـــده څخـــه ســـتړي شـــو لـــږ
زمـــوږ و زړونـــو تـــه ســـكون راكـــوي
تـــول نفرتونـــه لكـــه اور لمبـــه كـــړي
پـــاس لـــه اســـمانه يـــو قـــانون راكـــوي

د خوشـــحالۍ او د ښـــادۍ ورځـــو کـــي
دا ســـتا پـــه نـــوم هـــره ســـندره ليکـــو
چـــي ورځ د غـــم او د خفګـــان راشـــي بيـــا
ســـتا پـــه نامـــه هـــره خبـــره ليکـــو

ماښـــام پـــه ســـتورو کـــي ځلېـــږي راتـــه
ســـهار پـــه ســـترګه د ســـبا کـــي راشـــي
کلـــه پـــه ســـترګو د تـــصوير راګـــوري
کلـــه پـــه ســـترګو د شـــهلا کـــي راشـــي

ســـتا لـــه فرمانـــه څخـــه نـــه شـــي وتـــای
هـــره يـــوه ژبـــه پـــه واک کـــي اخلـــي
کلـــه چـــي وغـــواړي خبـــري وکـــړي
زمـــوږ د زړه ژبـــه پـــه واک کـــي اخلـــي

جانانـــه تـــه زمـــوږ لـــه زړو نـــه جـــوړيـــږي
د يـــوه راز غونـــدي پېچلـــی ښـــکاري
د دې نـــړۍ د هـــر بـــشر برخـــه يـــي
د ســـپين قـــرآن غونـــدي ښـــاغلی ښـــکاري

پـــه تـــا ترلـــي يـــو مـــوږ ټـــول جانانـــه
مقـــصد مـــو تـــه د زړه ارمـــان مـــو تـــه يـــې
پـــه يـــوه خولـــه ســـتا ښـــكلى نـــوم يـــادوو
منـــزل مـــو تـــه يـــې او جانـــان مـــو تـــه يـــې

نـــو خـــود بـــه ښـــكلى وي ســـتا نـــوم جانانـــه
څـــومره پـــه زړونـــو بانـــدي ښـــه لګيـــږي
زمـــوږ د زړه د بـــاغ پـــر هـــر ګلبـــوټي
لكـــه ســـپرلى لكـــه اوبـــه لګيـــږي

۞ ۞ ۞

سميع الله "ساپی"

# حمد شریف

خدایه! څومره پر مخلوق دي مهربان يې
جوړوونکی هم د مځکې او اسمان يې

نعمتونه دي پرمونږه رنګارنګ دي
ته د ټولو مخلوقاتو لوی سلطان يې

چې بشر د ګمراهۍ په لور روان شو
پر حبيب (ص) دي را لېږونکی د قرآن يې

چې نړۍ ته دي ښکلا ده ور بخښلې
ربه! ته څومره رحيم يې او رحمٰن يې

دواړه کونه دي جوړ کړي زمونږ لپاره
خود به ستا عبادت کړو چې ته سبحان يې

د محمد ﷺ په روی دنیا دي را پیدا کړه
ته خو رب ج د ټول مخلوق او د انسان یې

ځیني ځیني انسانان بیا شول بې لاري
د اِسلام د دین ته خپله نګاهبان یې

«سمیع الله» وایي ګناه مې ډېره شوې
رحم وکړه ته ساتونکی د ایمان یې

۞ ۞ ۞

سید احسان الله "الهام"

# نعت شریف

خــــالق را لیږلـــــی محمد رســــول الله یــــې
ټولــو بنــدګانو تــه هــادي یــې ستر پیــشوا یــې

ستـا پــه روی جانانـه! دا جهــان دی پیــدا شــوی
ځمکه پیدا شوې، شین آسمان دی پیدا شوی
ستا جمال دی دا چي لمر روښان دی پیدا شوی
ستـا پــه برکـت ژونـد د انـسان دی پیـدا شــوی
رحمـــة اللعـــالمین نبـــي خیر الـــورٰی (ص) یـــې

ځــو مره منّــور یــې، معتبــر یــې، جهــانو کــي
ډیــري معجــزې دي ذکــر شــوي کتــابو کــي
ډیــر قــدرت قــادر درتــه درکــړی ارادو کــي
یـــې ســـپینه ډیـــوه د جهالـــت پـــه تورتمـــو کي
ټولـــو رســـولانو هـــم نبیـــانو کـــښې بـــالا یـــې

ډېر لــه تــا فيــضونه ابــوبکر عمــر وړي
ستا د غلـيم غـشي دي عثمـان پـر ځيګـر وړي
پــه دلاورۍ کــې در نــه برخــې حيــدر وړي
واړو ډک جامونــه لــه اوبــو د کــوثر وړي
لمــر د نبــوت يــې تــوري دنيــا تــه رڼــا يــې

تــا د ديــن لپــاره دي تــل کــړي جهادونــه
اسلامي دعـوت کښي دي زغملي دي زخمونـه
هم پـه دښـتو غـرو کـي تنـدي لـوږي زحمتونـه
ورک دي لـه دنيـا کـړل ظالمـان هـم يـې ظلمونـه
پــاک الله ســتايلی يــې ښــاغلی راهنمــايې

تــه د ښــو اخلاقو مجموعــه يــې لــه ازلــه
د توحيــد پــر لاره انــسانو تــه مــشعله
تــل د مظلومــانو، يتيمــانو ســره ملــه
ټولــو کائينــاتو کــښې آغــا احمــد افــضله
«*الهــام*»: شـفاعت غـواړم منلـی پـه عقبٰـی يـې

۞ ۞ ۞

سید احسان الله "الهام"

# د نبوت لمر

غني بادار بنده ګانو ته ټاکلی راهنما
محمد رسول الله
د جهالت تورو شپو ته روڼ سحر دی ستر پېشوا
محمد رسول الله
ړنګه مانۍ د کسرا شوه ټول بتان شول نسکور
کړو توحید په لمبو سکور
منافقین یې حلال کړو په تېز تېغ د الا الله
محمد رسول الله
میدان د بدر ګټلی له کفارو محمد (ص)
د الله په لوړ مدد
ټولو انصارو په زړو پوري نیولی شاهنشاه
محمد رسول الله

دښـــه او بـــد تميـــز نـــه و، عبوديـــت و د بقـــر
وه ظلمونه په بشر
د وحـدانيت زېـرى راوړ دې جهـان تـه مـصطفٰى
محمد رسول الله
مينـدو بـه ټولـو ژړل د چـا چـې لـور بـه شـوه پيـدا
په ژوندون به ښخيدا
له ظلمه خلاص په تبليغ د پاک قرآن يې کړه دنيا
محمد رسول الله
خپله خدايي يې ظاهر کړې خداى په روى د مدني
نشته بل هسې نبي (ص)
رب ګرزولـى شـفيع و ګنهکـار تـه پـه عقبٰـى
محمد رسول الله
چا چې رسول راضي کړى پاک الله ورنه راضي
پرې رحمت وي آسماني
«**الهام**»: راضـي لـه الله غـواړمـه تـل خيرالـورٰى
محمد رسول الله

۞ ۞ ۞

سیدمحمد "محمودي"

# نعت شریف

څومره یې سپېڅلی قدردانه هاشمي نبي(ص)
ځار سمه له تا نه عالیشانه مدني نبي(ص)

ستا په روی جانانه دا دنیا او مافیها ټوله
ځمکه اسمانونه موجودات رب(ج) کړه پیدا ټوله
درېیې کی مقام اوچت الله(ج) تر هر نبي نبي(ص)

څومره په نازونو اسمانو ته رب(ج) بللی یې
ته ورته نژدې له هر چا ته ډېر نازولی یې
تا باندې نازل یې کی قرآن ډېر نوراني نبي(ص)

تــا خــو پــر اســلام بانــدي ګــاللي زحمتونــه دي
هــم دي لــه کفــارو ســره کــړي جهادونــه دي
کړې د طايف خلګو په ګذار باندي زخمي نبي (ص)

غــواړم دي د يــدن د مبــارکي شــنې روضــې يــاره
ومــي غــواړه تــه تــر ګلــوريني مــدينې يــاره
دغه يو ارمان زما «***محمودي***» دی پر زړګي نبي (ص)

۞ ۞ ۞

سیدمسعود آغا "هاشمي"

# نعت شریف

ستا لـه نوره زما بیـان دی رنـګ اخیـستی
د دې سـیمي ګلـستان دی رنـګ اخیـستی

کـه څـه ویـنم کـه څـه اورم ټولـه سـتا دي
ستا لـه عـشقه زما ایمـان دی رنـګ اخیـستی

د نـړۍ حُـسن تیـاره ده سـتا و نـور تـه
ستا لـه رنګـه هـر انسان دی رنـګ اخیـستی

راتـه ښـکاري ټـول جهـان یـوه قطـره کـې
د دریـاب لعـل او مرجـان دی رنـګ اخیـستی

چـې پـه لاس کـې مـې وچ کـاڼي ثنـا وایـي
د ښایـسته کـلام زبـان دی رنـګ اخیـستی

سـر او زر چـې کـړي قربـان د یـار پـه مینـه
ډک د مینـې دې داسـتان دی رنـګ اخیـستی

سـمندر پـه "ب" او "س" کـې دی کـې ګـورې
«***هاشـمي***» د عـشق کـاروان دی رنـګ اخیـستی

۞ ۞ ۞

سیدنادر شاه آغا "شهیدي"

# نعت شریف

در وېشان یو حقیقت په دې جهان کې
لږ راغلي لږ به ځو په خپل زمان کې

د محبوب پر قدم تګ ستا کامیابي ده
دا جوهر دی دا ګوهر دی په افغان کې

د نعمت شکر پر وخت باندې لازم دی
هسې نه چې بیا فناه شې په یو آن کې

سلسلې د ژوند روانې دې په بېړه
هره برخه یې په خیر د هر انسان کې

هره برخه هر تغیر د ژوند حکمت دی
سوچ کوه چې پاته نه شو امتحان کې

شـــريعت د ژونـــد څـــراغ دی او ســـکون دی
قـــوانين خـــو هـــسي ډېـــر دي پـــه جهـــان کـــي

عــدالت، انــصاف، د ژونــد اصــلي معنٰــی ده
نور سوچ مه کړه په معنٰی د "ايـن" و "آن" کي

چـي تهـداب يـې ډبـرين وي پـه شـروع کـي
بـاک يـې نـشته پـه بـاران او پـه طوفـان کـي

دا تحفـــه خـــو پـــه ظـــاهره يـــو کاغـــذ دی
خـو پـه اصـل کـي ګـوهر دی پـه جهـان کـي

«**شــــهيدي**» د عاشـــقانو دعـــاګو يـــم
خـدای دې وسـاتي پـه کـون او پـه مکـان کـي

۞ ۞ ۞

شهیدعبدالبصیر "عبرت"

# ښکلا

ستا د ښایست په بدرګه کې ؤ یو لمر درسره
یوه سپوږمۍ او بل دستورو غټ لښکر درسره

ستا د راتلو سره د جهل تیارې شولې رڼا
چې د تیارو په سینه ښخ شو ها خنجر درسره

رادې ورې مونږ ته د حیا له میوډکې پیالې
چې د حیا او حلم کان ؤ هغه غر درسره

دا وارہ ښکلې صفتونه دي په تا کې نغښي
جام د جمشید، بوی د خُتن، بږغ د حیدر درسره

د حیرت ګوتې ورته غاښ باندې عقلونه نیسي
چې حکماء ورته حیران دي ها هنر درسره

ستا په دربار کې څو وګړو ښې تحفې وړاندې کړې
زما «**عبرت**» دې په تحفه کې وي دا سر درسره

۞ ۞ ۞

''شهيم'' کاکړ او رحمت ''زلمی''

# نعت شريف

**شهيم**:
سپينه سپوږمۍ ورته څراغ تر سپين سهار ښايسته
تر دې هم زيات خدای ج ته د دوو کونو سردار ښايسته
**زلمی**:
زما مدني جانان د عدن تر جنت بېش بها
زما مدني جانان د عرش تر مينار ښايسته
**شهيم**:
څو مره چي ستا سپېڅلی نوم په خوند په مينه اخلم
هو مره مي خدای ج د مخ ګونه کړي په وار، وار ښايسته
**زلمی**:
چي کړي اختيار ستا طريقه چي ستا پر پله ږدي قدم
د هغو خلکو وي ټول ژوند لکه بهار ښايسته

**شهیم**:

تــه یــې د علــم لمــر، د پــوهې. هــدایت لمــر ځکــه
تـه یې تـر نـور ډېـر ښایسته یـې هـم تـر نـار ښایسـته

**شهیم**:

پر ټول جهان به یې ور نه کړم چي مي جوړ دی پر زړه
دا ستا پـه عـشق کـي بېش بهـا مهین پرهـار ښایسته

**زلمی**:

د پـاک جانـان پـه برکت «***رحمت زلمی***» او «***شهیم***»
کړې لویه خدایه! ‍ پـه ایمان باندې زر وار ښایسـته

۞ ۞ ۞

"شهیم" کاکړ او رحمت "زلمی"

# نعت شریف

**شهیم:**

هــر تــوری مــې د شــعر کــړي ســلام د مــدینې
پــــر زړه بانـــدې را اوري بیـــا الهـــام د مـــدینې

**زلمی:**

غمجـن وي د امـت پـر حـال غمجـن بېخـي غمجـن
بېګـــامي پـــه خـــوب ولیـــدی ګلفـــام د مـــدینې

**شهیم:**

دغه محترم ځای کښې حضرت محمد ﷺ پروت دی
کـــوي هـــر مـــؤمن ځکـــه اِحتـــرام د مـــدینې

**زلمی:**

عرب او که عجم وي خدای ﷻ ته واړه دي یو شان
امـــت تـــه د یـــو والـــي دی پیغـــام د مـــدینې

**شهیم:**

وړمـې وړمـې خـورې وي پـر همـه زړونـو رُڼـا وي
د ســپین ســهار پــه رنګــه وي ماښــام د مــدینې

**زلمی**:

په ییلو پښو ځي ستا پر پله بالا نه ږدي قدم

اوس هم ستا مینان کړي اِحترام د مدینې

**شهیم**:

هر پل به مي پر پله د محمد ﷺ و لګېدلی

لیدلی مي هر ځای وای ګام پر ګام د مدینې

**زلمی**:

ترڅو چې دا دنیا وي مدینه به سپین سبا وي

هیڅکله به هم رانه سي ماښام د مدینې

**شهیم**:

تر ځان به لوی بدبخته بیا په ژوند کښي بل نه وینم

که پاته په دیدن کښي شوم ناکام د مدینې

**زلمی**:

په وړاندي مو کعبه وای پلو شېږ مو ښکلولای

«*زلمیه!*» کشکي تل وای دیدن عام د مدینې

**شهیم**:

زړګی به مي له غیرو وسوسو څو مره صفا وو

«**شهیمه!**» که هر وخت وای دیدن عام د مدینې

۞ ۞ ۞

شفیق العالم "معذوریار"

# نعت شریف

محمـده!(ص) شـپه او ورځ مـي دا اسـرار دی
و لمحـو تـه مـي د وصـل انتظـار دی

د وصـال ډېـوې دي مـړې شـوې رانـه ولـي؟
د پتنـګ غونـدي مـي زړه پـر تـا نثـار دی

کـه ترخـه مـي د ژونـد هره ثانيـه وي
امتـي سـتا يـم پـه دې مـي افتخـار دی

پـه نبيـانو کـي تـر ټولـو اول تـه يـې
آخـر شـوی دی پـر دې نړی اظهـار دی

ستا د نـوم پـه روی حضرت آدم(ع) معـاف شـو
ځـو مره لـوړ مقـام در کـړی کردګـار دی

چــي اُمــت دي خيــر اُمــت د اُمتــو دی
پــه ســورت العمــران کــي دا گفتــار دی

ســتا د پــاکي روضــې زه لــرم ارمــان ډېــر
دا اميــد مــي و خــالق تــه پــه وار وار دی

ســر و مــال دواړه ښــندم پــر تــا حبيبــه (ص) !
خدای شاهد دی په رښتيا مي دا اقرار دی

زمـا پـر شـونډو مبـارک نـوم د محبـوب (ص) دی
ښـکلول مـي خپلـو شـونډو لـه پـه کـار دی

د دربــــار دي دی گـــدا خير البـــــشره (ص) !
ســتا د در پــه گــدايي خــوښ «***معــذوريار***» دی

۞ ۞ ۞

شيرين آغا "جهانګير"

## نعت شريف

په کور کي د الحاد جوړ شوی غم وو هغه ورځ
تا ايښی پردې ځمکه خپل قدم وو هغه ورځ

سندرو باندي ستړي ول مرغان د باغ او بڼ
جوړ کړی هو اګانو ترنم وو هغه ورځ

مړه شوې وه د فارس ها زر کلنه آتشکده
پيدا د هر ابليس سترګو کي نم وو هغه ورځ

پوهېږې په کعبه کي بتان ولي راګذار شول؟
لېږلی خالق زېری د صنم وو هغه ورځ

توپير د فوقيت د رنګ او ژبي شو بې قدره
بشر شو؛ که عرب وو که عجم وو هغه ورځ

قانون راغی انسان لره حساب او کتاب راغی
په تله شو که دم وو که قدم وو هغه ورځ

د علم ډېوې بلي شوې د جهل په تيارو کي
روښان د ژوند د لاري پېچ او خم وو هغه ورځ

۞ ۞ ۞

صاحبزاده خپلواک "وطنیار"

# د څښتن ﷻ ستاینه

دا زما کمکی زړګی او لوی جهان څښتنهٔ ستا دی
هر سا کښې چي سا او کاږي دا احسان څښتنهٔ ستا دی

هره پاڼه کي رحمت دی هره کرښه د ژوند لار ده
چي انسان ته لاره ښيي ستر قرآن څښتنهٔ ستا دی

سپوږمۍ ځمکي ته تاوېږي ځمکه لمر ته ګرده ګرځي
سمبال کړي وا ړه تا دي کهکشان څښتنهٔ ستا دی

څوک ذليل شو په دنيا کي څوک خاوند د ډېر عزت شو
هر څه ستا له لوري کېږي دا دوران څښتنهٔ ستا دی

هم رحمېږي هم قارېږي په دُنيا کي هر انسان ته
د شاهانو شاهنشاه يې څه لوړ شان څښتنهٔ ستا دی

تــه خــالق د ښایــستونو ځکــه خپلــه ښایــسته یــې
د دُنیــا د ښایــستونو ګلــستان څــښتنه ستا دی

ګنـاه کـار بـه یمـه خدایـه! خـو نهیلـی ځکـه نـه یـم
زړه مې واړه ډک له میني او ایمان څښتنه ستا دی

د «خپلـواک» ورتلـل دوزخ تـه څـه سـاده خبـره نـه ده
داسي څوک یې شفاعت کړي چي جانان څښتنه ستا دی

۞ ۞ ۞

طالب "منګل"

# حمدیه نعت

روانــه زنــدګي ده د رحمٰــن پــه یــادولو
پرېمانـه شـي ثـواب مـي د جانـان پـه یـادولو

د یـار پـه سترګو ښکاري د نـور سپیني ملایکـي
دُنیـا شـي پـه وصـال کـي د عمـران پـه یـادولو

عذاب یې شي په غاړه، چي راستون شي له اشنا
دوزخ تــه بنــده لاړ شــي د جهــان پــه یــادولو

راسـتون بـه عاشـق نـه شـي د دوزخ لـه کنـډونو
کـه سـوچ د مینـي وکـړي د تـوان پـه یـادولو

زړه یې چي خـالي وي بې لـه یـاره پـه قیامت کي
نـو چیغـي بـه انسان کـړي د زمـان پـه یـادولو

تـه سترګي لـه نـور ډکـي کـړه نـوم واخلـه د جانـان
دا لمـر بـه مـخ تـه لاس کـړي د روښـان پـه يـادولو

پـه زړه مـي راوريـږي څـه د کـاڼو پـه تـسپو، شـي
تــاوېږم پـــه کعبـــه کـــي د ايمـــان پـــه يـــادولو

کـه يـار مـي يادومـه د خلـوت پـه تـوره شـپه کـي
څـه پاتــه پــه ګـداز شـي د ګرېـوان پـه يـادولو؟

ولاړ پـــه عبـــادت ومـــه د عـــرش لانـــدي دنيـــا وه
جانانـه چـي تـه يـاد شـې شـم د ځـان پـه يـادولو

د يـــار لـــه ســـپينو ګوتـــو بـــه زه اخلمـــه شـــراب
دې زړه تـــه پـــه دُنيـــا کـــي د اســـمان پـــه يـــادولو

محـشر کـي بـه «***طالبـه!***» پـه عمـل راځـي رازونـه
دُنيـا بـه يـار تـه يـاد کـړي د ارمـان پـه يـادولو

۞ ۞ ۞

عادل "اڅکزی"

# نعت شریف

کوم زړه چي ستا په مینه معطر نه وي لا رښوده؛
هغه خو په رښتيا هيڅ هم خبر نه وي لا رښوده؛

ستالار چي پخپل ژوند کي څوک تعقيب کړي بختور دی
بيا هلته لا لهاند به په محشر نه وي لا رښوده؛

تا کانړي غوندي زړونه د اوبو په څېر کړو نرم
مُنکر د رسالت به پر کوثر نه وي لا رښوده؛

که نن لا سپينه ورځ څوک د تياري په نامه بولي
خوا خوږی به هغه د خپل بشر نه وي لا رښوده؛

پر کوم زړه چي وي مهر د خالق وي وهل سوی
هغه توره ډبره ده ګوهر نه وي لا رښوده؛

«عادل» پيدا ئيشي يمه ستا ميني ته لېوا له
له دې پرته دي بل لور ته سفر نه وي لا رښوده؛

۞ ۞ ۞

عادل "اڅکزی"

# ثناخوان

ثناخوان په هره ساکي روښي اوښکي څڅوي
و لوی خدای ته په دعا کي روښي اوښکي څڅوي

که لوستونکی د نن ورځي حالات ولولي په ځير
هر یؤ لفظ په معنا کي روښي اوښکي څڅوي

له یادونو سره مل په نیمه شپه پاځي یؤ څوک
په خاموشه خانقا کي روښي اوښکي څڅوي

د احساس خاوند چي مینه پخپل زړه کي و تراشل
اوس د پاک نیت په مُسکا کي روښي اوښکي څڅوي

د «**عادل**» د ژوند کیسه د جفا غشو کړه زخمي
مرغان هم پرې په هوا کي روښي اوښکي څڅوي

۞ ۞ ۞

عادل "اڅکزی"

# حمدشریف

ته مې خالق، موږ دې تخلیق یو مصوره ذاته؛
موږ خو یو هیڅ، ته یې هر څه متکبره ذاته؛

ته یې خبر چې سمندرکې دې څو څاڅکې اوبه
ستا پوهونه ترحد زیاته ده شمېرګره ذاته؛

ستاپه توفیق باندې خوځېږو، ستا په حکم پایو
ستا تر قدرت لاندې سا اخلو زوروره ذاته؛

ته یې اول، ته یې آخر، ته یې باقي لاثاني
د هرې چارې تر شا ته یې دلاوره ذاته؛

ستا د ثنا معجزه زړه ته د نور وړانګې بخښي
«عادل» ایمان باندې لرمه منوره ذاته؛

۞ ۞ ۞

عادل "اڅکزی"

# لوی ذات

اې د کُل عالم څښتنهﺞ!
سر ځوړند لاس په دعا یم
ستا له ببري مې زړه رېږدي
یم غوښتونکی ستا د فضل
ستا د زور اندازه نه سي
د یوۀ چا دماغ کولای
کاینات ستا و لویي ته
د ذرې برابر نه دي
ته پخپل قدرت څښتنهﺞ!
په هر څه باندې قادر یې
زوروره؛ زورور یې
ته مې ربﺞ زه دي بنده یم
ته لایق د هر صفت یې
خو سپوا له عاجزۍ نه

عبدالاحد "حماد"

# حمدشريف

ستا د مينې مجنونان يو ستا په مينه باندې پايو
يو کم سل نومه دې خدايه! په ښو د يار کې وايو

واړه ستا د لټون شور دی د رنګونو په سراب کې
څوک دې اوري له ربابه څوک دې ګوري په ګلاب کې
څوک د طورپر سرلاهو شول ستا د حُسن په ګرداب کې
منصور تا د ځان په پاڼه، ملا دې لولي په کتاب کې
بس د هر جانان په سترګو او د وريځو په محراب کې
ښايي ستا د نور جلوه وي په دې ښکلي شان حجاب کې
زار ترې سل زره هستي شه ستا په مينه کې پنا يو

دا د کوم ښايست لټون کړي ستا خليل په سره انګار کې
دا د کوم عشق مستي چې "خُبيب" خاندي په دار کې

دا د کوم هجر آواز دی په شپېلۍ او په سيتار کې
دا د کوم نقاش انځور دی په ګل ځانګو او چنار کې
دا د کومې وږمې لاس دی د سپرليو په سهار کې
دا موزون الهام د چا دی پاس د زاڼو په کتار کې
ستا د وصل لار راښيه ته دانا موږ نابينا يو

د ښايست په کرشمو کې د ارواحو رمې پيايو
ترنم اخلو له تورو ستا عظمت ورباندې ستايو
موږ مېَن ستا پر ديدار يو لاروي د کربلا يو
د پرهر په سر کو شونډو دې په حمد او په ثنا يو
موږ له ځانه مسافر يو ستا له وجده په نڅا يو
غوڅ کړې موږ د تدبير مراندې له رندانو سره ښايو
موږ په نور باندې اوبه کړې مونږه تږي د رڼا يو

۞ ۞ ۞

عبدالاحد "حماد"

# نعت شریف

د ښکلا بزم غوړېده چې عرش ته لاره وته
د مینې تنده ماتېدله له خماره وته

جاه او جلال د پیغمبر په هسې شان وو ځرګند
په تش کاته به یې سپوږمۍ هم له مداره وته

په ګلابي رخسار کې راوړه تجله د توحید
د هر بودا زړه لړزېده ساه له زناره وته

د ناز مسکا به یې زړه داسې له حجابه ویست
ته وا د لعلو خزانه وه له ښاماره وته

چې انسانیت د جهالت منګول کې ساه ورکول
هغه پیړۍ خدایږو د کرکې له انګاره وته

کـه رقیبـان ترېنـه چـارپېر وه خـوځلا د جبـین
لا خورېـده لکـه ګلونـه چـې لـه خـاره وتـه

رښـتیا د وینـو فـوارو یـې کـړل رنګـین شـعرونه
د «**حماد**» کړیکه چې د خوږ زړه له پرهاره وته

۞ ۞ ۞

عبدالباري "جهاني"

# حجة الوداع

په سره اهاړکي د غونډۍ پر څوکه
چیرته ولاړ و نازولی د خدای
ورته راټول وه بې حسابه خلک
چې واوري څه وايي ښاغلی د خدای
هغه د نور د دریابونو څښتن ﷺ
چې ورسره وې آیینې د جانان
هغه د سولي او ورورۍ پېغمبر
هغه د تورو د میدان پهلوان
چې یې تندي یوه سجده منله
چې رانسکورې کړل د خټو خدایان
چې یې د جهل پر تیارو خپره کړل
رڼا د عقل پلوشه د ایمان

هغه د حق د سپينو تورو ژبې
تندر په کور کې د باطل او شيطان
سترګې او لاس يې کړل اسمان ته پورته
هغه د عدل او انصاف قهرمان
ويل يې وا ورېځه به تل نه يمه
ستاسې له مينځه بل جهان ته ځمه

ما مې کتاب درکړ د لارې مشال
پر هغه لاره خپل جانان ته ځمه
مقدس وګڼئ د بل مالونه
درته حرام دی مال د هر مسلمان
پام کوئ ويني چې د چا توی نه کئ
چې په غصه به سي مالک د جهان
د ژوند مالک د اسمانو نو ځښتن
خرابه نه کړې څوک بنا د يزدان
پکښې پيدا کئ د حق سپيني لارې
درته پرې ايښی مې کتاب دی قرآن
په امانت کې خيانت و نه کئ
چې څوک آزار نه کئ د خدای بندګان

دا بـل وصـيت مـي دی د ښـځي پـه نـوم
دا ښايـسته رنګـين مخلـوق د سـبحان
ښـځه د کـور ښـځه د ژونـد زينـت ده
ښـځه نـاموس دی ښـځه مـور د انـسان
ښـځه ښايـسته لکـه د ګلـو ګېـډۍ
ورکـړی رنـګ د جنتونـو باغبـان
ښـځي لـه غېـږي دي تـر ګـور ملګـري
د غـم ښـادۍ د کـور او اور ملګـري

د حـق مـشال ويلـه خلکـو ! واورئ
د حـق پـه مـخ کـي انـسانان دي يوشـان
عـرب، عجم کـه پـه رنـګ تـور کـه سپين دي
پـه تـرازو کـي د يـزدان دي يوشـان
هلتـه عمـل دی د هـر چـا ملګـری
صـاحب، غـلام او سـلطانان دي يوشـان
ټولـه پـه امـر د سـبحان رهـي سـئ
نـه چـي پـه لاري د شـيطان رهـي سـئ
هغـه د ښـمن دی د آدم د اولاد
هـم بـه مـو ديـن او هـم دنيـا کـي برباد

که وصیتونه مي د چا وي په یاد
په دوارو کونو به یې زړونه وي ښاد
د حق مشال وکړې ورستې خبري
چې لګېدي لکه خوږې شکري
ځو ورځې وروسته خپل جانان ته ستون سو
له فاني کوره بل جهان ته ستون سو
سوه دا نړۍ په اجاره د شیطان
زړونو ته ولاړه وسوسه د شیطان
لاري د حق سوې په تیارو کې پټې
پر وینو وسوه غلبه د شیطان

د خلکو هېري سوې وروستې خبري
له زړونو ولاړې د ورورۍ خبري
له هغه دمه تر دې دمه پوري
له آسمانو د غضب کاڼي اوري
د مځکې مخ د وینو رنګ اخیستی
لا یې پخوا دي ورځې سختې نوري
هغه د عدل او انصاف قهرمان
په وروستۍ ورځ یو حقیقت کړ بیان

چې زه پر مځکه یم وروستی پیغمبر
بل درته نه راځي له خدایه رهبر
ما درته راوړ له اسمانه کتاب
له خپل خالق له خپل جانانه کتاب
پکښي ځرګند دي د جهان لاري دي
هم د رحمان هم د شیطان لاري دي

۞ ۞ ۞

عبدالباري "جهاني"

# رازونیاز

زه چې د شپې ستا د لیدو په تمه
د خوب او خیال تورونه وغوړوم
زه چې سوالګري سجدې ولمبوم
نو د سوالونو ځنځیر وشرنګوم

جانانه! زه د وصل تږی نه یم
زه درنه سترګې د لیدلو غواړم
زه مې سوالونو ته جواب لټوم
زه درنه غوږ د اورېدلو غواړم

که د نسیم په قدم نه یې روان
دا د ګلونو کاروان څوک خوځوي
دا د غوټیو ګرېوان څوک څیروي
دا د رنګونو باران څوک اوروي

که ته په تندر په توپان کي نه يې
که ته په کور د شنه آسمان کي نه يې
که د شبنم پر اوږو نه الوزې
که ته په څاڅکو د باران کي نه يې

نو دا د قهر زلزلې د چا دي
دا د رنګونو قافلې د چا دي
دا بې حسابه آيينې د چا دي
دې آيينو کي ننداري د چا دي

که د شيريني په تصوير کي نه يې
چا د فرهاد ګلنګ ته زور ورکړی
که د مجنون افسانې نه جوړې
چا د دښتونو پر مخ شور کړی

که دې منصور ته څه ويلي نه وه
څنګه يې ستا په مخ کي ځان وليدی
ځکه يې چيغه د حق پورته کړله
چي آيينه کي يې يزدان وليدی

کــه تــه پــه خپلــه پــه صــنم کــي نــه یــې
د کــاڼو پــښو تــه ســجدې ځــوک ور ولــي
کــه ســتا لــه ګوتــو ښــکلا نــه را اوري
دا هنګامــــه د مینــــي ځــــوک پــــاروي

ســــتا کرشــــمه ده لــــه شــــهبازه ســــره
چــي پــر ســیتار بانــدي لمبــې بلــوي
چــي پــه رګونــو کــي ســکروټي اوړي
چــي ترانــې یــې لپونتــوب پــاروي

ســتا کرشــمې پــه ســور کــي ســوز راولــي
دا ســتا آواز دی چــي نغمــه نغمــه ســي
د تــاک پــه وینــه کــي ســتا مینــه ګرځــي
دا ســتا مــستي ده چــي نــشه نــشه ســي

نــه د شــیریني نــه لــیلا حُــسن دی
دا ســتا ښــکلا ده چــي جلــوه جلــوه ســي
جنــون لــه تــا دی زولنــې لــه تــا دي
ســتا هنګــامې دي چــي پلمــه پلمــه ســي

د تـــورو شـــپو تنګـــو حجـــرو امامـــان
ســـتا د قـــدرت ننـــداره څـــه پېژنـــي
د تـــش کتـــاب د تـــورو کرښـــو مـــين
ســـتا د جمـــال پلوشـــه څـــه پېژنـــي

دا پـــه زړه تـــور ړانـــده کاڼـــه وګـــړي
ســـتا د ليـــدلو اوريـــدلو نـــه دي
ســـتا د محفـــل شـــمعې تـــه نـــه دي پيـــدا
ســـتا پـــه لمبـــه د ســـوځېدلو نـــه دي

څوک دي په جوګ څوک دي په ذکر غواړي
څوک دي په اور څوک دي اوبو کې ګوري

جانانـــه! مـــا تـــه هغـــه ســـترګې راکـــه
چـــې تـــا پـــه ټولـــو آيينـــو کـــې ګـــوري

۞ ۞ ۞

عبدالباسط "وارث زوی"

# نعت شریف

سراسر خزان په تلو شو بهار راغی
په رښتیا د دواړو کونو سردار راغی

هر یو ګل و په خندا او خندېدی به
د سپرلي د ژیړو ګلو ګلزار راغی

دا قدرت او لوی نعمت د پاک الله و
چې د جهل تورو شپو کې سهار راغی

لعنتي شیطان دنیا کې په سور اور شو
چې د دین او د اسلام نګاه دار راغی

ماتم ګډ شو په کفارو زلزله شوه
نازنین او ماه جبین یو رویدار راغی

نه په پټه، نه پناه، نه په غاییه
هر یو ګوټ ته د جهان په اظهار راغی

«**_عبدالباسط_**» به هغه وخت شمه خوشال
که مې څنګ ته یا د میني رویبار راغی

۞ ۞ ۞

عبدالرازق "حقيار"

# نعت شريف

اې وياړ د درست جهانه، زما دې لاس ستا دې لمن وي
نسته بل څوک ستا په شانه، زما دې لاس ستا دې لمن وي

که ياسين دی که طٰه ده ستا په مدحه معطر دې
څو مره يې پر الله ګرانه، زما دې لاس ستا دې لمن وي

له آدمه(ع) را نيولې تر عيسىٰ(ع) بن مريمه
واړه ستا دې ثنا خوانه، زما دې لاس ستا دې لمن وي

لکه لمر ته په يو داسې چاپېريال کې را څرګند سوې
چې تيارې وې تر آسمانه، زما دې لاس ستا دې لمن وي

هغه قام چې کله هم چا پاچاهي پرې کوی نه سوه
تا ترې جوړ کړه اصحابانه، زما دې لاس ستا دې لمن وي

۞ ۞ ۞

عبدالرحیم "مسلم دوست"

# ثنا

ښکلې وکړو ابتدا ستا د ثنا
ربه! نشته منتها ستا د ثنا

هر بنده که دي په زړ ژبو ګویا شي
وبه نه شي انتها ستا د ثنا

ده نړۍ ستا په ثنا باندي ودانه
لمر سپوږمۍ کي ده رڼا ستا د ثنا

موجودات او کائنات دي ثنا وايي
لاده لویه اقتضا ستا د ثنا

هیڅ شیبه ستا د ثنا نه خالي نه ده
ذکر وي بیګا سبا ستا د ثنا

لـه تـا پرتـه ربـه ځـای د پنـا نـشته
مـوږ تـه راکـړه ښـه پنـا سـتا د ثنـا

سـتا ثنـا وايـو خالقـه! تاتـه اړيـو
مـوږ بـه تـل غـواړو اسـتغنا سـتا د ثنـا

ربـه تـل تانـه توفيـق د ثنـا غـواړو
«دوست» تـه ورکـړه اعتنـا سـتا د ثنـا

۞ ۞ ۞

عبدالرحيم "مسلم دوست"

# نعت شريف

مولـود چي په مکـه کي هويـدا شـو محمـد ﷺ
تيــارو د جهالــت لــره ســبا شــو محمــد ﷺ

حـرا نـه را څرګنـده شـوه سـپوږمۍ د رحمتونـو
تربږمـــۍ د فـــسادونو تـــه رڼـــا شـــو محمـــد ﷺ

مظلوم کره خوښي شوه د يتيم او ښکې شوې وچې
ســمون لــره بــدلون لــره پيــدا شــو محمــد ﷺ

د ظلـــم غلبـــې وې د ســـتم تـــوري پـــردې وې
تـــورتم د ګمراهـــۍ تـــه رهنمـــا شـــو محمـــد ﷺ

رحمـت شـو بـې تـوپيره برابـر ګـردې نـړۍ تـه
انـسان لپـاره زيـرى پـه ريـښتيا شـو محمـد ﷺ

سـودونه وو ظلمونـه وو نـړۍ ټولـه بيمـاره
دې ګـردو کړاوونـو تـه دوا شـو محمـد ﷺ

وروري او همـدردي او عـدالت وو نړيـدلي
دې لـوړو ارزښـتونو تـه ځـلا شـو محمـد ﷺ

لمـسون وبـې بـاکي وه بـې لاري حـق تلفـي وه
دې ټولـو بـدرنګيو تـه ښکلا شـو محمـد ﷺ

الفـت شـو محبـت شـو لياقـت شـو صـداقت شـو
بيمـارو پرګنـو تـه مـسيحا شـو محمـد ﷺ

لـه ټولـو خطرونـو بـې پـروا عـالي جـرأت وو
پـه بـدر او اُحـد کـې بـرملا شـو محمـد ﷺ

لارښـود او پيغمبـر دی همېشه د حق پـه خـوا وو
لـه ټولـو بربـاديو نـه جـلا شـو محمـد ﷺ

هـلاک بـه «***مسلم دوسته!***» مخـالف د محمـد وي
هـر چـالره قـدوه او مقتـدا شـو محمـد ﷺ

۞ ۞ ۞

عبدالرحيم "مسلم دوست"

# مناجات

زمــوږه ربــه ج! اې زمــوږ د امیــدونو ربــه ج!
د کائنـــاتو د پیـــدا او د رازونـــو ربـــه ج!

د مخلوقـــاتو د بقـــا او د پنـــا څـــښتنه ج
اې د نــړۍ د هـــر زوال او ارتقــا څـــښتنه ج
د لـویې ځمکـې اسـمانونو او خـلا څـښتنه ج
په هر یو کار د خپلې خوښې او رضا څښتنه ج

اې د اجرامـــو او ذرو او د رمزونـــو ربـــه ج
د کائنـــاتو د پیـــدا او د رازونـــو ربـــه ج

د اضـــطراب او تزلـــزل او د بـــدلون خالقـــه ج
د اطمنـــان او د قـــرار او د ســـکون خالقـــه ج
اې د جنګونـو د ورانیـو او شـبخون خالقـه ج
د روغـې جوړې او د سولې او سـمون خالقـه ج

د انبیـــاوو پرښـــتو او کتـــابونو ربـــه ج
د کائنـــاتو د پیـــدا او د رازونـــو ربـــه ج

اې په فکرونو اندېښنو زموږ په کړو خبره
پـه دې غمیـزو او زخمونـو او زګېـروو خبـره
زمـــوږ پـــه ټولـــو نـــاروا کـــړو وړو خبـــره
د هـــرې پـــانې پـــه کېـــدو او پرېوتـــو خبـــره

پـه حـال مـو رحـم وکـړه اې د رحمتونـو ربـه ج
د کائنـــاتو د پیـــدا او د رازونـــو ربـــه ج

موږ ګناهکاریو ته رحمان یې هم رحیم مالکه ج
موږ خطاکاریو ته غفوریې هم کریم مالکه ج
کـه مـوږه سـر غـړوو تـه یـې هم حلیم مالکـه ج
موږ بندګان یو تـه الله ج یې اې عظیم مالکه ج

اې مهربانــه شــه راتېــر لــه ګنــاهونو ربــه ج
د کائنـــاتو د پیـــدا او د رازونـــو ربـــه ج

نېکي مو نشته خو تا یو ګڼو توحید دې منو
قرآن منو قیامت منو وعد او وعید دې منو

ستا ټول صفات منو ، تا منو حمید دي منو
حاکمیت یوائې ستا منو مجید دي منو

چارې مو سمې کړه د ژوند او د مرګونو ربه ج
د کائناتو د پیدا او د رازونو ربه ج

۞ ۞ ۞

عبدالرشيد "مخلص"

# مناجات

تـــه خـــالق د کاینـــاتو، تـــه پاچـــا د پاچاهـــانو
تـه رحمٰـن یـې تـه رحیم یـې، تـه کـریم د کریمـانو

ته ساتونکی د جهان یې، ته واکمن او ته سلطان یې
د عـالم روزي رسـان یـې، لـه انسـان نـه تـر پېریـانو

د دې ټولـو مخلوقـاتو، کـړې سـاتنه لـه آفـاتو
متـصف یـې پـه صـفاتو، تـه یـې مـل د صـابرانو

ربه زه خو یم بې کسه، ډېر په تنګ یم له ناکسه
وتـی نـه شـم لـه قفسه، تـه یې کس د بې کسانو

لاس او پښې یې را تړلي، خولـه یې هم راتـه ګنډلي
بـس ولاړ یـم پـه انګـړ کـي، د ناترسـو قـصابانو

یم ولاړ په لویه لار کي، د مرګي په انتظار کې
ربه ستا په لوی دربار کي، په قطار د ملنګانو

د هر چا در ته چي لاړم، تش راستون شوم تا ته ژاړم
خدایه! خیر در څخه غواړم، د بې وزلو افغانانو

ته منظور زما اخلاص کړه، پر «مخلص» دي کرم خاص کړه
زما ربهٔ نور مي خلاص کړه! له سلطې د بنده ګانو

۞ ۞ ۞

عبدالغفار "مظلوم جان"

# نعت شريف

وړانګي دي خورې سوې پر نړۍ لکه د لمر ساقي
ډېرېپ معتبر ساقي
خدای ﷻ درته دوه ځایه پر اُفق کړله قمر ساقي
ډېرېپ معتبر ساقي
ستا پر نامه جوړه کلمه سوه ډېر عزت لرې
څومره شرافت لرې
پاک دي رسالت دی پاک رسول د پاک اکبر ساقي
ډېرېپ معتبر ساقي
دین ابراهیمي دي و هر کونج ته رسولی دی
حق دي حق منلی دی
تا اصحاب کهف کړه هم خبر خیرالبشر ساقي
ډېرېپ معتبر ساقي

ستا اُمت ته پاک جلیل د خیر اُمت ویلی دی

ډیر ښه یې ستایلی دی

ستا اُمت پر ټولو اُمتو باندې بهتر ساقي

ډیر یې معتبر ساقي

زه ستا صدقه سم نازولې! «*مظلوم جان*» یمه

هر وخت په ګریان یمه

خوښ یم چې خاکروب دې سم په ژوند کې ستا د در ساقي

ډیر یې معتبر ساقي

۞ ۞ ۞

عبدالغفار "مظلوم جان"

# مناجات

خدايه! ﷻ زړه کړې را روښانه لکه لمر
په تياره کې يې مُدام کړې منور

ستا د رحم او کرم په لوی درياب کې
را صفا يې کړې وجود لکه ګوهر

چې پر سربانديې مې لمريوه نېزه سي
غواړم غسل په شرابو د کوثر

د جانان ديدن مې دومره په نصيب کړې
چې رقيب مې وي له قصده در په در

د محمد ﷺ په وسيله پروردګاره
ستا ديدار را په نصيب کړې په محشر

ته الله ﷻ يې ته غني يې ته غفار يې
زما عاجزه عاجزي ده پر سرسپر

ستا حضور ته لاس په لپه يم څښتنه! 
«مظلوم جان» ستا په انوار کړې بختور

۞ ۞ ۞

عبدالغفور "لېوال"

# پر فلسطين يوه بله ژړا

های!
د داؤد او سليمان هيواده!
خاوره دې وينو سره ګډه ختېه
او هر دېوال دې د انسان له سويو چيغو نه رنګ
موږ ستا تصوير کې د پر څه نوي وينو:
يو ماشوم څنګه په ګولۍ سوری کېږي
او يو ځوان څنګه ځنکدن کوي
پر ځمکه باندې خوله لګوي
يوه مور څنګه د اسمان لوري ته مخ اړوي، چيغې وهي
او د څلورو مياشتو ښکلی هلک
لکه ويده چې وي په خپلو راوتليو کولمو لوبې کوي
موږ د اقصیٰ له دېوالونو سره جنګ د چيغو هم وليده

او د زلمیو د سلګیو انګازې چې د شرقي دېوال

تر خښتو رسي!

هیڅ پیغمبر د دومره وینو خوب لیدلی نه و،

موسٰی!

عیسٰی!

آخر زمانه نبی!

ګورئ! انسان

لکه یو وړی لېوه

د بل انسان پر غوښو غاښ تېروي

هغه انسان چې تاسو!

د دغې ځمکې پر سر

د مخلوقاتو خلیفه وټاکه

هغه انسان اوس د ماشوم پر وینو

د خپل مذهب دعا په فخر لیکي

هغه انسان د خدای رضا

د بورو ورارو په غوغا کې ګوري

هیڅ پیغمبر په خپل هیواد کې د سیاست په نامه

د فاجعې حکومت نه و غوښتی

های!

د داؤد او سليمان هيواده!

يو ځل زخمي لاسونه وخوځوه

پاس د آسمان خواته يې لپه يوسه

د ټولو سترو ارواګانو لمن وننګوه!

يو ځل پوښتنه وکړه

چې داسې ولې کېږي

ولې د هيچا په سينه کې زړه د غوښې نشته

ولې سندره د لېوه د غاښو

او د تنکي ماشوم د غوښو لاهم

د مدني انسان په غوږ ښه لګي؟

۞ ۞ ۞

عبدالقادر "مفتون"

# حمد مبارک

په قضا یم ستا رضا یا لوی څښتنه ﷻ
یم رازي بې انتها یا لوی څښتنه ﷻ

هم رحیم یې هم رحمٰن یې هم صمد یې
هم قادِر پر هره خوا یا لوی څښتنه ﷻ

موجودات او کاینات واړه له تا څه
هم زمین او هم سما یا لوی څښتنه ﷻ

منزه یې پاک دي نوم دی پاک دي شان دی
له هر عیبه تر هر چا یا لوی څښتنه ﷻ

یک تنها دی دي قدرت پر دوه جهانه
بې وزیره یې پاچا یا لوی څښتنه ﷻ

د اتلــــس زره قــــام روزي رســــان يــــې
پــر بنــارو او پــر ســارا يــا لــوی څــښتنه ﷻ

پــه خولــه شــکر پــه زړه حمــد او ثنــا وايــم
چــي احمــد لــرم پېــشوا يــا لــوی څــښتنه ﷻ

د «***قــادر مفتــون***» ځګېــروی دی ســتا حــضور تــه
غــواړي امــن پــر دنيــا يــا لــوی څــښتنه ﷻ

۞ ۞ ۞

عبدالقادر "مفتون"

# نعت شريف

نـــازولی قـــدرمن پـــر پـــاک احـــد دی
محمـــد (ص) دی، محمـــد (ص) دی، محمـــد (ص) دی

اول ســـتوری پـــر اســـمان و راختلـــی
آخـــرين پـــه انبيـــاوو کـــي احمـــد ﷺ دی

پـــه جنـــت کـــي د بـــراق پـــر تنـــدي نـــوم دی
پـــر نويـــشته کـــړی پـــاک رب الـــصمد دی

ســـرنگون چـــي پـــر اســـمان اويـــس قرنـــي دی
د الله ﷻ شخـــه د ده ديـــدن مقـــصد دی

پـــر کعبـــه بانـــدي اول نـــوم د ده ليـــک ســـو
الله ﷻ هغـــه وخـــت ســـتايلی تـــر دا حـــد دی

چـــي دی ســـترگي پټـــي ســـي ***«قـــادر مفتونـــه!»***
شـــفاعت دی د حبيـــب (ص) نـــوم پـــر لحـــد دی

۞ ۞ ۞

عبدالقيوم "مينه وال"

## اې محمده! ﷺ

چا چې خپل لاس ستا په ګرېوان کې اچولی نه دی
هغه سرکښ د زمانې پاک رب ج بخښلی نه دی

ستا د سپين مخ په جلوه، چا چې پاکې سترګې نه کړې
هغه محفل کې د رندانو چا ستايلی نه دی

ستا د فرقان زېرې نه، چا چې تل دی څنګ وهلی
هغه زقوم د جنت بڼ کې ټوکېدلی نه دی

ستا فلسفه د رسالت چې چا منلې نه ده
هغه تورکاڼی چا لعلونو کې شمېرلی نه دی

د نور بشر تر منځ چې رب ج ستا خلقيت کړ څرګند
هغه معراج د غه مقام بل چا ليدلی نه دی

چا چې په زړه کې مينه ستا ده، تل جنت بللې
هغه مين د دوږخ اور کې سوځېدلی نه دی

هر «***مينه وال***» ستا د وره خاورې تل په سترګو وهي
وايي بل دا رنګه غمخور موږ ته راغلی نه دی

۞ ۞ ۞

عبدالقیوم "مینه وال"

# نعت شریف

پــــه ژړا درتـــــه ولاړیمـــــه خنـــــدا راولېـــــږه
ارمــــان مـــې د زړګــــي محبوبــــه ســـتا راولېـــږه

ذرې ذرې زړګـــی مـــې اې حَـسینه ولـــې ســـوځې؟
د عـــــشق پـــــه ســـره مجمرکـــــي مرحبـــــا راولېـــږه

قربان له شوخ نظره چې دا ستا، پر جهان پرېووت
خجـل یــې لمـر سـپوږمۍ کـړل تـل همـدا راولېږه

د سترګو په شب قدر دي جهـان ټول برخمن سو
د زړه وحـــرم ګـــاه تـــه مینـــه ســـتا راولېـــږه

تحفــه د الــصلوٰة لــه «***مینــه والــه***» کــړه قبولــه
تحفـــــه د شــــفاعت پـــــه حـــشرګاه راولېـــږه

۞ ۞ ۞

عبدالله "ستوری"

# نعت شریف

زمـا د سـر تـر سـترګو ګـران دی محمـد ﷺ
زمـــا د هـــر زخـــم درمـــان دی محمـــد ﷺ

د نـړی پـر ګـُره بانـدي چـي څرګنـد سـو
لـوی احسـان د پـاک سـبحان دی محمـد ﷺ

د ګـرداب څخـه يـې راوسـتو سـاحل تـه
ښـــکلی زېـــری د امـــان دی محمـــد ﷺ

د ژونـدون پانګـه مـي ټولـه تـرې واري سـه
بـــس بريـــا د هـــر تـــاوان دی محمـــد ﷺ

هره ساه دي «***ستوري!***» درود پر محمد ﷺ سه
ســتر لارښــود دي د ايمــان دی محمــد ﷺ

۞ ۞ ۞

عبدالله ''ستوری''

# نعت شریف

ځـــو چـــي دا جهـــان ودان وي محمـــد ه ﷺ
پـرې بـه لمـر سـتا د احـسان وي محمـد ه ﷺ

ســتا بـې مینـي مـو د زړونـو واک پـردی دی
پـرې واکمنــه بــه شـیطان وي محمـد ه ﷺ

د وختونـــو پاچاهـــان چـــي درلـــه راســـي
ســتا کوڅــو کــي ملنګــان وي محمـد ه ﷺ

شـــاعري د شـــاعرانو دي میـــراث ســـي
پکـښي کـم چـي سـتا بیـان وي محمـد ه ﷺ

نـن د «***ستوري***» پـر زړګـي بـل ارمـان نـسته
بـس ارمـان یـې سـتا ارمـان وي محمـد ه ﷺ

۞ ۞ ۞

عبدالله "ستوری"

# د هدایت لمر

لمـــر د هـــدایت دی جهـــان ټولـــه پـــه روښـــان دی
جـــار تـــر محمـــد ﷺ ســـمه زمـــا د زړه جانـــان دی

د سپین تندي له آینې یې د یاسین وړانګې را اوریږي
وَضُـــحٰی ښـــکلی صـــفت دی او طٰــهٰ د ده بیـــان دی

زلفې یې وَاللَّیۡلِ اِذَا یَغۡشٰی دي پاس د سپوږمۍ مخ پر هینداره
تـــاج د رســـالت یـــې پـــر ســـر یـــښی پـــاک ســـبحان دی

ځي تر جنته هغه لاره چي محمد (ص) قدم پرې ایښی
څوک چي پرې روان سي ژوند یې ټول په امان دی

د زلفو تال چي په لاس راغلی «ستوری» د ژوند په مفهوم پوه سوم
بـــې د یـــار د مینـــې ژونـــدون سراســـر تـــاوان دی

۞ ۞ ۞

عبدالله "ستوری"

# ترانه

ښکلی قرآني قانون دا زموږ شعار دی
ورونو! الٰهي قانون دا زموږ شعار دی
زده کړه د قرآن کوو ګټه د ایمان کوو
فقه احادیث سیرت دا ښکلی بیان کوو
زړو ته مو رڼا راوړو ژوند ته مو ښکلا راوړو
تاسو ته د دین طلا زما ورونو وړیا راوړو
ږغ به د بلبلو وي وږم به د ګلو وي
زموږ د هر بلبل نوا رنګ به په غزلو وي
دلته د قرآن کیسې اورو د جانان کیسې
ستوری او سپوږمۍ غوندي د کي له احسان کیسې
ستاسو پر دستار باندي ښکلي ګلابونه ږدو
تاسو ته د ژوند پر لار سپین سپین مشالونه ږدو
لمر د هدایت غواړو خدای څخه نصرت غواړو
«***ستوري!***» پر نړۍ باندي ژوند د سعادت غواړو

۞ ۞ ۞

عبدالله "ستوری"

# د ښکلا جامې

زما په ژوند، زما په زړه، زما په ارواکې ته يې
زما د مينې او خيالونو په دُنيا کې ته يې

زه چې ماشوم وم مه ليدل به مې دا درې خوبونه
چې په مُغان او په مسجد او خانقا کې ته يې

تا د ښکلا جامې اغوستې دي د نور خېمه کې
د خپلو سپينو سپينو وړانګو په رڼا کې ته يې

دلته هر ګل ستا له رنګونو څخه رنګ اخيستی
د طبيعت د ښکلاګانو په ښکلا کې ته يې

چې توري سپيني تسبيح اړوم د ژوند په تار کې
په ذکر، فکر به د «**ستوري**» هره ساکې ته يې

۞ ۞ ۞

عبدالله "ستوری"

# د میني آذان

پــه هــره ســا کــي د نــوم ذکــر د جانــان کومــه
ورســره مینــه، مینــه، مینــه پــه ایمــان کومــه

د تروږمـی خلـک رابـولم د سپوږمی کعبې تـه
د ژونــد ممبــر بانــدي د مینــي خــوږ آذان کومــه

د ژوند زبور، د روح تورات، د زړه انجیل مي ترې جار
چــي تــلاوت کلــه د ســترګو د قــرآن کومــه

ژوند مي دي خاوري سي ایرې سي چي د یار په ښنو کي
چــي ناشــکري یــې د کــرم او د احــسان کومــه

چي روح مي واخلي فرشتې د یار له غیږي څخه
«ستوری» شېبه شېبه د داسي ورځ ارمان کومه

۞ ۞ ۞

عبدالله "ستوری"

# د ستورو ډیوې

چې ستاد میني لمونځ کومه بس قبله مې ته یې
د زړه حرم کې مې ودانه یې کعبه مې ته یې

تا د تیارو څخوته راوړلې ډیوې د ستورو
د ژوند نرۍ مې رنګینه سوله ډیوه مې ته یې

زما په بربنډ بشر دي واغوستې جامې د احسان
په تاکي ځان سینګاروم د ژوند آینه مې ته یې

د تروږمۍ پر سر دي تاو کړی د سپوږمۍ پوړنی
چې د رڼا څیله کې لامبم وسیله مې ته یې

ما د ایمان «***ستوری***» تومبلی ستا په تور اوربل کې
د زړه پر سر مې نویشته یې وظیفه مې ته یې

۞ ۞ ۞

عبدالمالک "عاطف"

# حمد شریف

تــه خــالق د کــل جهــان یــې پاکــه ربــه ج
تــه غنــي او مهربــان یــې پاکــه ربــه ج

تــه رحیم یـې، تــه کـریم یـې تـه غفـور یـې
تــه قــادر غنــي رحمٰــن یــې پاکــه ربــه ج

پــــاچهي او بــــاداري تــــالره ښــــایي
تــه د دوو کونــو ســلطان یــې پاکــه ربــه ج

تــه بــاري یــې تــه رازق یــې کردګــاره ج
د هــر چــا روزي رســان یــې پاکــه ربــه ج

کاینــــات تــــا پیــــدا کــــړي دي خالقــــه
پــه قــدرت کــي عالیـشان یـې پاکـه ربـه ج

ته قایم يې ته حاکم يې ته دایم يې
بې له شکه جاودان يې پاک ربه ج

همیشه ته رسنده او پاینده يې
ته د هر مشکل درمان يې پاک ربه ج

حیوانات که نباتات که جامدات دي
ته خالق د ټول جهان يې پاک ربه ج

په بخښنه مو ته وبخښې خالقه
ته تر مور پلار مهربان يې پاک ربه ج

زه «**عاطف**» دي مدام حمد و ثنا وایم
ته ساتونکی په هر آن يې پاک ربه ج

۞ ۞ ۞

عبدالمالک "عاطف"

# نعت شريف

تـه رسـول د پـاک سـبحان يـې محمـده ﷺ
بې لـه شکه پر موږ ګران يې محمده! ﷺ

تـه هم نـور يـې هم انـسان يې محمده! ﷺ
تــه نبــي آخــر زمــان يــې محمــده ﷺ

د امـت غـم دي خـوړلی پـاک نبـي (ص) يـې
تـه غمخـور د هـر انـسان يـې محمده! ﷺ

چـې بـشر دي لـه تـورتم څخـه راويوسـت
تـه هـادي د کـل جهـان يـې محمـده! ﷺ

رب بللــی وې معــراج تــه پــه نــازونو
نــازبــردار د مــسلمان يــې محمـده! ﷺ

پـه مکـه کـې دې بتـان ټولـه ویجـاړ کـړل
تـه منـشأ ټـول د ایمـان یـې محمـده! ﷺ

آخـرین یـې، اولـین یـې پـه معنـا کـې
ته څښتن د سپین قرآن یې محمده! ﷺ

ملائکـې تـل درودونـه پـر تـا وایـي
تـه سـردار د کـل جهـان یـې محمـده! ﷺ

تـه پیـشوا یـې مقتـداد بحـر او بـریـې
مقتـداد هـر زمـان یـې محمـده! ﷺ

معجـزات دې پـه قـرآن کـې ستا راغلـي
د اسـلام سـتر قهرمـان یـې محمـده! ﷺ

زه «*عـاطف*» دې د دیـدن پـه تمنـا یـم
تـه د هـر زړګـي درمـان یـې محمـده! ﷺ

۞ ۞ ۞

عبدالنافع "ثنا"

# نعت شریف

وګوره قدر چې خالق مې د مقام کړی دی
د مرسلانو امامت زما امام کړی دی

هغه تر زړونو د اخلاقو په زور لاره وکړه
هغه په زړونو کې د بدو قتل عام کړی دی

اوس ماشومانو ته ځان درونند ښکاري شوخي نه کوي
ورته امير د مدينې لار کې سلام کړی دی

چې محمد ﷺ يې نبوت ته مقرر سو ربه ج
د ګنهکارو دې دا څومره احترام کړی دی

د محمد ﷺ د غلامۍ تاج چې پر سر کړ «ثنا»
په نامدارانو کې اوس نوم دغه ګمنام کړی دی

۞ ۞ ۞

عبدالهادي "عمري"

# نعت شريف

دا رنگينــه مدينــه ده دامــي كلــی د جانــان دی
شنه گنبده چي ښکاريږی پکي پروت نبي سلطان دی

دغــه ښــار د ښايــستو دی نــازولی پکــي اوسـي
د مـولا پـه نـور روښـانه دی ښـاغلی پکـي اوسي
هره دښته هريـوغريـږ د الله ﷻ پـه نور روښان دی

ودې ښار ته گران نبي مو لـه مکې نه مسافر سو
خاص پـه مينه د سبحان دی لـه قريـشو مرور سو
دا وطـن د هاشـمي دی مکـرم پـر ټـول جهـان دی

دلته پروت صديق اکبر دی هم فاروق حضرت عمر دی
د عثمان غني مسکن دی څو مره ښکلی منور دی
مهــاجره فاطمــه ده هــم علــي لــوی پهلــوان دی

د امـــدفن د اصـــحابانو د اُحـــد د شـــهيدانو
دا جنـــت الباقيـــه لـــو هـــديره ده د غازيـــانو
دلته پروت امير حمزه دی د اسلام ستر قهرمان دی

پـــردې خـــاوره محترمـــه جانـــان ايـــښې قدمونـــه
هر سهار او هر ماښام هم باندې اوري رحمتونه
دا محبوب د «عمري» دی ګران نبي (ص) مو قدردان دی

۞ ۞ ۞

عبدالهادي "عمري"

# نعت شريف

يــو ځــل مــي وغــواړه نبــي ســروره (ص)
پــه ټــول جهــان کــي نــوراني ســروره (ص)

شــمس الــضحٰی بدرالــدجٰي مــدني
عطــرين صــورت دي ګلابــي ســروره (ص)

ســتا پــه هجــران کــي پــه اورونــو ســوځم
مينــه دي ډېــره اثــري ســروره (ص)

بــورا د ګــل پــه تمــه شــپې تېــروم
د عــشق پــه دام کــي يــم بنــدي ســروره (ص)

تــريخ مــي دی ژونــد لــه انتظــاره ســره
وکــه نظــر زمــا هاشــمي ســروره (ص)

دا افتخــار دی چــي ســتا مينــه لــرم
د ســترګو تــور د «**عمــري**» ســروره (ص)

۞ ۞ ۞

عبدالهادي "عمري"

# نعت شريف

اې مصطفٰی (ص) مدني دوست د مولا مدني
سلام سلام وايمه خيرالورا مدني

ته مې محبوب يې ګرانه ته مې مطلوب يې ګرانه
تانه قربان سمه زه، ته مې حبيب (ص) يې ګرانه
اې مجتبٰی مدني زما آغا مدني

ستا په انوارو سره سو ټول جهان روښانه
ستا په راتلو جانانه ځمکه اسمان روښانه
اې شهنشاه مدني زمونږ پېشوا مدني

دا د مکې مشرکين دي تا په کاڼو ولي
تا د طايف سرداران په ماشومانو ولي
نور د دنيا مدني زمونږ خېرخوا مدني

مـولا بللـی جانـان، دی د خپـل ځـان پـر لـوري
څـو مره پـه نـازو تللی د پـاک سبحان پـر لـوري
څـــو مره ښـــکلا مـــدني تـــر ګـــل زيبـــا مـــدني

دا ستا مـسکن تـه درځم ستا و مـدفن تـه درځم
د «**عمـــري**» جانانـــه ســـتا و ديـــدن تـــه درځـــم
دا ســـتا رضـــا مـــدني زمـــا رضـــا مـــدني

۞ ۞ ۞

عبدالهادي "عمري"

# نعت شریف

کړي په طایف کي ماشومانو پرې وارونه دي
جوړ د خوږ نبي (ص) پر پاک وجود باندي زخمونه دي

وړی یې وو هلته ګران رسول یو الٰهي پېغام
دا یې فریضه وه رسوی یې اسماني پېغام
دا د خدای ﷻ د لوري نازل سوي چي حکمونه دي

سپین د هدایت څراغ یې وړی و تورو شپو لره
راغی پر نړۍ باندي سهار و تاریکو لره
وړي یې پر دغه لار بېحده تکلیفونه دي

سپین قانون یې راوړ رواجو د جهالت لره
راغی له اسمانه چي فرمان ودې امت لره
هر خوا ته خنثٰی د جاهلانو قوتونه دي

نور څه مي په وس نه دي بس مینه یې پر زړه لرم
یو دیدن یې غواړم بل ارمان پر دنیا نه لرم
دغه «**عمري**» ورته لیکلي څو بیتونه دي

۞ ۞ ۞

عبدالهادي "عمري"

# نعت شریف

کلــه چــي راغـــی پـــر جهـــان هاشـــمي
و تـــورو شـــپو تـــه يـــې رڼـــا راوســـتل
هغـــــه رهبـــــر هغـــــه فـــــاتح مـــــدني
ټـــولي نـــړۍ تـــه يـــې ښـــکلا راوســـتل

انقلابــي جانــان مــي راوړی چــي څــراغ د هــدا
پـــرې منـــوره ســـوله د تورتمونـــو دنيـــا
ســـوله خنثـــی بـــې ديـــن مغـــرور ســـرونه
و انـــسانيت تـــې نـــوې ســـا راوســـتل

سوې بتکدې نسکوري جوړ مسجدونه سوله
د بيت الله پـه غېږ کـي پنځـه لمونځونـه سوله
د تکبيرونـــو چيغـــي پورتـــه ږغونـــه ســـوله
ســـمه او غـــريـــې پـــه غوغـــا راوســـتل

سـول مـشرف انـسانان پـه هـدايت د قـرآن
هـم وه مـشغوله پېريـان پـه معرفـت د قـرآن
ټولـــــه ذره ذره بتــــان د قيــــصر
د نـــور څپــه يـــې پـــه كـــسرا راوســـتل

د اسـلام ديـن يـې راوړ د پـاک سـبحان د لـوري
وحـــي راتلـــې اســـماني د لامكـــان د لـــوري
هغـــه جانـــان د «**عمـــري**» جانـــان دی
لاره د حـــق يـــې پـــه رښـــتيا راوســـتل

۞ ۞ ۞

عبدالوکیل "متین"

# نعت شریف

رهبـــر د جهانیـــانو محمـــد ﷺ مـــدني دی
پیـــشوا د عالمیـــانو محمـــد ﷺ مـــدني دی

پیدا چې محمد (ص) شو نسکور قصر د کسرا شو
په نور د رسالت باندې ئې ټول جهان رڼا شو
ښایـــست د انـــسانانو محمـــد ﷺ مـــدني دی

رڼا یې په تعلیم باندې تورتم د جهالت شو
ثابت یې په قرآن باندې اعجاز د رسالت شو
محبـــوب د متقیـــانو محمـــد ﷺ مـــدني دی

شـفیع چې نـازولی د الله ﷻ د خپـل امـت دی
«**متین**» یې په محشر کې امیدوار د شفاعت دی
غمخـــور د مؤمنـــانو محمـــد ﷺ مـــدني دی

۞ ۞ ۞

عبدالوکيل "متين"

# نعت شريف

رهبر مې په دنيا کې يې، رهبره محمده! (ص)
شفيع مې شه محشر کې، پيغمبره محمده! (ص)

ايستلې مې له زړه نه هره مينه مجازي ده
لرم چې يې له تا سره دا مينه حقيقي ده
دلبر مې يې، دلبر مې يې، دلبره محمده! (ص)

جوړ کړی پاک الله ﷻ دا ستا له مخه ټول جهان دی
ځلاند په هر ارشاد دې لاندې ځمکه پاس اسمان دی
جوهر د ژوند د اصل يې، جوهره محمده! (ص)

په وړانګو د تعليم دې هر تورتم دی رڼا شوی
په لمر د احاديثو دې هر رنځ دی شفا شوی
سرور د کائناتو يې، سروره محمده! (ص)

هغوی چې ستا له لارې په غیر لارې غوره کړي
ګمراه له خپل کاروان نه ټول په ورانو تللي
خبر له خپل امت یې، باخبره پیغمبره! (ص)

نیولې ما «متین» په دواړو لاسو ستا لمن ده
ګدا دې د درګاه یمه خالي زما لمن ده
رخصت مې بېنوا نه کړې، له دره پیغمبره! (ص)

۞ ۞ ۞

عزت الله "اکبري"

# نعت شریف

د بشر په تخیل کې عشق عجیبه کلمه ده
بېګانه سره آشنا کړي څومره ښکلې وسیله ده

رب خدایي خپله ښکاره کړه چې عاشق د پاک رسول شو
چې خالق زما عاشق شو د عشق لویه مرتبه ده

خپل عظیم عرش ته یې بولي، کړي د میني پټ رازونه
عرش کُرسۍ ورته سلام کړي د دوستانو مرکه ده

څنګه سوال یې چې معشوق کړ په رحمت ترې قبلېدلو
هیڅ یو سوال یې رب ج رد نه کړ څومره مینه یې خوږه ده

عرش، کُرسۍ، جنت، دوزخ، فرشتې واړه په تعظیم وې
آسمان ځمکه په سجود و څومره پاکه دغه شپه ده

«اکبري» هیڅ غم و نه کړې ته عاشق د معشوقو یې
له مور پلاره ځنې لویه د دوی دواړو عاطفه ده

۞ ۞ ۞

عنایت الله "خاکیار"

## نعت شریف

قـرآن کـړی دی ذکـر پـه وار وار د محمـد ﷺ
شـیرین دی هـر عمـل او هـر ګفتـار د محمـد ﷺ

دا ټول انسانیت دي په دې وویاړي چي دوی کي
زېـږون د محمـد ﷺ وکـړ بـادار د محمـد ﷺ

د لوی خدای ج اطاعت په اطاعت د محمد ﷺ شي
انکار د خدای ج د دین دی په انکار د محمد ﷺ

چي ژوند دي راکړ خدایه دا توفیق هم راته راکړې
چي لار د ژونـدون پـای کړمه پر لار د محمد ﷺ

تیـارو د نفـرت ځـای د محبـت رڼـا تـه ورکـړی
چي مځکي تـه را کښته شو انوار د محمد ﷺ

نـړۍ تـه یـې وروسـتۍ د هـدایت سـرچینه راوړه
نـور ختـم نبـوت شـولو پـه وار د محمـد ﷺ

دنیـا او مافیهـا کـي مـي همدغـه فخـر بـس دی
سـر لـوړی امتـي چـي یـم «**خاکیار**» د محمـد ﷺ

۞ ۞ ۞

فضل هادي "فضليار"

# اِنعام زما د رب ﷻ

د جانان د مخ په وړانګو کې الهام زما د رب ج دی
پکې پروت ناشکره زړه ته ستر پیغام زما د رب ج دی

الوهیت نه منکرین دې لږ دا ستر جهان ته ګیر شي
څه بې عیبه، منظم، ښکلی نظام زما د رب ج دی

چې نړۍ ټوله د هغه له مثاله ده عاجزه
له اسرارو او قوت نه ډک کلام زما د رب ج دی

اسمانونه ځمکې پرېږده فقط ځان ته فکر وکړه
د انسان بدن پخپله ستر نظام زما د رب ج دی

په هر څه باندې پوهېږي، هر څه اوري، هر څهویني
د نړۍ په هر کوچني او غټ شي پام زما د رب ج دی

که بحرونه یې لیکلو ته شي رنګ او ونې کړکې
لیک به نه کړای شي صفت یې ناتمام زما د رب ﷻ دی

مخلوقات یې همه واړه اطاعت ته پیدا کړي
که بادشاه د دې نړۍ وي هم غلام زما د رب ﷻ دی

دغه توري او الفاظ یې له بیان څخه عاجز دي
په رښتیا چې بې له حده لوړ مقام زما د رب ﷻ دی

امتیانو د خاتم الانبیا کې یې پیدا کړې
«***فضلیاره***» پر تا څو مره لوی انعام زما د رب ﷻ دی

۞ ۞ ۞

قاري جمال الدين "مسافر"

# نعت شريف

برايــي شــپه راســره نــه وپــه جهــان کــې جانــان
ســهار بيــا هــر چــا يــادولی پــه اســمان کــې جانــان

ورپسې هر ځای روح نفس و تر سهاره مدهوش
پــر مځکــه نــه و دا وخــت و پــه لامکــان کــې جانــان

د کاينـات د ښايسته سباوون څرک دی پکښې
ځکه محفوظ د ټول امت دی پـه ايمـان کـې جانـان

عجب سکون محسوسومه تل د زړه په کور کې
لکــه ســړی راســره تــل وي پــه ګومــان کــې جانــان

تــر ټولــو لــوی ثبــوت يــې دا دی د آخــري پيغمبــر
خدای ج بيخي ډېر دی نازولی په قرآن کې جانان

د جهالــت د تــورو شــپو د هــدايت بــل څــراغ
پـاس و د ژونـد پـه هـر هـر قـدم امتحـان کې جانـان

تر دې په ژوند کې زما په خيال د ژوند خوندونه نسته
لکه ماشوم پخلا کوي مې په امکـان کې جانـان

که مو مخ سپين کړي «***مسافره!***» بيا به هيڅ هم نه وي
په ورځ د حشر به حاضر وي په ميدان کې جانـان

۞ ۞ ۞

قاري جمال الدين "مسافر"

# نعت شريف

يــا خــادم د مــديني واى څــه بــه ښــه وو
يـا ملنـګ ستا د روضـې واى څـهٔ بـه ښـه وو

تــر سـيرت دي صـدقه سـم محمــد ه ﷺ !
زمـا پـه تـا سـترګې سـره واى څـه بـه ښـه وو

پــه ژړا ژړا مــې ولګــې د زړه پــرې ســوې
پـه صـلاح مـې فرشـتې واى څـهٔ بـه ښـه وو

پـه دنيـا كـې مـې پـه ژونـد بـل ارمـان نـه سته
ګـرځ غبـار كـه د كعبـې واى څـهٔ بـه ښـه وو

د حجــاز پــر لــوري تــل تــر تلــه يــون واى
د بخـت خلاصـې دروازې واى څـه بـه ښـه وو

«***مســافر***» لــه خپلــه بختــه ګيلــه مــن يــم
ستا په ښنګ كې يو څو شپې واى څه به ښه وو

۞ ۞ ۞

قاري عبدالستار "سعيد"

# رحمة اللعالمين

خـدای ﷻ سـتايلی پـه طٰـهٰ او پـه ياسـينۍ
محمـــد ﷺ ۍ رحمـــة اللعـــالمينۍ

لـــه ده وړانـــدې رڼانـــه وه تـــوره شـــپه وه
د انـــسان ککـــری بـــت تـــه پـــه ســـجده وه
د ژونـــدیو لوڼـــو جـــوړه هـــدیره وه
د هـــر چـــاتوره د ورور پـــه وينـــو ســـره وه
هـــر وحـــشت او بربريـــت کمـــين کمـــينۍ
محمـــد ﷺ ۍ رحمـــة اللعـــالمينۍ

چـــې دنياتـــه رابـــشکاره شـــولو رڼـــا شـــوه
د تيـــارو تـــوره چرچـــه لاړه پنـــا شـــوه

د مکـــې پــه چوپــو لارو کـــې غوغـــا شـــوه
پـــه لـــړزه مـــانۍ د روم او د کـــسرا شـــوه
بـــشريت تـــه د يـــو نـــوي ژونـــد تلقين ؤ
محمـــــد ﷺ ؤ رحمـــــة اللعـــــالمين ؤ

خدای ﷻ ورکړی ستر انعـام تـاج لـولاک ؤ
تـر قـدم لانـدې يـې عـرش واړه افـلاک ؤ
لــه ظــاهر بــاطن داغونــو څخــه پــاک ؤ
نمونـــه د محبـــت ؤ مينـــه نـــاک ؤ
د مکـــې کـــافرانو وايـــې چـــې امـــين ؤ
محمـــــد ﷺ ؤ رحمـــــة اللعـــــالمين ؤ

سراســـــر د کمـــــالونو ســـــمندر ؤ
هـــم اميـــر ؤ هـــم مـــأمور ؤ هـــم عـــسکر ؤ
هـــم تجـــار هـــم سياســـتوال حربـــي افـــسر ؤ
مربـــــي د جـــــامعې ؤ پيغمبـــــر ؤ
پـــه هـــر فـــن پـــه هـــر هنـــر بانـــدې حسين ؤ
محمـــــد ﷺ ؤ رحمـــــة اللعـــــالمين ؤ

لــه يــوې خــوا پــرې عاشــق بــلال حبــشي ؤ
بــل خوا ناســت بــه ورســره صــهيب رومــي ؤ
مـــشاوريـــې د غـــزا ســـلمان فارســـي ؤ
ورتـــه يـــو ؤ كـــه عـــرب كـــه عجمـــي ؤ
تـوري سترګې سپين يې مخ روڼ يې جبين ؤ
محمــــــد ﷺ ؤ رحمـــــة اللعـــــالمين ؤ

د عظيمـــــــو شـــــــمائلو نمونـــــــه وه
وو بـــــشر خـــــو د الله د نـــــور څپـــــه وه
سراســـــر د ښايـــــستونو مجموعـــــه وه
«ســـعيد» وايـــي د ګلونـــو ګلدســـته وه
شـــرمېدل ترېنـــه ګـــلاب ؤ كـــه ياســـمين ؤ
محمــــــد ﷺ ؤ رحمـــــة اللعـــــالمين ؤ

۞ ۞ ۞

قاري عبدالستار "سعيد"

# د حُنین غزا

﴿...وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ...﴾

بیتـه د خـدای شـوه خلاصـه لـه بتـانو
نـن ځـي مـخ پـر حُنـین وهـي موجونـه
سـتومانه غرغـرې دي د اوښـانو
فـاتح کـاروان بیـاوتړل توغونـه

پـه تـورو پرښـو سـپین بهیـر بهېـږي
شـرنګی دی د نـالو زرکـي کتېـږي
تیـاره ده پـرې لـه سـتورو رڼـا اوري
اخ ځـار تـرې نبـوي کـاروان تېـږي

د نیـزې پـه شـان ځپـې روان دي
لـږ نـه دي دوولـس زره اصـحابان دي
ډېـرې د مـدني کـاروان ملګـري
څـه نـور د مکـې نـوي مؤمنـان دي

بیاجوش په هوش بر شوی د ځوانانو
په سخته ورځ راوتي تش لاسونه

چې ګوري د زړګونو آسو ځغل ته
بې صبره شي د سپینو تورو ځل ته
د وېر بهیر ګڼو الی یې زړه یوسي
لن نُغلَبَ الیومَ وایي یو بل ته

له ویاړه په جامو کې نه ځایږي
چې غرېو وي د کاروان اسپې ششنېږي
په ویښو سترګو خوب د فتحې ویني
په نویو صفواني زغرو نازېږي

دا حال دی د څو تنو اصحابانو
کړي ریبي څه بل شاني خیالونه

تیاره وه لا شپېږې وې سپیده دم ته
روان بهیر زړه نه غبرا وه تم ته
بې خاره د "اوطاس" په درو سم وه
چې سم شول د "دُرَید" د غشو دم ته

ځلـــور زره ویـــشتونکي ثقیفیـــان وو
پــه څــوکې ناســت پــه تمــه د کــاروان وو
یــو شــرک و، ناڅــاپي د غــشو شــور شــو
یرغـــل نـــه و، ســـم تنـــدر د اســـمان وو

مهـــین کتـــار شـــو مـــات د کاروانیـــانو
غرېـو لـوړ شـو اوښـو پـرې کـړل مهارونـه

څپانـــد بهیـــر پـــه شـــا په تمبېـــدو دی
هــر تــن د ځــان او تــن پــه خلاصــېدو دی
خو پاک نبي (ص) په سپین دلدل لا ښکاري
بې باکه وړانـدي ځي پـه غورځنګـو دی

لـــه غرېـــو ه رَجزِیـــه ترانـــې وایـــي
پـــه ســـپین ډګـــر ولاړ نبـــي (ص) فرمـــایي
"عباســـه (رض)" غـــږ دې وکـــړه پـــه ملګـــرو
پــه مــخ راځــئ پــه شاتېــښته نــه ښــایي

"عبــاس (رض)" وایــي: راوګرځــئ یــارانو!
دریــاد کــړئ تــر "کیکــر" لانــدي لوظونــه

کاروان په یوه غرېبیرته راستون شو
د جنګ ډګر بیا سور لکه ترون شو
زلمو ښه په میړانه میدان یووړ
دا ځل د ثقیفیانو بخت زبون شو

ترې پاته شول د مړیو انبارونه
ولجه شول بې شمیرې مال او سرونه
له مال او غنیمت نه یې زړه سپک دی
غمخوار نبي (ص) بیا نور وهي فکرونه

وه ربه ځه لغزش د مؤمنانو
پر ځای یې چي ټینګ نه شول قدمونه

فرمان راغی چي اې د دین عسکرو
خو تاسي نازېدلئ په لښکرو
اوس پوه شئ چي نصرت د مولا نه وي
تکیه مه کړئ په تورو او په زغرو

«**سعیده!**» که د زړه ښیښه صفا وي
تکیه په بل څه نه وي په الله وي

روا نــه ده دښــمن چــي میــدان یوســي
کـــه هرڅـــو اولـــسونه د دُنیـــا وي
مثـــال یـــې لـــوړ تکـــل دی د بـــدریانو
پــه تــش لاس یــې رســوا کــړل عالمونــه

۞ ۞ ۞

قاري فضل الدين "سراجي"

## الله ﷻ دی الله ﷻ

پــــه ثنـــا چــــي ښـــايېږي الله ﷻ دی الله ﷻ
چــــي ســـجدې ور تـــه کېـــږي الله ﷻ دی الله ﷻ

چـــي کـــوي د عـــزت او ذ لـــت فيـــصلې
غــواړو مــونږ تــرې نــه تــل د رحمــت فيــصلې
پـــر مخلـــوق چـــي رحمېـــږي الله ﷻ دی الله ﷻ

هم واکمن هم ځواکمن دی څوک نه لري سيال
سرکـــښانو يـــې وليـــد ذلـــت او زوال
ســـتر قهـــار چـــي يـــادېږي الله ﷻ دی الله ﷻ

نازېـــدل پـــه قـــدرت تېرايـــستل دي د ځـــان
نــه يــې تــه د خپــل ځــان نــه دی ستا دا جهــان
چـــي يـــې "کـــن" تعميلېـــږي الله ﷻ دی الله ﷻ

لـــــه نظـــــره د خلکـــــو لوېـــــدلی بـــــشر
«**ســـــراجي**» دی پـــه ســـترګو ليـــدلی بـــشر
چـــي مظلـــوم تـــه رســـېږي الله ﷻ دی الله ﷻ

۞ ۞ ۞

قاري فضل الدين "سراجي"

# هغه لار

اې رحمت د ټول عالمه اې نبي خیرالبشره (ص)
ستا له نوم نه قربانېږو زمونږ خوږه پېغمبره (ص)

ته پېغام د نوي ژوند یې، د هر چا زړه ته پیوند یې
په طٰهٰ یې ستایل شوی مرسلانو کې بلند یې
نوراني مخ دې څرګند شو دې دنیا ته منوره

په حق دین یې کړېدلی، په امت یې ځورېدلی
چې سختي په تا راغلې، یې الله ته ژړېدلی
ستا ژړا وه رب ج ته ګرانه نازنینه نازپروره

اې غمخوره د امته، اې خاتم النبوة
ښکلی دین دې را عطاء کړو شم دې زار له شفقته
په قیامت شفاعت غواړې د امت له یوه سره

شکر ستا په دین روان یو، پرې خوشاله په ایمان یو
تا چې مونږ ته راښودلې، مونږ په هغه لار روان یو
«سراجي» دې په ستاینه، لاره بیاموند ه رهبره

۞ ۞ ۞

قاسم "ابدال"

# نعت شریف

تـه د عـرب، تـه د عجـم، تـه د هـر چـا مـصطفٰی !
مـولا در کـړی لـوړ مقـام تـر دا دنیـا مـصطفٰی !

سـتا پـه راتـګ سـره د کفـر تیـارې پورتـه سـولې
سـوله خـوره پـر هـر طـرف بانـدې رڼـا مـصطفٰی !

منمـه دا چـې دا نـړۍ مـولا پیـدا کـړه ښـکلې
خو ستا ښکلا له دې ښکلا څخه جلا مصطفٰی !

سـتا مرتبـه تـر هـر نبـي (ص) ځکـه اوچتـه ډېـره
چې تر قیامته به وي ستا د دین ځلا مصطفٰی ! (ص)

وي به کامیاب هغه سړی د محشرګاه پر میدان
څوک چې عمل کوي مدام ستا په وینا مصطفٰی ! (ص)

ته مولا رښود، ته رهنما، ته د رحمت پیغمبر (ص)
«***قاسم ابدال***» وایي درود همېش پر تا مصطفٰی ! (ص)

۞ ۞ ۞

قدرت الله "لېوال"

# حمدشريف

د کائناتو دغه ستر ښتن ح
د ټول نظام د پاچاهانو سردار
دغه زموږ د ارواحانو مالک
دغه سپېڅلی او د قدر لايق
دغه زموږ د بندګانو معبود
دغه د ټولو رسولانو لارښود
دغه خدای چي يې هست کړي يو موږ
دا د پېريانو انسانانو لارښود
دا د اسمانونو او ملکو بادار
يوازي ده ته به سجده لګوم
يوازي دی د عبادت لايق دی
يوازي ده ته به خپل سر ټيټوم

نه خوب او نه خوراک لري دی

مګر ژوندی دی دغه زموږ ه خالق

ده ته د مرګ خطاب کولای نه سو

د ده د ژوند حساب کولای نه سو

نه له ده نه څوک پیدا دی، نه هم دی له چا پیدا دی

خو قادره تر هر چا دی

نه نور څوک ورسره مل دي

بې وزیره یو پاچا دی

یک تنها دی یک تنها دی

۞ ۞ ۞

ګل آغا "احمدي" وردګ

# د ایمان مخ

کروندو د ستورو ونیو کنارو کې د آسمان مخ
د خالونو چمن ښکل کړ په نخرو کې د جانان مخ

شګوفې د بهار وا شوې د ښایست پر ځنګلونو
د فضا پر لمن خور شو د ګلونو د پېزوان مخ

د صنم پر شنه پوړنې رنګارنګ ګلونه ټومبي
د ګوربت غېږه کې پرېوت د غاټولو د ګرېوان مخ

د سهار له طراوته د شبنم څاڅکي پرې لوېږي
پلوشو کې د رنګونو را څرګند شو د جهان مخ

د روازې شوې ټولې خلاصې د پستو، پستو انوارو
د یوه څرک په غېږ کې راغی د خوښیو د کاروان مخ

په زرغونو کرښو ليک شوې د وصال خوږې غزلې
د شاعر خيال ته چې سم شو د پى مخو د ديوان مخ

پــه خــوږه ژبــه يــې ناســتې د ســرو زرو مرغلــرې
پيغمبر ﷺ زموږه پرانيست د ښکلاوو د ايمان مخ

۞ ۞ ۞

ګل آغا "احمدي" وردګ

# درمان

کاروانونو د ښکلاوو کې جانان ته یم راغلی
زه د ژوند په هسکو، ټیټو کې آرمان ته یم راغلی

څو ډېوې د رڼاګانو د ښایست له حرم اخلم
زه د شُکر په سجدو کې پاک سبحان ته یم راغلی

زه د بخت په بُراق ناست یم د ثنا وړانګې په ژبه
زه د میني په سفر کې بېل جهان ته یم راغلی

زه د ښکلو ښار ته راغلم په دیدار یې نه مړېږم
زه د خپل معشوق د ستورو لوړ آسمان ته یم راغلی

ما اُحد په سترګو ولید، زه د بدر خوا کې تېر شوم
زه د وړانګو په نړۍ کې یوه خوبان ته یم راغلی

دلته هر څه دي سپېڅلي واک د سپينو پلوشو دی
زه د زړونو مدينې ته زه درمان ته يم راغلی

د نصيب وږمو راوړی ستا د پاک حرم انګړ ته
محمده! ﷺ، پيغمبره ستا نښان ته يم راغلی

۞ ۞ ۞

لطف الله "مشعل"

# سرور کاینات ﷺ ته

د سـلام ډالـۍ مـي مـه شـه لـه تـا دریغـه
د وقـار شـمله دي خـدای ﷻ سـاتلې نېغـه
تــه یــو نــوریــې وهمــه واړه عــالم تــه
د بــد خوا ســترګي دي ووزه بــې تېغــه

دا دُنیــا خــو ســتا لــه رویــه منــوره
دا دُنیــا خــو ســتا لــه رویــه بختــوره
سـتا پیغـام وو چـي رڼـا یــې را خـوره کـړه
کنــه هــره خــوا تیــاره وه لــرا و بــره

ســتا ژونــدون څــه د نېکیــو ســرنامه ده
ســـتا احـــوال د نېکبختیـــو علامـــه ده
تـا د ژونـد پـه معنٰـی پـوه هـر یـو انسان کـړ
لارښـــووني دي د ښـــه ژونـــد برنامـــه ده

د بېکسو او بېوزلو مدد ګار وې
د خاین او د ظالم د سترګو خار وې
ته ښوونکی د رڼا او د ښکلا وې
تکیه ګاه د هر مؤمن او هر دیندار وې

د ګناه پېټی په غاړه، ګنهکاریم
شفاعت ته دي محشر کې انتظاریم
تر هر چا پخپل اُمت یې مهربانه
شکر خدایه، اُمتیانو کې دي شماریم

۞ ۞ ۞

محمد آصف "فدايي"

# مناجات

لویـــه خدایـــه لـــوی ښـــتنه
د یـــاغي زړګـــي ســـکون را
دا د حـــورو مـــسته غیـــږه
زمـــا مینـــي تـــه ســـکون را
کلمـــــــــه د الاالله مـــــــــي
د زړګـــي پـــه ســـر خـــوره کـــړه
د کـــوثر شـــراب پـــه خولـــه را
شـــیته زړه مـــې پـــرې تـــازه کـــړه
لااله الاالله
محمـــــــــد رســـــــــول الله
دا د دیـــن لـــومړی تهـــداب دی

د مـــشرک لپـــاره ځـــواب دی
لويــه خدايــه لــوی څــښتنه ج
زړه مــې عــرش دی تــا جــوړ کــړی
خــو نــن ګــرد دی پــرې پرېــوتی
ګنــاه فــرش دی تــرې جــوړ کــړی
دا کعبــه پــه خپلــه مينــه
يــو ځــل و مینځــه خالقــه ج
کــړه ســپېڅلی يــې کــه حــوره
دا زاری کــــړم درتـــه ســـپينه
لويــه خدايــه ج لــوی څــښتنه ج
زمــا ژونــد ټــولې ســجدې کــړه
«**فـــدايي**» تــــل درتـــه ژاړي
تــه قبــولې يــې تــوبې کــړه

۞ ۞ ۞

محمد داؤد "فیصل"

# نعت شریف

ګرېوان دي نیسمه دلداره یا عربي پاکه نبي (ص)
د مدینې نبي (ص) سرداره یا عربي پاکه نبي (ص)

طٰه، یٰسین کې صفت، کړی دی رب العزت
ته یې معشوق د کردګاره یا عربي پاکه نبي (ص)

خالق پیدا کړه دنیا، له برکت څخه ستا
شان او شوکت لرې رویداره یا عربي پاکه نبي (ص)

یې اولین مصطفٰی، رسالت ختم پر تا
ټولو نبیانو کې سالاره یا عربي پاکه نبي (ص)

غواړمه ستا شفاعت، «*فیصل*» په ورځ د قیامت
فریاد کوم یم ګنهکاره یا عربي پاکه نبي (ص)

۞ ۞ ۞

محمد شفیق "حقپال"

# نعت شريف

پیغمبــــر آخـــــر زمـــــان دی محمـــــد ﷺ
ســـتایل شـــوی پـــه قـــرآن دی محمـــد ﷺ
هـــم محبـــوب د پـــاک سبحان دی محمـــد ﷺ
اولوالعزمـــــه عالیـــــشان دی محمـــــد ﷺ
پـــه نبیـــانو کـــي سُـــلطان دی محمـــد ﷺ

رب پیـــدا کـــړه دا دُنیـــا د ده پـــه مـــخ
لمـــر تـــه ورکـړلـــه رڼـــا د ده پـــه مـــخ
شـــفاعت بـــه شـــي عُقبـــا د ده پـــه مـــخ
امـــت و مونـــده لوړتیـــا د ده پـــه مـــخ
پـــه امـــت بانـــدي ډېـــر ګـــران دی محمـــد ﷺ

دغــه نــور چــي پــه عــرب کــي شــو پيــدا
دومــره خــور شــو چــې رڼــا يــې کــړه دُنيــا
د حــق ديــن يــې کــړ جــاري پــه ښــه وينــا
محمـــــد ﷺ و آخـــــريـــــن الانبيـــــا
ځکــه لمــر نــه ډيــر روښــان دی محمــد ﷺ

صـــلی الله بـــه تـــل مـــدام وايمـــه زه
ډيـــر صـــفت پـــه هـــر کـــلام وايمـــه زه
محمـــــد ﷺ پـــــه احتـــــرام وايمـــــه زه
بـــې شـــماره درود ســـلام وايمـــه زه
ډيـــر زمـــا د زړه ارمـــان دی محمـــد ﷺ

مبـــارک دا ســـتا مولـــود وايمـــه زه
هـــر ذره کـــي د وجـــود وايمـــه زه
تـــل ثنـــا دي پـــر معبـــود وايمـــه زه
تـــرې قربـــان مـــي هـــست و بـــود وايمـــه زه
دا ســـردار د دوو جهـــان دی محمـــد ﷺ

۞ ۞ ۞

محمد عزيز "تحريک"

# نعت شريف

پــاک رســول يــو اولوالعزمــه پيغمبــر دی
د اســـــلام د پتنګــــانو لـــوی رهبـــر دی

تــر معــراج پــوري جبريــل ورســره مــل و
پـــه نبيـــانو کـــي ســـرلوړی، معُتبـــر دی

آخـــري شـــو پـــه تـــاريخ د نبـــوت کـــي
پــه ډګــر کــي د حــشر بيــا ســر لــښکر دی

شــو مبعــوث پــه رســالت د منزلــت ســتر
د نـــړۍ پـــه انـــسانانو کـــي بهتـــر دی

د اســلام پــه ژوندنامــه کــي مــي لوســتلي
محمــد ﷺ، مــصطفٰى، احمــد، ســرور دی

ظـاهري معنـا يـې زده د هـر عـالِم ده
د قـرآن پـه بـاطني معنـا خبـر دی

د لهـب او ابوجهـل مخـالف و
د انـصارو، مهـاجرو، دوست، دلبـر دی

مؤمنـانو تـه هـر ځـای د سترګو تـور دی
چې يې نه مني جاهل، ړوند، مکدر دی

هاشـمي دی، قريـشي، د عبـدالله زوی
زېږولـی امينـې، خيرالبـشر دی

کوچنيـوالي کـې کـشيش وپېژنـدلی
وربـځ پر سر يې تله، مانع يې د سفر دی

شـفاعت بـه د اُمت کـړي کتـاب وايـي
د «**تحريک**» پـه انـد د هر مُسلمان سپر دی

۞ ۞ ۞

محمد عزیز "تحریک"

# نعت شریف

پیغمبــر د پــاک مــولا دی محمــد ﷺ
وروســـتنی د انبیـــا دی محمـــد ﷺ

مُتفــق پــر نبــوت یــې عالمیــان دي
پــه تثبیــت رســول الله دی محمــد ﷺ

د الله پــه کتــابو کــي دی نــوم لــوړی
د احمــد پــه نــوم پیــشوا دی محمــد ﷺ

رون څــراغ دی پــه تــاریخ د بــشریت کــي
لمــر ځلانــده د معنــا دی محمــد ﷺ

اقتـــدا ورپـــسې کـــړې صـــحابه وو
تــور او ســپین تــه مُقتــدا دی محمــد ﷺ

د عربو، د عجمو غم خوړونکی
شافعي د هر هر چا دی محمد ﷺ

سمه و غریې شاهدان د عبادت دي
ذاکر، غار کې د حرا دی محمد ﷺ

هر حدیث یې د آیت تعبیر، تفسیر دی
عالمونو ته بومیا دی محمد ﷺ

کلمه د محمد ﷺ جاري ده خولو کې
په نړۍ کې مصطفیٰ دی محمد ﷺ

جبرائیل ورته راوړي آیتونه
قریشي نورالهدا دی محمد ﷺ

زه «**تحریک**» یې اُمتي یمه ترپایه
مدافع مې د عقبیٰ دی محمد ﷺ

۞ ۞ ۞

محمد عزیز "تحریک"

# نعت شریف

صادق، پاک انسان د اسلام پیغمبر ﷺ
ذکي، پوه دا شان د اسلام پیغمبر ﷺ

لار ښود، مُبتکر، مُدبر، مُهاجر
هوډمن پر جهان د اسلام پیغمبر ﷺ

باطل یې ګڼل لات، منات د کعبې
محبوب د سُبحان د اسلام پیغمبر ﷺ

حق بین او حقپال بریالی شو پر جهل
زړه سواند، مهربان د اسلام پیغمبر ﷺ

خېرخوا، معتدل، و مُشفق په نصرت
موزون پر مېزان د اسلام پیغمبر ﷺ

وینا یې سره زر، سوچ، عمل یې بهتر
پاک نفس باوجدان د اسلام پیغمبر ﷺ

صورت او سیرت یې ممتاز و له پیل
تابان پر آسمان د اسلام پیغمبر ﷺ

شافع د امت د محشر پر ډګر
سردار، قهرمان د اسلام پیغمبر ﷺ

خدای جل جلاله مې خبر د زړه راز نه «***تحریکه!***»
له ځان راته ګران د اسلام پیغمبر ﷺ

۞ ۞ ۞

محمدعیسیٰ "غریب"

# حمد شریف

بادشاهي پر کل جهان لري زما رب ﷻ
پر دُنیا و عُقبا توان لري زما رب ﷻ

دی لائق د همه وارو صفتونو
ډېر اوچت او ډېر لوړ شان لري زما رب ﷻ

پیدا کړي یې جمله ټول کائنات دي
په قبضه کې یې هر آن لري زما رب ﷻ

نسته بل عالمُ الغیب بې له خدایه
پر هر څه باندي احسان لري زما رب ﷻ

حاجت نه لري و چاته نه محتاج دی
داسي تخت قائم مکان لري زما رب ﷻ

نه د چا نه دی پیدا نه څوک له ده سه
واحد ذات دی تنها ځان لري زما رب ﷻ

نه يې ځای چا ته معلوم نه چا لیدلی
تل پر موږ نظر عيان لري زما رب ﷻ

خود لويي او تكبر ورسره ښايي
خو تل عمر جاويدان لري زما رب ﷻ

هم يې ځمكه هم آسمان واړه تابع دي
د محمد ﷺ په شان جانان لري زما رب ﷻ

د هر حكم يې تابع جوړ سه «غريبه!»
يوه ورځ لكه مېزان لري زما رب ﷻ

۞ ۞ ۞

محمدعیسیٰ "غریب"

# نعت شريف

تــاريكو لــره رڼــا يـــې محمـــده! ﷺ
تــورو شــپو لــره ســبا يــې محمــده! ﷺ

ستا را تلــل خــو ضــروري وه بــې لــه شــكه
د خوږمنـــو زړو دوا يـــې محمـــده! ﷺ

خـــورا ګرانـــه زنـــدګي وه دلتـــه هلتـــه
افتخـــار د كـــل دنيـــا يـــې محمـــده! ﷺ

د ظلمـــت د تيـــارې جـــال وو غوړيـــدلی
د خلاصـون زيـری ريـښتيا يـې محمـده! ﷺ

بـــرملا خلـــک دښـــمنان وو يـــو لـــه بلـــه
انـــسانيت لـــره پيـــدا يـــې محمـــده! ﷺ

پـــه ژونـــد لـــونې ښـــخولې دې ناســـيالو
د پـــوهۍ ســـره همـــراه يـــې محمـــده! ﷺ

چې تـه راغلې سپين ميدان سو او رڼا سوه
پـــه دارينـــو كـــې اعلـــى يـــې محمـــده! ﷺ

نـه دی يـو مـين پـر تـا «**غريـب**» جانانـه!
خـــوښ زمـــا او د هـــر چـــا يـــې محمـــده! ﷺ

۞ ۞ ۞

محمدعیسیٰ "غریب"

# مناجات

خدايه رسوا او شرمنده مې نه کې
ستا په غضب باندې اخته مې نه کې

چې د رحمته څخه دې لرې نه سم
په ژوند محتاجه او مانده مې نه کې

د تکبر او له غرور مې ساتې
مشرک کافر يوه شېبه مې نه کې

چې په نېستي او هستي نه وي شاکر
په داسې خلکو کې شمېره مې نه کې

ستا له غصې او قهره ډېر وېرېږم
چې ګنهکار مجرم بنده مې نه کې

پــه دیــن دنیــا مــي ښائــسته کــړې ربــه ځ
ســتا لــه محبــت څخــه ګوښــه مــي نــه کــې

تــه پــه دارينــو مــي کاميــاب کــړې خدايــه ځ
قبــر کــي تــوره تاريکــه مــي نــه کــې

يــم پــه اميــد «**غريـــب**» پردېــسه يــم ډېــر
د يــار بــې ديــده د مــرګ شــپه مــي نــه کــې

۞ ۞ ۞

محمداسماعيل "شريعت يار"

# نعت شريف

سـوی یـم پـه مينـه کـي پـه زړه نـا کراره
یـو دیـدن دي غوا ړمـه د ښـکلو سـرداره

خـدای یـو زړه ماتـه راکـړی ګـوره
درمـي کـی تاتـه پـه سـر نـسکوره
ومـنـا خبره د عـشق لـه زوره
اوس یـم د منـصور پـه شـان لـوړ پرسـر د داره

کـار او کـردار مـي د لېونـو سـو
ذکـر او فکـر سـتا پـه يـادو سـو
لکـه مجنـون ژونـد پـر بيبـانو سـو
غوا ړمـه دا سـتا رضـا ځـم پـر دغـه لاره

بنــــکلا زینـــــت دی پـــــر تـــــا تمامــــه
ځکـــــه عاشـــــق ســـــوم پـــــر تـــــا ګلفامــــه
ســـــتا پـــــه بېلتـــــون کـــــي ســـــومه سرســـــامه
تـــــه رحمـــــت بللـــــی یـــــې پـــــاک پروردګـــــاره

کـــــه مزمـــــل دی کـــــه مـــــدثر دی
ســـــتا پـــــه هـــــر نـــــوم کـــــي نغـــــښتی تـــــاثیر دی
پـــــه مدینـــــه کـــــي زمـــــا زړه اســـــیر دی
تـــــل ســـــتا پـــــر وجـــــود بانـــــدي یـــــم شـــــکر ګـــــذاره

ســـــترګي مـــــي ســـــرې دي ژاړم خمـــــاریـــــم
ســـــتا ملاقـــــات تـــــه پـــــه انتظـــــاریـــــم
ملنـــــګ د دردي «***شـــــریعت یـــــار***» یـــــم
یـــــو وار مـــــي درو غـــــواړه یـــــا خیرالابراره

۞ ۞ ۞

محمدالدین ”همدرد“

# نعت شریف

وې تــــاریکیـــو تـــه رڼـــا رســــوله!
زمـــونږ محمـــد رســـول الله رســـوله!

دا ستا پـه روی مخلـوق جهـان پیـدا شـو
زمـــونږ د دیـــن او د دُنیـــا رســــوله!

دا ستا صـفت پـه پـاک قـرآن کـې شـوی
د کائینـــــاتو رهنمـــــا رســــوله!

تـــه لـــوی ښـــوونکی د نـــړۍ لپـــاره
وې پـــه قریـــشو کـــې رڼـــا رســــوله!

ستا شفاعت دې خدای ج نصیب کړي زمونږ
تــه هــر مــؤمن تــه یــې شــفا رســوله!

د ګنـــاهونو ګنهکـــاره «همـــــدرد»
وایـــي ســـلام او درود پرتـــا رســـوله!

۞ ۞ ۞

محمدالله "کمال"

# د ديدن آرمان

ډېر را تـه خـوږ دی د دلبـر د ليـدو تمـه لـرم
د هغـه ښـکلي د زړه سـر د ليـدو تمـه لـرم

هـره خبـره يـې د شـاتو لـه خـوږو خـوږه ده
د محبـت د پيغمبـر د ليـدو تمـه لـرم

داسي انسان چي انسانيت يې دارمدار ګڼلو
د هغـه سـتر خيـر البـشر د ليـدو تمـه لـرم

چي ټول جهان تـه يې د مهر وړانګي و وېشلې
د صـداقت نـوراني لمـر د ليـدو تمـه لـرم

خدايه! يو ځل يې د ديدن خواږه په خوب کي راکړه
د عـشق د داسـي سـتر رهبـر د ليـدو تمـه لـرم

۞ ۞ ۞

محمدالله "کمال"

# سپېڅلی پېغمبر

د محمد صلی الله علیه وسلم د مبارک مېلاد په مناسبت

هغه وخت چې په تور تم کې دا نړۍ وه
مروره ترې د امن ښاپېرۍ وه
زېری وشو چې څراغ به شي روښانه
هغه وخت چې هري خوا ته تروږمۍ وه

په نفرت هغه ګړی کفن شو څيري
چې روښان د محبت مينې څراغ شو
چې انسان ته تول تياره جهان رڼا شو
چې جهان د انسانيت يو ښکلی باغ شو

د مانیو پاچاهان یې سلامي کړل
د فقیرو ملنګانو په لښکرو
او بنده یې د بنده له قیده خلاص کړ
د یزدان په ازلي نرمو خبرو

چې حبش غلام سردار د قبیلې شو
او د ظلم د سردار غروریې مات کړ
چې د عدل د نظام تاداو یې کېښود
د سرکښو د سالار غروریې مات کړ

چې کالبوت ته یې د روح بخری ورکړ
او ژوندون یې په مړګونو بریالی کړ
چې د زغم د بنیاد تیږه یې پر ځای کړه
او انسان یې په غمونو بریالی کړ

چې د شاه او د ګدا تر منځ واټن یې
بس د سر د یوه وېښته هومره نری کړ
چې غلام ته یې اختیار د زړګي ورکړ
او په توره کې یې تېز لکه زمری کړ

دا هر څه چې وو پېرزو د لوی خالق وه
چې سپېڅلی پیغمبر نړۍ ته راغی
چې تیاره زړونه په نور کاندي روښانه
محمد ﷺ خیرُ البشر نړۍ ته راغی

۞ ۞ ۞

محمد اياز "ملنګيار"

# نعت شريف

آينــه مخيــه ګــل اندامــه د رحمــت عــالي مقامــه
د نبيــانو پــېش امامــه دا زمــوږ عرضــونه واخلــه

د حکــيم ناصــر حبيبــه(ص) د زخمــي امــت طبيبــه
پــه نظــر د محبــت دي حــال تــه ګــوره د امــت دي
موږه خلاص کړه له دې دامه د رحمت عالي مقامه

د ملحــد لــه ظلــم و زوره مــوږ وتلــي يــو لــه کــوره
پــه دښــتو خــواره واره يــو د فــراق پــه اور پاخــه يــو
څــه بــه وايــم لــه ناکامــه د رحمــت عــالي مقامــه

د ابليس دښمن له توره خلاصون نشته بې له پوره
ته مو خلاص له مصيبت کړه د ګناه مو شفاعت کړه
د عمــل لــه انتقامــه د رحمــت عــالي مقامــه

بـې مثالــه بــې نظيــره اې نظيــره اې بــشيره
د تــورتم د وخــت مثالــه د عــالم رحمــت حالــه
د الله د مينـــي قامـــه د نبيـــانو پـــيش امامـــه

د ځښتن مـصطفٰی نـوره غمجـن زړونـو تـه سـروره
ته غمخور د ټول امت يې پـوه معلم د هدايت يې
لـه شـروع نـه تـر انجامـه د رحمـت عـالي مقامـه

د عــالي حُــسن نعمتــه اميــدوار ســتا لــه رحمتــه
د الفــت مينــي اثــر را ، پيــالې ډکــي د کــوثر را
«***ملنګيار***» تـه ستا لـه جامـه د رحمت عـالي مقامـه

۞ ۞ ۞

محمدتميم "عزيزي"

# د خدای ﷻ قدرت

يوه ورځ مې په ځير وکتل آسمان ته
توجه مې شوه د خپل رب ج ولوی توان ته

چې آسمان يې دی په ستورو ښايسته کړی
پوره حُسن يې سپوږمۍ ته هم ورکړی

بيا يې ستوري او سپوږمۍ دي ځلولي
په ډېر لوی شان او شوکت يې ترتيب کړي

ټوله شپه په ځلېدو وي تر سهاره
زېبا کړي يې وي مځکه، اسمان واړه

بيا سهار مې توجه شوه د لمر ځرک ته
چې راپورته شو مشرق نه و مغرب ته

تــوره شــپه پــه ســپيني ورځــي شــول بدلــه
تـــاريکي پـــه روښـــنايي شـــوله بدلـــه

تـــر غـــرو بـــه پـــوري دغـــه روښـــنايي وه
وروســته بيــا شــوه ســپينه ورځ پــه شــپه بدلــه

«***عزيزي***» پـه سـوچ کـي ډوب شـو و دې شـان تـه
چـــي کتـــل يـــي تـــر ســـهاره و اســـمان تـــه

چـي يـي وينـو دغـه ټـول د خـداي قـدرت دی
کـه يې لمر دی کـه سپوږمۍ ډېر لـوی نعمت دی

۞ ۞ ۞

محمدحسن "حقيار"

# حمد شريف

انځور د فن يې ستر ګو کې زما زړه ويستلی دی
دا خدای نه دی نو وايه خدای يې څومره ښکلی دی

په تمه د ثواب يې ښکلوم وريښميني زلفې
غلاف د کعبې هم وريوري چا مښلی دی

بانه مې مقتديان د ښکلي مخ محراب ته ټيټ شول
دې نور کې يې جانانه ستا تصوير ليدلی دی

خپل بوی او حُسن تا کړلو بلا لښتي د ګل ته
سلام ته د ازغي کله بورا راغلی دی؟

ليدو سره مې ستا د ستر ګو "کسي" کوه طور شول
ګودره بختوره! تا يې خال کتلی دی

ستا ستر ګو کړې جانانه زما ستر ګي وړي ستر ګي
احساس يې د مړښت راته پخوا وژلی دی

له دومره معرفت نه دي توبه چي زغم يې نه وي
استاد د فرښتو دي په لوبي رټلی دی

احساس مي د سجدو شو طغياني د تندي بحره!
بېړۍ ته د تقدير دي کوم ساحل ليدلی دی؟

تنها زه غلام نه يم د غاټول د ښکلي داغ
اشنا مي خپل ښايست خپله په زړه داغلی دی

دا څومره تعجب چي يار کړي مينه زه غرور!!
له ځانه بېل اشنا وايه چې چا زغملی دی

له عالم ناسوت نه د لاهوت مقام ته وخوت
ستا عرش شو ورته فرش يار مي ترې پورته تللی دی

توحيد يې زمزمه د هر يو تال د موسيقۍ
ښکاري! د زړه مارغه دي د «**حقيار**» ويشتلی دی

۞ ۞ ۞

محمدحسن ''حقيار''

# نعت شریف

پــه رښــتیا د حــق ډېـوه یـې محمـده! ﷺ
د عاشــق د زړه تــسله یــې محمــده! ﷺ

ســتا راتلــو ســره د حــق رڼــا خپــره شــوه
تیـاره ورکـه شـوه جلـوه یـې محمـده! ﷺ

شــو د ظلــم تڼغــر تــول لــه دې دنیــا نــه
د مظلــوم د زړه نــاره یــې محمــده! ﷺ

انسانیت تـه د خلاصون سوغات تـاراوړ
نمونــه، مثــال قــدوه یــې محمــده! ﷺ

ســتا لــه یــاده ناروغــان صــحت ومــومي
د ســحر نــسیم وږمــه یــې محمــده! ﷺ

ته قسیم، نسیم، جسیم، یې هم وسیم یې
هم ښکلا هم تجله یې محمده! ﷺ

هم اول یې هم آخر یې پیدا شوی
د آغاز، انجام نقطه یې محمده! ﷺ

که موسٰی (ع) پر کوه طور د خدای ﷻ کلیم وو
ته پر عرش د خدای مېلمه یې محمده! ﷺ

اُمیدوار ستا شفاعت ته زه «***حقیار***» یم
زه عاصي ته مې تکیه یې محمده! ﷺ

۞ ۞ ۞

محمدکریم "امین"

# حمد مبارک

هغه ستا دي د غه ستا دي ټول دي خپل دي
دا هم ستا دي زما روح دی که غزل دي

دا د هغې ازل وېش او تسلسل دی
چي هر څه دي آن چي تلل دي که راتلل دي

ته هغه یې هم جنت دوږخ پر ځای دي
ټول پر ځای دي یو زموږ زړونه بدل دي

ژوند د ځان پېژندګلوي د محبت دی
بندګي د معرفت ته رسېدل دي

ته خالق یې تور انجام د فرهاد سپین کړې
لایزال یې اټکلونه دي ازل دي

۞ ۞ ۞

محمدنایب"احمدي"

# نعت شریف

د ښو اخلاقو یو جهان وو هاشمي جانان مي
څه رحمدله مهربان وو هاشمي جانان مي

و انتها ته رسولی یې د حلم ژوندون
د صبر ستوری پر اسمان وو هاشمي جانان مي

د جنګ په حال کې لاکو له و دښمن ته دعا
عجب بنده د رب منان وو هاشمي جانان مي

ؤ رحمة اللعالمین او لوی رهبر د نړۍ
پر ذوالجلال باندي ډېر ګران وو هاشمي جانان مي

وو عبادت یې طبیعت او له الله ج بېرېدی
د دین خدمت کي به ستومان وو هاشمي جانان مي

خدای ج یې قرآن کي خصلتونه بهترین بللي
د «**احمدي**» د زړه درمان وو هاشمي جانان مي

۞ ۞ ۞

محمدنبي "اُمید"

# نعت شریف

ترنامه دي صدقه سم محمد ! ﷺ یې زمو رهبر
د الله عزوجـــل یــــې نــــازولی پېغمبـــــر

د اُمت په غم غمجن وې غرونه هم دي شاهدان
ډېري سترې دي ګاللي وې غم خورد هر بشر

چې فرقان پر تا نازل سو منوره سوه دُنیا
تغر ټول د جهالت سو، سوه رُڼا پر لرا و بر

و منزل ته به رسېږو که مو پل وو ستا پر پل
نورو لارو کي ښکاره سته ښوېېده او لوی خطر

منکران دي بدبختان، بادوي دي پر سر خاوري
بې له شکه پیروان ستا په اِخلاص دي مظفر

ستا د مینـــي مینـــان د غلـیم تـر تېغـو خېــږي
یا په خوښه ستا په عشق کي لوبي کاندي په خپل سر

ږو مبی اصـل دي تبلیـغ و او دعـوت ورسـره مـل
لا هنـوز چـي سر کـښان وه بیـا دي کـړه زېـر او زبـر

کـه وجـود دي رحلـت کـړی و خونـدو تـه د بقـا
د سـلام ګـل بـڼ پـه تـادی لا تـر اوسـه معطـر

دا مي عهد او پیمان دی ولاړبه نه سم پر بل لور
«اُمید» ستا په اطاعت کي یمه ستا د دین عسکر

۞ ۞ ۞

محمدنعیم ''افغان''

# رڼا د محمد ﷺ

چې په لمر او په سپوږمۍ کې ښکلا ستا ده
محمده! ﷺ ټول جهان کې رڼا ستا ده

د میلاد په شپه انوار پر مکه اوري
په رنګین رنګین ماښام کې ځلا ستا ده

د کِسرا ماڼۍ له شرمه راچپه سوه
لګېدلې پرې د حُسن برېښنا ستا ده

تاج او تخت د شفاعت دی ستا په برخه
د کوثر رڼه چینه هم پېشوا ستا ده

دا حضرت عمر رض به ولې فاروق نه وي
منل سوې یې په حق کې دُعا ستا ده

د «***افغان***» د زړه ځیښه یې ور صفا کړه
«خواخوږي د دین مطلب دی» وینا ستا ده

۞ ۞ ۞

ملاعبدالصمد "بېوس"

# غزل ليکم

ستا د کرم په تمنا يم چې غزل ليکمه
مشغول په حمد او په ثنا يم چې غزل ليکمه

ته يې غني او مستغني استغنا تاله ښايي
بې تاله بل په استغنا يم چې غزل ليکمه

د سمې لارې خواست کوم له چې ما ورېغوره
لګيا په سوال د اِهدِنا يم چې غزل ليکمه

د اوښکو سېل پر مخ رامات سي ستا له وېرې څخه
د اوښکو ډنډ کې په شِنا يم چې غزل ليکمه

د زړه ټوټو نه په کښو غوړونو اورم مُدام
د زلزلو سره اشنا يم چې غزل ليکمه

د عـشق د سـوز ګـد از غالبـه سـي پـر روح او پـر زړه
پـه خپـل موجـود ، وجـود فنـا یـم چـي غـزل لیکمـه

د حقیقـــت مـــېلان ګڼمـــه ســـرمایه د حیـــات
بینـا پـه حـق، نـور نابینـا یـم چـي غـزل لیکمـه

په زړه کي څرېکي، جوړي ورښکي کړي په ټول بدن کي
ګـواکي تنـا یـم یـا برېښنا یـم چـي غـزل لیکمـه

دومره کي ډوب سم چي احساس مي بې احساس کړي احساس
لکـه پابنـد د پـنج بنـا یـم چـي غـزل لیکمـه

نـې د تکـوین، نـې د تـدوین، ادعـا کانـدم کلـه
نـه پـه دې کـار سـره دانـا یـم چـي غـزل لیکمـه

۞ ۞ ۞

مولوي احمدشاه "حقوقي"

# حمد مبارک

شـــنه ونـــه او کـــه غـــر دی
کـــه اســمان، شـــمس او قمـــر دی

ټــول تـــسبیح د ســبحان وایـــي
کـــه عـــرض او کـــه جـــوهر دی

ثنـــا خـــوان د خپـــل خـــالق دی
کـــه ســـاکښ د بحـــر او بـــر دی

د ثنـــا پـــه برکـــت یـــې
ټـــول جهـــان ښـــه منـــور دی

پـــه رنګونـــو ویـــاړل نـــه شـــته
تقـــوی د پـــر ښایـــسته زیـــور دی

د نـــسب تـــوپير هـــيڅ نـــه كـــا
مـــؤمن هـــريـــو بـــاخبر دى

زه خوشـــحاله «**حقـــوقـي**» يـــم
تـــوراو ســـپين يـــو برابـــر دى

۞ ۞ ۞

مولوي احمدشاه "حقوقي"

# د ډنمارک د پیښې په اړوند حبیب ﷺ ته تسلیت

حبیبـه^(ص)! شـان سـتا لـه هـر چانـه لـوړ دی
پــه دې دنیــا لــه هــر پادشــاه نــه لــوړ دی

تــه خــو پــه خــو ب بانــدې ویــده یــې هلتــه
د قــدم نقــش دې لــه دنیــا نــه لــوړ دی

قــول دې لمــر او د ســپوږمۍ پــه مثــال
ســتا هــر عمــل مقتــضٰی نــه لــوړ دی

پمــن ډنمــارک کــه رســموي عکــسونه
عــالي مقــام ســتا لــه قــضا نــه لــوړ دی

ستورو په څېر ښکلي ملګري لري
حضرت بلال رضي الله عنه دي له کسرىٰ نه لوړ دی

د بشريت د مينې ستر لارښود يې
رسوله ﷺ ستا بخت ابتداء نه لوړ دی

ما «**حقوقي**» د پښو خاورې شمېر کړه
شفاعت ستا له هر پيشوا نه لوړ دی

۞ ۞ ۞

مولوي احمدشاه "حقوقي"

# نعت شريف

هغـــه طاهــــا او هـــم ياســــين دى
هغــــــــه رحمــــــــــةاللعالمين دى

تحفـــه د رب ﷻ چـــې مـــصطفٰی دى
د دې امــــــــــــــــــت د درد دوا دى

هغــــــه امـــــــام المرســــــلين دى
هغـــه طاهــــا او هـــم ياســــين دى

بنـــــكلی محبـــوب چـــې عربـــي دى
هــــم قريـــــشي او هاشـــــمي دى

زمــــا زړګـــی چـــې پــــرې مـــين دى
هغـــه طاهــــا او هـــم ياســــين دى

د هــــــر يتــــــيم لپــــــاره پــــــلار ؤ
هـــــم د مـــــسکين د زړه قـــــرار ؤ

چـــــي اولـــــين او آخـــــرين دی
هغـــــه طاهـــــا او هـــــم ياســـين دی

زمـــونږ رســـول ﷺ خـــو مـــصطفیٰ دی
رب ذوالجـــــلال تـــــه مجتبٰـــــی دی

حـــــضرت شـــــفيع المـــــذنبين دی
هغـــــه طاهـــــا او هـــــم ياســـين دی

اســـمان او ځمکـــه کـــي يـــاد يږي
پـــه محمـــد ﷺ بانـــدي نـــوميږي

خـــوږ «**حقـــوقي**» تـــه لـــه ګبـــين دی
هغـــــه طٰـــــهٰ او هـــــم ياســـين دی

۞ ۞ ۞

مولوي خالص "نبي خېل"

# نعت شريف

ورځمــــه مــــصطفٰی خیرالبــــشر مــــدني تــــه
لاس اچـــوم لمــــن د پېغمبــــر مــــدني تــــه

ورځمــه پــه زارو، زارو بــه هلتــه کړمــه نــارې
چې ای د خدای رسوله! شولې ورانې زموږ چارې
د خدای په در کې وکوه سوالونه په څو وارې
چې سم کړې مونږه بیا د پاک اسلام په سمه لارې

راتــاو کــړې قــافلې زمــوږ رهبــر مــدني تــه
لاس اچـــوم لمــــن د پېغمبــــر مــــدني تــــه

ورځمــه نــه تــم کېــږم، وســیله نــه لــرم بلــه
روضې د محمد ﷺ کې به ناري وهم، چې هله
نــښتي نــن ســبا مــسلمانان دي يــو تــر بلــه
خدمت کوي کافر ته، خپل وطن کې لاپخپله

لــښکرې زمــوږ اړې دي افــسر مــدني تــه
لاس اچــوم لمــن د پيغمبــر مــدني تــه

ورځمه چې تنګ شوی يم، زړګی خو مې نور چوي
چــې ګــورم مــسلمان تــه د کــافرو مينــدې روي
په دې فاني دنيا کې ترې جوړ شوي دي تور سوي
کــافرو نــه دوی مخکــې د دوزخ پــه لمبــو ســوي

ورځمــه نــاوختېږي، وړم خبــر مــدني تــه
لاس اچــوم لمــن د پيغمبــر مــدني تــه

ورځمه خو که پرې مې ږدي نږدې خپلې روضې ته
لاسونه به کړم وړاندې، د روضې ښکلې پنجرې ته
باران د اوښکو سربه «**نبي خېل**» کاندي سينې ته
وسله مې پکار نه شوه ځکه راغلم وسيلې ته

سوغات کې مې راوړی، ځکه سر مدني تـه
لاس اچــوم لمــن د پيغمبــر مــدني تــه

۞ ۞ ۞

مولوي خالص "نبي خېل"

# نعت شریف

پــه درکــې دې منلــي مخلــصان دې نــازولي
پوهېږمــه ای ربــه ج چــې دوســتان دې نــازولي

یــو لــک څلرویــشت زره زیــات وکــم پیغمبــران
اسمان د نبـوت کې ځلانـد ستوري دي یکسان
پــه دوی کــې اولــوا العزم رســولان دې نــازولي
درځار شمه ای خدایه! چې دوستان دې نازولي

موسٰــی (ع) دې نــازولی پــه امــسا، یــد بیــضا
د ګور مړي ژوندي کړې، دعیسٰی (ع) په دم دعا
بللــــي لامکــــان تــــه مهمانــــان دې نــــازولي
پوهېږمــه ای ربــه ج، چــې دوســتان دې نــازولي

چې زر کاله څوک بت ته په سجده وي پرېوتلي
که يو ځلې توبه کړي ستا په درکې شي بناغلي
قــديم رحيمــه خدايــه! بنــدګان دې نــازولي
خاونـده مهربـان يـې چـې دوسـتان دې نـازولي

جنت حورې غلمان دې کړل، نصيب د شهيدانو
بـري او سـر لـوړي دې کـړل پـه برخـه د غازيـانو
د ديــن پــه شــمع ســوځي پتنګــان دې نــازولي
يــاران دې نــازولي او دوســتان دې نــازولي

هر څو دې «***نبي خېل يونس خالص***» دی ګنهکار
توبــه مــې ده خاونــده يمــه تاتــه توبــه ګــار
نــازېږي حافظــان د خپــل قــرآن دې نــازولي
يــاران دې نــازولي او دوســتان دې نــازولي

۞ ۞ ۞

مولوي خالص "نبي خېل"

# نعت شريف

ستا حُسن ته دلبره يم حيران، ګوته په غاښ
يو زه خو حيران نه يم، ټول جهان ګوته په غاښ

چې تللې لامکان ته د نبيانو شوې امام
د هر اسمان ملکو وکړو تاته احترام
ملګری دې جبريل درته ولاړ و لاس په نام
شيدو او د شرابو دې کړ نوش د پيو جام

شول ځکه کائنات، ځمکه آسمان ګوته په غاښ
دوزخ او جنت هم، جن و انسان ګوته په غاښ

منمه خدای ورکړې وې موسیٰ (ع) ته معجزې
همسايې اژدها شوه، اژدها وې يې خوړې
فرعون او قارون سره وسلې وې، هم پيسې
دا لويه معجزه وه، ټول يې کړل ذرې، ذرې

قارون ځمکه کې ښکته شو روان ګوته په غاښ
فرعون د ایمان کاوه ارمان ګوته په غاښ

د ګور مړي ژوندي شول، د عیسیٰ(ع) په دم دُعا
یوسف علیه السلام د حُسن نه وه، انتها
ایوب(ع) غوندې صابر به، په دنیا نه شي پیدا
بې مثله سلیمان علیه السلام و، شهنشاه

خو دي ستا لوړ مقام ته، ټول نبیان ګوته په غاښ
ستا حُسن ته هک پک ماه تابان، ګوته په غاښ

«**خالص**» یم ګنهکار، خو توبه ګار یمه راغلی
شیطان، نفس و هوا یم، هرې خوا ته ځغلولی
که ستا په شفاعت، د خدای کرم مې شي ملګری
بدي به مې نېکي، عملنامه کې شي لیکلی

په ورځ کې د محشر به شي، شیطان ګوته په غاښ
لعنت به په ځان وایي، کافران ګوته په غاښ

۞ ۞ ۞

مولوي خالص ''نبي خېل''

# نعت شريف

ستايم كه دې ستايم، كه دې نه ستايمه، ستايمه
ستايم چې دې ستايم، خو چې څنګه به دې ستايمه

ستايمه خاونده، ته څښتن ج زه دې بنده يمه
ستا په ستايش كې بېرته پاتې شرمنده يمه

وايم، كه څه وايم نو دا ستا ثنا به وايمه
ستا په ستايش لويه څښتنه ج ژوندى پايمه

ته احد صمد يې، لم يلد ولم يولد يې ته
ته يې لم يزل او لايزال الى الابد يې ته

ستا په در کې پروت یم په سجده، لاس په دعا یمه
نه لرم اسره بله، بس تا ته په ژړا یمه

ته رحیم رحمان یې امید و نه شي بس تا و ته
بې له تا نه خدایه هیله و کړمه بل چا و ته؟

ډېر یم ګناهکار، خدایه تول ګناه ګناه یمه
بیا هم ستا بنده یم چې دې ستایم، خود ستا یمه

ډېر دې له عذابه خدایه زه یمه په ترهه کې
تا به څه لیکلي وي ازل کې، زما برخه کې

زیات مې امید و نه دي، چې هومره بې پروا یمه
ستا د مرحمت په هیله ژوند کوم هوسا یمه

تا چې راته راکړلو توفیق د بندګۍ خپلې
زه شوم هیله من الی الابد د زندګۍ ښکلې

هیڅ نه یم که څه هم، زه به هر څه ځان ته وایمه
ته که خلوص راکړې نو «خالص» به په رښتیا یمه

۞ ۞ ۞

میرویس "ملګری"

# نعت شریف

چـې پـه نـور یـې منـور ټولـه جهـان دی
پـه نـازېږو نـازولی د سـبحان دی

شـفاعت بـه مـو پـه ورځ د محـشر وکـړي
د امـت غمخـوره ډېـر پـر الله ګـران دی

زه قربـان یـې تـر روضـه سـمه سـل ځلـه
ټـول عـالم یـې و دیـدن تـه ور روان دی

کـه یـې اسم مبارک څـوک پـر خولـه راوړي
پـر ویلـی مـو هـر وخـت درود او سلام دی

کـه ور وغـواړي میـرویس وخپـل حضور تـه
د «ملګـري» پـر زړه دغـه یـو ارمـان دی

۞ ۞ ۞

میرویس "ملګری"

# نعت شریف

تـه یـې سـردار د ټـول عـالم زه دې ګـدا یـم
درود او ســــلام درباڼــــدې وایــــم
کــه نــصیب وکــړه یــاري
درځـــم پـــه عـــذر و زاري
پـر دربـه سـتا سـم سـوالي
کـه دې نظـر وسـو پـر مـا بیـا نـو باچـا یـم
درود او ســــلام درباڼــــدې وایــــم
د خپـــل امـــت شـــفاعت
وکـــړه پـــه ورځ د قیامـــت
چـې یـې نـصیب سـې جنـت
شـپه تـر سـهاره پـه دې فکـرو پـه سـودا یـم
درود او ســــلام درباڼــــدې وایــــم

ژاړو بــه ســتا پــر روضــه
تــه مــو امیــد یــې د زړه
نــازېږو ســتا پــه نامــه
چې هېر مي نه کړې زه غلام دي د درګاه یم
درود او ســـلام دربانـــدي وایـــم

اې نـــازولې نبـــي!
میــرویس دی ســتا امتــي
بخــښه کــوه یــم عاصــي
«**ملګری**» تل فدا، فدا تر خپل پېشوا یم
درود او ســـلام دربانـــدي وایـــم

۞ ۞ ۞

مینه "انتظار"

# نعت شريف

ځو مره خوږ یې ځو مره ګران یې محمد ﷺ نبي سروره
نــازولی د ســبحان یــې محمــد ﷺ نبــي ســروره

اولـین هـم آخـرین یـې ستا تـر نـوم دي صـدقه سـم
هم رسـول یې هـم جانـان یې محمـد ﷺ نبي سـروره

یـې لایـق د صـفتونو تـر تـا جـار مـي سـر او مـال سـه
د خـوږ منـو زړو درمـان یـې محمـد ﷺ نبـي سـروره

پـه قـرآن کـې صـفتونه ستا ، بې شمېره الله ﷻ کړي
پـه نبیـانو کـې سـلطان یـې محمـد ﷺ نبـي سـروره

ستا پـه مـخ الله ﷻ پیـدا کـړه واړه مځکـه اسـمانونه
تـه پاچـا د ټـول جهـان یـې محمـد ﷺ نبـي سـروره

۞ ۞ ۞

نذیراحمد"سهار"

# نعت شریف

یــو څــوک راغــی پــاس لــه خدایــه
د رڼـــا وړي يـــې تـــوی کـــړل
د تيـــارو لاســـونه لنـــډ شـــول
او پــه ژونــد يــې خلــک پــوی کــړل

د اســـلام د رڼـــا حـــوض کـــې
تــور حبش هــم پــه رنـګ سـپين شـول
د تـــوپير کرښـــې شـــوې ړنګـــې
درســت راتــول پــه يــوه آئــين شــول

۞ ۞ ۞

نقیب الله ''دلسوز، حقاني''

# نعت شریف

قربــــان دي ســـم د مـــدینې جانانـــه
پرمـــا یـــې ګـــران د کلمـــې جانانـــه

ســتا کلــی کــور راتــه یــاد یږي هــر دم
د بېلتانـــه ســـختي شـــېبې جانانـــه

لیـــل و نهـــار ســـتا د دیـــدار پـــه تمـــه
ارمــان مــي یــې ارمــان مــي یــې جانانــه

در وبــه لـــو یږم پــه عقبــا ګرېـــوان تـــه
زمــا شـــفاعت بـــه هـــم کـــوې جانانـــه

«***حقـــاني***» خــاوري ســتا قــدم تــه یمــه
څـــه ارمانونـــه نـــور لـــرې جانانـــه

۞ ۞ ۞

نقيب الله "دلسوز، حقاني"

# حمد شريف

چې سرکښته کړي و رب ﷻ لره مهم دی
دا بادار مې هم کريم دی هم رحيم دی

دا خالق او هم رازق او هم لايق دی
هر مسلم ودې واحد لره تسليم دی

که تکليف دی که نصرت د ده رضا ده
عبادت يې پر مؤمن باندې لازِم دی

د هر دوست د هر قريب يې خادمان يو
پر موږ پورا او پر موږ باندې يې تعظيم دی

«***حقاني!***» څوک فقيري څوک ګدايي کړي
قبلوه يې د لوی رب ﷻ مو دا تقسيم دی

۞ ۞ ۞

نقیب الله ”حقمل“

## د جانان وطن

ما نه لري چې دی پروت، وطن د یار دی
مدینې پسې زړګی زما بیمار دی

هلته تل وي خوشبويي او رڼاګاني
همېشه وي پسرلی ګلي ګلزار دی

مُدام جوړ د بلبلانو پرې چغار وي
هر طرف ته دي ګلونه او بهار دی

تسلي د زخمي زړونو چې پرې کېږي
هغه شین ګنبد او ښکلي يې منار دی

د حبيب ﷺ ښکلې روضه مې نه هېرېږي
هم انځور مې په زړګي کې د مزار دی

پرې بايللی خپل زړګی نقيب «**حقمل**» دی
دیدن غواړي له وختونو انتظار دی

۞ ۞ ۞

نقیب الله "حقمل"

# نعت شريف

پــه مدينــه کــي مــي جانــان دی
ورځم به کله
پــه زړه مــي ښــکلی شــان ارمــان دی
ورځم به کله
ورځــي حاجيــان چــي کــال پــه کالــه
لــه خدايــه ﷻ غواړمــه وصـــاله
لــري ســپين مــخ، مــاهِ تابــان دی

وي مـــدينې لارو کوڅـــو کـــي
نــه بــه خپــه وي پــه مــزو کــي
د رحمتونـــو پـــرې بـــاران دی

ځـو مره ښايئـسته مـو پيغمبـرﷺ دی
مــخ يـــې ځليـــږي لکـــه لمـــر دی
پـه انبيـا وو کـي بـالا او قـدردان دی

ســتا شـــنې ګنبـــدې، منـــارې تـــه
حبيبــه(ص)! ســتا ښــکلي روضــې تــه
د مـــدينې ښـــار پـــه مـــا ګـــران دی

«*نقيــب حقمــل*» ډېــر ګناهکـــاريــم
د ســـــپارش دي اُميــــدواريـــــم
چــې شـــفاعت کـــړي مهربـــان دی
ورځم به کله
پــه زړه مــې ښــکلی شــان ارمــان دی
ورځم به کله

۞ ۞ ۞

ننګیالی "بخرکی"

# نعت شریف

مــــوږ پــــه تـــا بانـــدي نـــازېږو
ســـــتا پــــــر لاره روانېــــــږو
لاربنـــــود تـــــه یــــې د وګـــــړو
تــــــــــردي لاره قربــــــــــانېږو
ســـتا پـــه نـــور دنیـــا روښـــانه
هـــم بـــه ســـتا پـــه نـــوم یـــادېږو

هـــم لاربنـــود یـــې و انـــسان تـــه
هـــم شـــــفیع و مـــــسلمان تـــــه
محمـــــد ﷺ خـــــتم النبیـــــین دی
اولـــــــین او آخـــــــریـــــــن دی
هـــم پـــه ده بـــه مـــوږ نـــازېږو
هـــم پـــه ده بـــه ســـتا یل کېـــږو

نــــــــــــازولی د الله دی
بـــې لـــه شـــکه مـــصطفیٰ دی
د الله پیـــــرزو پـــــر تـــــا ده
دا تـــــر لمـــــر لا هـــــم صـــــفا ده
زمـــوږ و تـــا تـــه عقیـــدت دی
د الله پـــــر تـــــا رحمـــــت دی

مـــوږ تـــه داســـي همـــت را کـــه
هـــم مـــو تـــه پـــر حـــق روان کـــه
بنـــده ګـــان وي تـــل عـــاجزه
خـــو پـــه زړه کـــي وي عزيـــزه
مـــوږ بـــه تـــل پـــه تـــا ابـــاد يـــو
پـــر دنيـــا او پـــر عقبـــا يـــو
کـــه هـــر څـــومره ګنـــاه کـــاريـــو
خپـــل نبـــي(ص) تـــه وفـــاداريـــو
زه «*بڅرکـــــــی ننګیـــــالی*» يـــــم
هـــم پـــه ده بـــه بريـــالی يـــم

۞ ۞ ۞

نوراجان "بهیر"

# حمد شریف

خدایه ستا ویلي خبري څومره ښکلي
تري قربان شه د دنیا ټولي غزلي
شپه ښایسته، د چا د نور له برکته
ستوري مسک دي، ورته خاندي سپوږمۍ غلې
ځمکه فرش په پرخه پرخه رڼاګانو
ستا ښکلا پرې څاڅکي، څاڅکي وریدلي
د ګل د ګل په پاڼه پاڼه کې دي وینم
که بورا وای، ټولي پاڼي مې زبېښلې
مابوسه د خدای ﷻ له تورو ده اخیستې
ځکه ما یې د کتاب پاڼي لوستلي
چي ستا شان پکي ستایلی وي، لوی ربه
«**بهیر**» هغه کلمې وایي سپېڅلي

۞ ۞ ۞

نوراجان "بهير"

# نعت شريف

ګـل يـې! بلـبلان د چمـن، سـتا د مـخ مـين دي
سـوي لـوي، تورلـوغړن، سـتا د مـخ مـين دي

خدای ﷻ ستاد وجود رنګونه، ټول پکي کرلي دي
دا پــه کاينــاتو مــين، ســتا د مــخ مــين دي

مينـي نـه منکـر هـم، سـتا د مينـي لېـوني دي
غـم دي وړي د زړه پـه لمـن، سـتا د مـخ مـين دي

۞ ۞ ۞

نوراجان "بهير"

# خپل محبوب ته!

هره ورځ مې زر ځېرې مخ ته تېرېږي
تورې، سپينې، غنمرنګې
هره ورځ مې سترګو سل ځوانۍ ليدلې
قد ميانه، ټيټې او دنګې
هره ورځ لس داسې ګل مخونه وي چې
شي مې سترګې څو شېبې پسې ملنګې
خو د خدای ﷻ په دې ښايسته ويړه دنيا کې
يو د خدای ﷻ په نور لړلی
ما لا هېڅ نه دی موندلی
بې له تا چې ته مې خوښ يې
ته مې هم نه يې ليدلی

۞ ۞ ۞

نوراحمد "فطرت"

# د حضرت محمد ﷺ آخري خطبه

پـر غونـډۍ د عرفـات وروسـتۍ خطبـه وه
پیغمبـر ﷺ اُمـت تـه کـړی دا خطـاب دی
زه پـه تاسـو کـې دا دوه شـیان پرېږدمـه
زمـا لاره ده، د خـدای ﷻ لخـوا کتـاب دی

دیـن، دُنیـا دواړي پـه ده سـره سـمېږي
خونـدور دی سراسـر ډک لـه عبرتـه
بـې لـه ده بـه د خیـر لاره پیـدا نـه کـړئ
د کتـاب سـره بـه شـناخت سـاتئ اُمتـه

د کـوچ ورځـې مـې نـژدې شـوې زه پـوهېږم
لا موقـع ده روغ صـورت دی ګړنـدی یـم
دا وصـیت نـو بایـد ښـه پـه غـور واورئ
ګُمـان نـه کـوم چـې کـال تـه بـه ژونـدی یـم

پـه احـسان سـره راځـئ د دوی پـر لـوري
لاس بـه نـه اُوچتـوئ پـر هغـو بانـدي
نارينـه کـه حـق لـري پـر خپلـو ښـځو
ښـځي هـم لـري حقـوق پـر مـړو بانـدي

پـه هـر ځـای کـي بـه همداسـي سـره اوسـی
لکـه نـن چـي دلتـه ناسـت یاسـت ګنـه ګونـه
خامخـا بـه یـو تـر بـل سـره جـارېږئ
مؤمنـان پـه کلمـه یاسـت سـره ورونـه

زه د خـدای ﷻ لـه قهـره تاسـي بېرومـه
درتـه وایـم دا یـو ډېـر زورور ذات دی
لازم دا پنځـه کارونـه شـول لـه نـن نـه
لمـونځ، روژه ده کلمـه، حـج او زکـات دی

د حرامـي نفقـې نـه ليـري ګرځـئ
پـه غلـط کاروبـار مـه وهـئ لاسـونه
زه پـه خپلـه نـن تـر هغـه ګټـه تيـر شـوم
چـي عبـاس پـه سـود ورکـړي وو مالونـه

بې لـه دې چې خاونـد کـړې اجـازه وي
خپـل ځانونـه بـه لـه داسـي مالـه ګـورئ
پـه ناحقـه بـه هـيڅ نـه ور وړئ لاسـونه
دا حـرام دی ډېـر بـه ليـري ځنـي ښـورئ

د رب ﷻ لاره د رسـول ﷺ طريقـه دا ده
د دې خلکو آزادي بهتره کار دی
نـور نـو هـيڅ غـوره خبـره تـر دې نـشته
د مريانو سره ښـه سـلوک پکـار دی

يـو انـسان د بـل انـسان پـه قـدر پـوه کـړه
پـه قـرآن کـي بيـان شـوې دا کيـسه ده
قدر منـه پـه مثـال ده وينـه سـتا سـو
لکـه نـن ورځ عرفـات يـا دا مکـه ده

نـسل، ژبـه، علاقـه کتـل ښـه نـه دي
عجـم وګڼـئ سـکه د عـرب ورور هـم
پـه تقـوٰی کـي يـو پـر بـل سـبقت پکـار دی
سـور پـر خـړ بهتـره نـه دی سـپين پـر تـور هـم

ډېره ښه غوره خویه ده باید وشي
معافي ده بهترینه طریقه بس
دا دی زه لومړی بخښم د خیر لپاره
وینه هم بېخي د زوی د "ربیعه" بس

چې پر لار د پېغمبر ﷺ قائمه اوسي
دا وګړي بهترینه د جهان دي
هر سړی به یې رڼا له کوره وینې
صحابه رض په مثال ستوري د اسمان دي

دا حاضر دي غیر حاضرو ته حق یوسي
ضروري ده سره ولاړ سئ لري لري
نن چې څه درته بیان پر دا میدان شو
مکلف یاست رسوئ به دا خبري

سوي چیغې په اُمت شوې سره ګډې
په ژړا دي اصحابان رض ځای د ارمان دی
نو یو سوال بیا پیغمبر ﷺ له خلکو وکړی
آیا ما در رسولی ټول قرآن دی؟

اصحابان رض په فکر ډوب دي سره ګوري

هر سړی متوجه په دغه باب شو

په وړو وړو کي ټولو پورته کړو لاسونه

په هو هو کي بدرګه د سوال جواب سو

۞ ۞ ۞

نورالباري "افغانمل"

# نعت شریف

نـن کنایـه او رمـز تـرې باسـم سـپینه، سـپینه کـوم
د محمــد ﷺ ســره تــر کچــي زیاتــه مینــه کــوم

محمد ﷺ نه ورکاوه ځای په خپل سپېځلي زړه کي
زه هـم لـه کینـي ښخــه ډېـره زیاتــه کینــه کــوم

ستا د صورت او د سیرت سره رب ﷻ مینه لري
زه د ســیرت لــه مخــي مینــه دي حــسینه کــوم

زه چــي هــر څــه و وایــم ډېــر وي د ادنــا درجــې
خــو چــي خبــره د حــدیث کــوم، مُهینــه کــوم

تــا د ایمــان پــه اُبــو زړونــه د ګنــاه لــه خیــرو
صــفا کــړه خــود بــه دي ســتاینه اې امینــه کــوم

د شـفاعت پـه کیلـي خـلاص کـړه راتـه ور د جنـت
پـــه ډېـــر ادب د غـــه غو ښـــتنه نازنینـــه کـــوم

۞ ۞ ۞

واصل "حسنيار"

# حمد شريف

ځـــو مره هـــستي لرمـــه خـــدای ﷻ لـــرم
ځکـــه پـــه ډېـــرو زړو کـــي ځـــای لـــرم

د سيند پـه مينځ کـي نـور لـه تنـدي مـري
زه پـــر ســـر ســـتوری د همـــای لـــرم

چـــي تـــر شـــتمنو هـــم شـــتمن ښـــکارم
ســـترګي مـــړې او زړه بـــډای لـــرم

د آزموينـــو پـــه بټيـــو کـــي ژونـــد
ولـــي بـــې ځايـــه هـــوی او هـــای لـــرم

ســـپرليه! راکـــړه د ځـــوانۍ لـــه شـــوره
«واصـــل» تـــر ټولـــو ښـــه اشـــنای لـــرم

۞ ۞ ۞

پای

ترعرشه تله پر شونډو يې دعا نه ځايېده
په زړه د آمنې کې نن مسکا نه ځايېده

ميلاد يې مبارک شه محمد ﷺ هغه نامه
په درسته دُنياګۍ کې يې معنٰی نه ځايېده

د ستورو يې ديدن ته سترګې سپينې تښتېدې
سپوږمۍ هم په جامو کې د رڼا نه ځايېده

له ترهې رېږدېدل لات و منات وکه عزٰی
په زړونو د بتانو کې درزا نه ځايېده

ګلونه له درانه خوب نه بلبلو ويښول
وزرونو د بلبلو کې نڅا نه ځايېده

له بار د برکته يې اوږې خوږې درنې
په څانګو د خُرماوو کې خرما نه ځايېده

د نشت خواته په منډه وه روانه ورک کېده
په غره کې هم د جهل اژدها نه ځايېده

ماشومې جينکۍ دي او نانځکې ودوي
شرنګ شرنګ وو په بنګړو کې يې شرنګا نه ځايېده

ډالۍ مې درته او ښکې کړې د ټول افغانستان
په سترګو د «**کاروان**» کې نور ژړا نه ځايېده

[پیرمحمد کاروان]